

Ketabton.com

ښاغلی قیام‌الدین خان «خادم»
د «روهی ګاونه» مؤلف

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

دپښتو ټولنې له خپرونو څخه :

دخپرونو لمبر ( ۷۱ )

# روهي ګلونه

مؤلف

قيام الدين « خادم »

دپښتو ټولنې ددائرةالمعارف دترجمې دڅانګې مدير

۱۳۲۵

دکابل عمومي مطبعه

(c) ketabton.com: The Digital Library

# زېرى

بلبلان پسې ناري وهي رحمانه ! دبهار گــلو نه شو يدى كه نه دى ؟

«رحمان»

* * *

دسو ندك مو ندك سپلى اخرى كيبزې په بلبلو زېرى وكره : بيا بهاردى

«خوشحال»

* * *

د گلونو قدر چا زده ؟

دبــلــبل يا دبو را زده

«خوشحال»

تقریظ:

# روهی گلونه

هرطرف ته نو بهار دی غوړېدلی
سترګی وخوره چه‌به دا ننداره نه کا
( خوشحال )

دا ښکلی ګلونه چه د ښاغلی خادم په زیار راغونډ شوی دی او د پښتو ادب مینانو ته د سوغات په توګه وړاندی کېږی ، هغه ګلونه دی چه پښتنو د پخوا نیو شاعرانو د زړه په وینو روزلی شوی دی.

خنګه چه تر اوسه پوری د پښتو ژبی په ادبیاتو کښی داسی یو جامع منتخبات نه و ، او ښاغلی خادم (چه د پښتو یو پیاوړی ادیب دی) په دې کارګوتی پوری کړی او بریالی شوی دی ، نو پښتو ټولنه داخپله وظیفه ګڼی چه د دی فاضل د ادستایلو وړ خدمت وستایی او په دې انتخاب ده ته تبریك ووایی او هم په دې ګلونو سره د هغو پردیسانو روح ښاد اویاد کړی چه دوی به د خوازه وطن په بېلتون کښی ویل :

قاصدان له روهه نه راځی مدت شو
سلام باد را رسوی منت ئې تم دی

او له خدایه غواړی چه داسی ډېر آثار پښتنو ته وړاندی کړی .

( عبد الرؤف « بېنوا » )
د پښتو ټولنی عمومی مدیر

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

# تهدیه

زه دا درنگ رنگ تا زه گلونو دسته هغه چانه په مخکښې ږدم چه تر هر چا اوترخه دروه په گـلانو مین دی !

دشاهانو ور کړه لعلو چواهر وی      دادب دخاوندانو ؛دزړه وینی

« خادم »

بسم الله الرحمن الرحيم

د لوی څښتن حمد او ثنا وایو . او دده په هغه لاستائی چه تر ټولو غوره دی ؛ او په آل اولاد ئی درود لیږو او ددې شکر کوو چه په لږه موده کښې مونږ د خپل ملت (پښتو او پښتو نولی) په خدمت کښې «چه زمونږ د مشرانو او خصوصاً د ګران ټولواک اعلیحضرت محمد ظاهر شاه رضامندی هم په دې کښې ده»
خومره چه کېدی شوه د هغې نه ډیر کامیاب شو . یعنی په کوم وخت کښې د پښتو خدمتګارانو زیات آثار ولیکل ؛ چه لږ له دغو څخه چاپ شوی دی ؛ او ډیر لا پاتې دی په فرصت کښې به چاپیږی او د ذوق خاوندانو ته به وړاندې کیږی .

په دغو آثارو څخه چه د پښتو په ادب کښې ورته ډیره اړتیا لیدی شوه دا کتاب دی چه د «روهی ګلونو» په نامه نن له چاپه راووت . دا کتاب د ډیرو پخوانو هغو شاعرانو د اشعارو انتخاب دی ، چه نن یې آثار ډیر لږ کېږی . دا اشعار او د دغو شعراؤ دیوانونه ما په ډیر کوښښ پیدا کړیدی . او په ډیر زحمت سره می تر دې مجموعه جوړه کړېده ؛ چه په خپل ډول او ترتیب کښې د نورو ژبو د یوې انتخابا تو ته هم نده ورته .

او داله دې کبله چه د پښتو شعراو ادب ځانته روح او ځانته لاری لری . ما دغه روح او دغه اسلوب په نظر کښې نیولی دی ؛ او هغسې می د کتاب د ترتیب نقشه جوړه کړېده . او بیا می دا کتاب لیکلی دی ددې کتاب په ترتیب کښې نوي خبره داده چه د تهجی تورو یا د ردیف او قافیې په لحاظ ندی ترتیب شوی بلکه په ترتیب کښې موضوع او معنی ته زیات اهمیت ور کړی شوی دی ؛ نو هر څو مره چه دا مجموعه یوه ادبی مجموعه ده ؛ او دا د ادب او شعر د نزاکتو او شاهکار یو څخه ډکه ده ؛ هغو مره د ژوند او زندګی د اسرارو خزانه هم ده !

په دغه شان سره د پخوانو کلاسیکی شعراؤ شعر په شپږو بابونو ویشل شویدی چه په هر باب کښې فصلونه دی ؛ او په فصلونو کښې هم ځانته ځانته عنوانونه دی . او د هر عنوان لاندی د مختلفو شاعرانو اشعار لیکلی شویدی . امید دی چه د قدر دانانو په نزد به زما دا خواری ځای و نیسی ؛ او په درنه سترګه به ورته و ګوری !

کابل – تسند وز سازی – قیام الدین خادم

(c) ketabton.com: The Digital Library



# لومړی باب

## مینه او محبت

لویه خدایه ، لویه خدایه ! ستا په مینه په هر ځا یه
غر ولاړ دی درناوی کښې ټوله ژوی په ځا ری کښې
د لته د ی د غر و لمنی زموږ کېږدی دی پکښې پلنی
داو ګړی ډېر کړی خدا یه !
لویه خدایه ، لو یه خدا یه !

دلته لښ زمو ږ اور بل دی وور کور ګی دی، وور بورجل دی
مینه ستا کښې مو نږ مېشته یو د بل چا په مله تله نه یو
هسك او مځکه نغښته ستا ده د مهر و و د ه له تا د ه
دا یا لنه ستا ده خدا یه !
لویه خدایه ، لویه خدا یه !

« بېت بابا »

۞ ۞ ۞

پر لویو غرو هم په دښتو کښې په لوی سهار په نیموشپو کښې
په غاړه ژغ او په شپېلکو کښې یاد وېر ژ لیو په شپیلو کښې
ټول ستاد یاد ناري سوري دی!
دستا د مینې نندارې دی !

جنډی زرغون که په بیدیا دی د بر بڼ خواته په خندا دی
ترناك چه خړدی په ژړا دی دا ټول اغېز د مینې ستا دی
ټوله ښکل دی ستا له لا سه
ای دیا سوالو یا سه یا سه !

که نمر روښانه مخ یې سپین دی یا دسپوږ میه تندی ورین دی
که غردی ښکلی پر تمین دی لکه هنداره مخ یې سپین دی
ستا دښکلا د ا پلو شه ده
دا یې یو سپکه ننداره د ه

---

لغات : هسك آسمان . مېشته : ډېره . ځاری : عجز . جنډی : گل . ترناك : دیورود نوم دی .

دلته لوی غرونه زرغونیږی　دژوند وږمې پکښې چلیږی
بوراوې شا وخوا کړیږی　سترګی لیدو ته یې هېښیږی
لویه خاونده دا ټوله ته یې
تل دنړی په ښکلیده یې

خاونده! ښکلی ستا جمال دی　ښکاره یې لوریه لور کمال دی
که ورځ که شپه که پېړی کال دی　ستا دقدرت کمکی مثال دی
ستا د لور ونو یوه رڼا ده
دلته چه جوړه تماشا ده

زړه مې داستا دمینی کوردی　سوی دعشق په سوځندا وردی
رب یې وتاته په هر لوردی　بیله دې هیڅ دی ورك یې پلوردی
ستا دجمال په لید و ښاد دی
که نه وی دغه نور بربادی

په غرو کښې ستادعشق شپېلکی دی　ددې نړی په عشق سمی دی
که غټ که ووړ که پنډه نری دی　ستا د جمال ځری هر شی دی
چه پردنیامې سترګی پرې شوې
ستا دجمال په ننداري شوې

نه هسك نه مځکه وه تورتم ؤ　تیاره خپره وه ټول عدم ؤ
نه دا ابلیس نه نی آدم ؤ　ستا د جمال سو چه پرتم ؤ
چه شو ښکاره ښکلی دنیاشوه
دپنځ پر لوری یی رڼا شوه

زه چه خرګند پردې دنیاشوم　د ښکلی مخ په تماشا شوم
ستا پرجمال بانډی شیداشوم　له خپلی ستړی را جلا شوم
په ژړا ژړام چه بیلتون دی
یمه پردیسی بل مې تون دی

وګرېو، ولې «متی» ژاړی　سورې یې اوری غاړې غاړی
څه غواړی، څه وایې، څه باړی　خپل تون او کورو کلی غواړی
چونډی چه بیل شی نیمه خواشی
تل یې دبڼ په لور ژړا شی

« شیخ متی : کلات بابا »

❀　❀　❀

---

لغات ـ هېښ : حیران . تون : ځای . چونډی : بلبل . بڼ : باغ

(c) ketabton.com: The Digital Library



الهی ! د محبت سو زو گداز را
تن پرور بلبل دې عیش کاندې پر گلو
که مې نزموبی په ویاړ دوزو ستر گو
چه نظر له ناتوانی و چا ته نه کا
چه مې نوی سر کوزی چا ته بې بنکلیو
اضطراب د حرص مې کړې له زړه گی اری
که مې نه فاشوې سرزید و عمر ته
خو به گورم د قیامت و ورځو شپو ته

چه خپل بر گئ په آب د چرخ نکرم سرسبز
چه مدام وی په چشمه د آفتاب ولی
چه کباب یې په گرمی ، زما ځیگر شی

چه بلبل یې و دیدن ته انتظار کا
که مې نه محتاجوې د صبا باد ته
سرخرو یې زما نصیب لکه لاله کړه

په اوښو کښې یې د کاملی گوټ پیدا کړ
په سجود یې مخکې سردی لگولی

الله مې رب دی زه یې مربوب یم
غرق په اوښو کښې کله اوبه وینې

د ده په حکم با لا پستی شی
نه تل بهار وی نه تل خزان وی

چه زما په چمن راشی گستاخی کا
چه آزاده د منکر تر سره پر یوځی
چه کشور د افغانا نو معطر شی
الهی ! د خپل حبیب له بر کته

په دااور کښې دستی(۱) سمند رسازرا
پروانه لره په اور زما گداز را
می د عیش په میخانه کښې د مجازرا
د هغو بیمارو ستر گو نازو نیاز را
له دولت د عشقه هسی کبر و ناز را
قناعت قوی لنگر دد ې جهاز را
خپل زانو لکه نرگس محرم راز را
دا انجام په دم قدم کښې د آغاز را

«عبدالمجید مهمند»

د همت علو پشان د کهکشان را
د سحر پشان درست عمر سپین دامان را
دلاله غوندی په جام مئی جوشان را

کاظم خان «شیدا»

تن و ماوته گلشن د هغه باغ را
بوی د یار د تورو زلفو په دماغ را
پرسینه له محبته هسی داغ را

«شمس الدین کاکړ»

ده ورکړی یکښې اورله مکان دی
هم یې زوړندېه رکوع سره آسمان دی

«عبدالرحمن مهمند»

بنده دده یم که خوب نا خوب یم
نعمت یې نه وینم په نعمت ډوب یم

«عبدالقادر ختك»

مستي خمار شي خمار مستي شي
هستي نیستي لري ، نیستي هستي شي

«خوشحال ختك»

د شبنم په څېر یې عمر یوزمان کړې !
د فلك په څېر مې توره د زبان کړې !
د هر بیت مصرع مې زلفې د خوبان کړې !
دا : ساده انشار نگینه درحمان کړې !

«عبدالرحمن مهمند»

---

(۱) په اکثرو نسخو کښې د (ستی) پځای (سهی) لیکلی شویدی ؛ خو موږ نتریې په معنی نیوهیږو «خادم»

الهی د مینی دردرا
کرم دل آهو نه سردرا
خلاص کړه ما له بې دردۍ
له دې هسې د لسر دی
زړه په شان د غنچې را کړه
آتشی ز ما مینا کړه

«کاظم خان شیدا»

بر هر چا چه حق یاد نشی ناتمام دی
بر کاغذ اول دده بنا م قلم ږده

«دوات لوانی»

## ب : داستا ځی په مینه

که رنما ده پیروی د محمد ده
که نه نشته په جهان بله رنما

«عبدالرحمن مهمند»

ړندي ستر ګې چه دزړه مې بېرې بیناشوې
یم پید ین د محمد آخر زمان خوبن

«عبدالعظیم رانیزی»

توره تاریکی تو له لدې جهانه لاړه
نور دپاك رسول چه په جهان کښې شه پیدا

«میانعیم متی زی»

ما مختار یکښې مذهب د حنیفه کړ
چه مختارؤ خود په ستورو کښې مهتاب

«پیر محمد کاکړ»

راغلم ووجود ته د حبیب له بر کته
شوم لکه ذره هسې په نمرسره اظهار

«پیر محمد کاکړ»

توره تاریکی تو له له دې جهانه لاړه
نور دپاك رسول چه په جهان کښې شو پیدا

«میانعیم متی زی»

پسه زر ګونو انبیاتر دنیا تېر شو
محمد غوندې بل نه ؤ پیغمبر هیڅ

«دولت»

## ج : عشق . . . ؟

هسې یې ګرځم دا زیړ رخسار له خلقو
لکه زرچه خوك له خلقو پټ پنهم ږدی
راحت نه دی بې زحمته چا موندلی
کوم طبیب دی چه په روغ صورت ملهم ږدی
زه هر ګوره خیل صنم پورې شرمیږم
برهمن چه سر په پښو دخپل صنم ږدی
و آسمان ته لاس د عقل نه رسیږی
داخو عشق دی چه په عرش کرسی قدم ږدی

«عبدالرحمان مهمند»

که د سر بند ل دشوار په ما و تا دی　　دا په عشق کښې سهل کاردي دشوار ندی
اند یښنه سری بیدار کاندي له خوبه　　کم اندیشه که بیدار دی بیدار ندی
«عبدالرحمان مهمند»

که په کار دي دسر وشونځوشیریني وی　　دخپل ځان په وینو سو رلکه انار شه
درحمان په عا شقی کښې سترګي وشوي　　خوك چه وایی عاشق ړوند دی هغه خوار شه
«عبدالرحمان مهمند»

عشق د نفس له خاصیته منزه دی　　کار دستر ګو به خوك خرنګ په دهانګا
«عبدالرحمان مهمند»

څه حکمت دیار په مینه کښې رب کیښود　　چه عاشق لره همدرد او همدوا شوه
دا باران نه دی چه اوری له آسمانه　　د مرغانو په رحمان باندی ژړا شوه
«عبدالرحمان مهمند»

چه په زړه باندی زرداغونه جوړشی　　چه دیار له داغه آه کا هغه ګرم دی
«خوشحال ختك»

زه تر عشق جار ېږم : تر هغو چه عاشقان دی　　واړه عشق یکار دی حقیقت دی که مجاز دی
رایشی له کومه ځای په خوو کا په زړه کښې　　هیڅ پري نه پوهیږم عشق یو څه سوزو ګداز دی
هی دخدای دیاره تفحص را پسی مکړه　　بلار ته وایه نشي عشق یو هسی مخفی راز دی
« خوشحال ختك »

عاشقان دعشق له کاره انکار نه کا　　فاسقان به په خپل زړه کښې لری غلا
« خوشحال ختك »

ځینی هوس کامینه په باغ لری　　خوك می پسر سته حب دا یاغ لری
داد واړه ګرو هـه بوالهو سان دی　　عاشقان مینه د زړه په داغ لری
« عبدالقادر ختك »

لیونی غوندی دعشق په کارو بار کښې　　دخپل ځان په سودو زیان نه یم هر ګز
« عبدالحمید مهمند »

که هر څومي تند تېزه توسن دعقل　　عاقبت شو په دنبال د مینی پا تـی
« میا نعیم متی زی »

دعشق یو سبق کافی دی　　نور ددرست جهان دفتر هیڅ
« صدرخان ختك »

عاشق ګرم او شوقی وی　　زاهد سوړ بی حمیته
چه دعشق په لاره درو می　　خالی ندی له تهمته
« دولت لوانی »

(c) ketabton.com: The Digital Library



خام خاطر مې مشوش وېه هجران کښې
چه تمام دعشق په اور وسو متین شو
«دولت لوانی»

معرفت ځنې پیدا شو
عشق د عقل پلارو مور دی
«مرزا خان انصا ری»

دغه عقل چه په عشق با ندې شیدا شو
دعرب په مینه گوره چه عجم مری
«مرزا خان انصاری»

وقبلی د عشق مخ د کل عالم دی
ودریاب ته ځی که سیل له هر جا پاڅی
« مرزا حنان»

په هرداغ می دخپل زړه هسی باوردی
چه په مرګ به راته شمع شی په گور کښ
« عبدالحمید مهمند»

که شهید نکړی خپل ځان دعشق په توره
نوش به کله جام دحوض کوثر نکړی
« عبدالعظیم را نیزی »

دسیماب په شان په لاس کښې نیوی نه شم
آئینی غو ندی هر و لی هر نا و لی
عشق را هسی گرم هم نرم هم لطیف
شی مهمان ځما په کور کښې بی تکلیف
« شمس الدین کاکړ »

هر یو زړه چه شی پیدا غه پکار نه دی
چه بی مهره شی بس ات هغه با طل دی
« مرزا حنان »

ته دعشق په لذتو نو خبر نه شوې
هغه چاری چه دعشق په جذبه کېږی
په سراب دځان مشغول کړ ، له دریابه
کله کېږی په لښکرو په افواج
« خوا جه محمد بنگښ »

جریده د عشق په لار ځم همراه نه لرم بې عشقه
بی رفیقه ، بی پناه ځم ، پناه نه لرم بی عشقه
هرساعت چه بیلتون یاد کړم په خپرد ادو فریاد کړم
څکړم چاو ته فریاد کړم ، نیکخواه نه لرم بی عشقه
مدام غوښې د زړه خورمه ، دزړه وینی به تل څښمه
څکړم څکړم چرته ځمه ، همراه نه لرم بی عشقه
معتقد یدا خپل رزق یم ، مبرا په زړه له فسق یم
واړه سرتر پا په عشق یم ، پوگاه نه لرم بی عشقه
دافقیر دولت نفی یم ، و گناه ته هوسی هم
خدای مې بیامرزه عاصی یم ، گناه نه لرم بې عشقه
« دولت لوانی »

عشق دی دا که یوفساد دی نه پوهېږم
په جهان کښې چه د اشورو شر پیداشه
پیا به روغ دعاشقی له رنځه نشی
په هر تن کښې چه د غه اثر پیدا شه
« عبدالرحمان مهمند »

باد شاهانو که قصرونه کړه آباد　　ماد عشق عمارتونه کړه آباد (۱)
نوم د کوم یوه بادشاه هسې یادېږي　　لکه نوم دی د مجنون او د فرهاد
عشق عاشق لره یوهسې پیر استاد دی　　چه په نه دی بل دا هسې پیر استاد
دغه واړه کرامت د عاشقۍ دی　　چه څوک غوث کاندی، څوک قطب څوک اوتاد
« عبدالرحمان مهمند »

د رحمان شراب له عشقه　　نه انګور (۲) نه له عنبه
« عبدالرحمان مهمند »

عاشقي ده خدای له اوره پیدا کړی　　چه په اور کښې یې وطن وي څه په خوب کا
« عبدالرحمان مهمند »

مدام ناست یم وچ کوکل ستر ګې په نم کښې　　عشق راوښود بحروبر په خپل حرم کښې
« عبدالرحمان مهمند »

دا یو څرنګه ژوندون دی نه پوهېږم　　خواب وخیال دی که افسون دی نه پوهېږم
د ښننګ او د بلبل ترمینځ حیران یم　　مخ دې اور دی که ګلګون دی نه پوهېږم
عشق په هسې رنګ مقام باندې قائم کړم　　چه وصال دی که بېلتون دی نه پوهېږم
د رحمان څېره یې زېړه زعفراني کړه　　خدای زده عشق دی که طاعون دی نه پوهېږم
« عبدالرحمان مهمند »

خود څر ګندوي لکه صبح په جهان کښې　　هر ګوهر وان چه په یارۍ کښې دریده شي
بې مطلوبه بې هیڅ فهم په چا نه وي　　هر طالب چه په طلب کښې فهمیده شي
یا به قند یا به نبات او یا به شهد وي　　هر کلام چه له رحمانه شنیده شي
« عبدالرحمان مهمند »

سر او مال مې شو تالا په تور د عشق　　لا مې ندی لاړ له سره شور د عشق
« عبدالقادر خټک »

چه د عقل په تدبیر مې عاشقي کړه　　پوهېدلی په تدبیر وم د د بیر کج
هیڅ مدد له عقله مه غواړه په عشق کښې　　د دغه طبیب دارو لري تا ثیر کج
راهبران دعقل واړه رهزنان دي　　لېږ د عشق له لارې مه بیا یه بهر کج
« عبدالحمید مهمند »

په هر ځای کښې ناست ولاړ زانګم له غمه　　مینې مخ راته د ځمکې ګهواره کړ
« عبدالحمید مهمند »

ته چه ما له عشقه اړ وې نا صحه!　　دا عبث دي پول د سحر په دریا ږدی
« شمس الدین کاکړ »

عشق دعقل په تدبیر چلاوه نشي　　په دې ناوې نه جوړېږي پسول د چا
« عبدالحمید مهمند »

---

(۱) په مجنونو نسخو کښې (بنیاد) راغلی دی (۲) دانګور په ځای که (خورما) وای، ښه به وای «خادم»

داجهان دی خدای له عشقه پیدا کړی،     د جمله وُ مخلوقا تو پلا ر دی دا
تر عشق غوره بل څه کار په دنیا نشته     تر همه کارو نو غوره کار دی دا
« عبدالرحمان مهمند »

بل به هسی سرگردان په جهان نه وی     یاعاشق دی یا آسمان دی یا آسیا
ته چه ژ غوري سرومال په‌عاشقی کښې     عاشقی دا هسی کله ده ویړیا
چه یی کسب عاشقی ده د دلبرو     نظر نه کاندی په کسب د کیمیا
« عبدالرحمان مهمند »

بېدردان دعشق له درده خبر نه شول     براهیم ځکه منت بار دا هل درد یم
« ابراهیم »

هیڅ می نزده محبت که او ر دی دا     په اور سوزم په رضا که زور دی دا
چه په تله د سرو مال راځخه نه ځی     وا قعی د تورو ستر گو تور دیٔ دا
چه یی زه له بله غمه په امان کړم     دعشق غم دی که زما غمخور دی دا
چه‌می‌ولیدو «حمید» دعشق په کار کښې     لیونی د مجنون کشر و رور دی دا
« عبدالحمید مهمند »

یاد ښکلیو دپا ولیو شرنګها ر دی     یا د عشق د لیو نیو د ز نځیر
« عبدالحمید مهمند »

بی رهبره یون دعشق په‌لاره گران‌دی     دلیه بویه چه پیدا کاندی رهبر څوك
« عبدالرحمان مهمند »

خپله مینه یی ر هبر پیر کامل دی     عاشقان ځکه طلب دبل پیر نه کا
« مطیع‌الله پیرخیل »

آرام زده په‌عشق کښې‌نشته سرله سره     خوب محال په هغه ځکه چه توده شی
« عبدالله پوپلزی »

چه اثر د مینې نه وی باندئ شوی     هغه زړونه گویا کانی د بېدیا دی
« ملا جمعه »

# غزلیات

که څوك یار په جهان غواړي یار دی دا  یار دی دا که دجهان سنګار دی دا
خیال دز افوې زما لـه زړه چا پیـر شو  که تر ګنجه چا پیر شوی مار دی دا
دا جهان دی خدای له عشقه پیـدا کړی  د جملو ؤ مخلو قا تـو پلا ر دی دا
تر عشق غـو ره بل څه کار په دنیا نشته  تر همه کا رونو غـو ره کار دی دا
بل بـلبـل بـه د ګـل تـوم ا خستـی نـه ؤ  که خبروی چه ګل نه دی خار دی دا
بیـا را تلـه و دی جهان ته بل وار نشتـه  بل وار نشته بل وار نشته وار دی دا
د حباب عمر دي وګـو ري چـه څـه دی  که څوك شمار کاندی دعمرشماردی دا
د مجنون صورت په زړه کړه رحمان ګوره  ستا په عشق کښې هسی خوار زاردی دا
« عبدالرحمن مهمند »

چـه یـی و لـیـد و ستـا حسـن بـیـحسا ب  له دي قصد ه تـاو پیدا شو د آفتاب
په آرزو یي د نرګس سترګی څلور شو ي  غنچه سره دزړه په وینو شوه غرقاب
ستاپه غم مې دوامده سترګي سرې ناغې شوې  که خیمی د ی سیاه پوشې سره طناب
که دي زلفې په مخ پیچ وتاب شوې ښایی  وبښته څه طـا قت لر ی د اور له تاب
در حمان بخت بـه هلـه له خوبـه ویـښ شی  که سترګي ورته پورته کړي له خواب
« عبدالرحمن مهمند »

کـه ساقی تـلخـه بـا ده در یا ی شور کا  د فلـك په جام به مست کله مخمور کا
آرا ستـه وی تل محـفل د خنـد ه ر و یـو  زمانه به د ګـل جام څرنګه نسکور کا
چه په لاس کښې یې تل چوب لـکه شانه وی  بی افسونه به نیو ل د تور منګور کا
د لتنګی کـړم لـکـه ګـل بـه خنـدا ور کـه  کـه مې بل دصبا باد به خونه او ر کا
چه په سر یې سبز آسمان زری دستار زدی  عا قبت یې لـکه شمع بیـا سر تور کا
لـکه ګـل کـړی ګـران بـا ر تـر دا منـئی  باد دي څه لـکه غبار به کتف سور کا
« کـاظم خان شیدا »

کـه ښکـا ره زما خا طر د لاله داغ کـا  په زړه به سترګي سرې د ګـلو باغ کـا
د حباب غوښـد ې مې دك پـه آه سـرد کړ  څوك زما به ګور به بل څرنګ چراغ کـا
افرو ختـه یې و ی محـفل پـه شان دشمـع  چه سوخته دبل په کـار کښې خپل دماغ کـا
د ګر دش نـو بت یی هیـڅ به ما د ا نشی  که سا قی د ز مانې ، فلـك ا یاغ کـا
زنګـه که هر کـله «شیدا» دتیغ جوهر خوری  دمګس په بال به څرنـګ استفراغ کـا
« کـاظم خان شیدا »

چـه مـی ولیـد ه ا بـرو پـه مخ دیار کـج  له تعظیمه ور ته زه شوم په تـلوار کج
کنږې ورو ځی کوږ با نه کنږې یې ز لفی  منا سب دی له کنږو سره رفتـار کـج
مار په دا سبب مـد ام کـږ فتـا ری کـا  چه یې ولیـد ه دا ستا د زلفو مار کج

هسې ژړا خلې اتر له همنشینه ‌ ‌ ‌ په سبب د کنړي ېنې شي سم بازار کج
چه معما ري اول خبته کنړه کښېنژ دی ‌ ‌ ‌ بیا ترسره پوری ځی هغه د یوار کج
ژربه وا چوی یار دار چار یای په خا کښ ‌ ‌ ‌ که یی یو ځله خوك وشکوی مهار کج
هیڅ جواب د پیغام نه راځی دیاره ‌ ‌ ‌ پسی زما شوه تورلیمه په انتظار کج

« شمس الدین کاکړ »

خوږ ژوندون راپوري هسی کړهجران تریخ ‌ ‌ ‌ لکه حال وی پربند پانود زندان تریخ
نو خطان چه د عاشق له ژړا بد و دی ‌ ‌ ‌ پرسبزه باندي نا وخته وی باران تریخ
په وصلت کښې له رقیبه نه خلا صیږم ‌ ‌ ‌ پرموسم د گل اوقات شی دباغبان تریخ
می حرام دی په مجلس کښ چه یار نه دی ‌ ‌ ‌ بی له گله وبلبل ته شی بوستان تریخ
چه می نوم ستا د هجران په ژبه وا خیست ‌ ‌ ‌ لاتر اوسه مي په هغه دی دهان تریخ
که فرهاد ته شیرین غم د شیرینی دی ‌ ‌ ‌ داستا غم کړ شیرین عمر پرحنان تریخ

« د مرزا حنان »

چه مي یار ولید په سیمه د اغیار گډ ‌ ‌ ‌ له غیرته می لیمه شوه په خو نبار گډ
د غه حق د بلبلا نو په جا نب دی ‌ ‌ ‌ خدای دنه کا مبنگیر کڅ په لاله زار گډ
په امید د زلفو و نښتم په دام کښ ‌ ‌ ‌ نو هیلی وم ساده دل په هندو یار گډ
ددیدن په گدائی کښې مي ننگ نه شی ‌ ‌ ‌ د رویز گریم د بتانو په بازار گډ
د وفا د گلو بیا نی پکښې نشته ‌ ‌ ‌ کاشکی نه وی زه ددهر په گلذار گډ
زه رحمان ئي د فردوس له غمه خلاص کړم ‌ ‌ ‌ چه په کلی په کوڅه شوم د خپل یار گډ

« عبدالرحمن مهمند »

دا تور خط راغی په مخ د گلعذار ‌ ‌ ‌ که غالب شوه په کشمیر باندی کفار
سپین رخساری په تورخط کښې هسی پټ شو ‌ ‌ ‌ لکه پټه چه معنی وی په اشعار
زما نه به بی سپین مخ دا هسی تور کا ‌ ‌ ‌ چه غرض اری د بل په کا رو بار
هر کارسازن په خپل کار کښې درمانده دی ‌ ‌ ‌ او به کله وړای شی گرځ دخپل رخسار

« شمس الدین کاکړ »

او ښو د فراق دستر گو خواب را خخه یووړ ‌ ‌ ‌ کور زما دصبر دي سیلاب را خخه یووړ
رنگ په رنگ ژړا کړم لکه نی دیار لغمه ‌ ‌ ‌ زړه مي په یوه نفس احباب را خخه یووړ
نه مي را برسېره کړ گوهر دعشق له بحره ‌ ‌ ‌ زیات یی لاآرام لکه حباب را خخه یووړ
تل چه یی هوس کاندی سره لاس وخونریزیءته ‌ ‌ ‌ سري دهغو ستر گو قصاب را خخه یووړ
یوطرف ساقی شو بل طرف شو جام دمیو ‌ ‌ ‌ عقل یی له میانه په شراب را خخه یووړ
وا چولم یار د جدائی په سره دیگ کښې ‌ ‌ ‌ روح یی زما دځان لکه گلاب را خخه یووړ
هیڅ یی نظرونه کړ زما وخا کساریء ته ‌ ‌ ‌ زړه مي سیا چشمو په شتاب را خخه یووړ
سینه خوله دیار چه په خواست زه شمس الدین غواړم ‌ ‌ ‌ خواست دهري ورځي دمخ آب را خخه یووړ

« شمس الدین کاکړ »

(c) ketabton.com: The Digital Library



زما زړه ګوره چا یووړ
په دوه زلفو لیلی یووړ
څکه دی شوبی ارامه
چه د زلفو بلا یووړ
چه په خپل قوت غره وم
زړه قوت په تالا یووړ
دا کتاب زما دستر ګو
سیلاب د ژړا یووړ
څه بازار چه مې د زړه ؤ
نن ستا حسن په غلا یووړ
حسن باج ؤ چا ورنکړ
ده جهان په یغما یووړ
ما ویل چه مینه نهکړم
زړه بېپروا که شها یووړ
قراری دزړه مې نشته
بېقرار ز لفو ستا یووړ
داتمام عالم ښادی کا
احمد غم دا شنا یووړ
«احمدشاه ابدالی»

ستا د زلفو خیال چه زه افګار ساتم همیش
هسې په سینه کښې ګویا مار ساتم همیش
زلفې دې سنبل مخ د ګلاب ستر ګې نر ګس دی
زه باندې باغبان یم دا ګلزار ساتم همیش
داله تلو سې نه چه پرقلب مې پېرزو نه شی
څکه په ځګر کښې ستا ازار ساتم همیش
خلق زهیر ښزی چه مجلس لره ور دروم
بس له دې به زه نور ځان کنار ساتم همیش
عکس درخسار چه دې زما په زړه کښې ګرزی
زه په خپل ځګر کښې سورا نګار ساتم همیش
زړه مې ستا له غمه همېشه آه و فغان کا
زه په خپل وجود کښې دا بیمار ساتم همیش
ستر ګې مې څلور شی ستا پرخواچه وعده و کړې
زه حنان له غیرو دا ستالار ساتم همیش
« مرزا حنان »

خط به مخ د صنم راغی که سپوږمی شوه په هاله کښې
دایې غابښ په خوله کښې زیب کا که ژاله شوه په لاله کښې
هسې رنګ سحر وجادو کا په نظر د شهلا ستر ګو
نه یې سیال په هند کښې شته دی نه ثانی په بنګاله کښې
لکه ونښلی مرغی په سست دام د سلو لومو
هسې زه پسر ښانو زلفو کښې یستم په کشاله کښې
دازما له غمه شین زړه یکښې خیال د یار دلبو
هسې رنګ زیب وزینت کا لکه مې په شنه پیاله کښې
ماویل عین ګڼ ګل دی دغنچې په لمن لښتې
که مې کوت یو ګل اندام وپروت په سبزه دوشاله کښې
شکلی مخ کا ولې ناسته ، په مجلس د رقیبانو
په جوار دسپو کښې نه وی هیڅ ارام په غزاله کښې
سرتر پایه تیغ دهجر لکه نی سوری سوری کړم
څکه یم مدام داهسې په فریادو په ناله کښې
که یار غوادې هومره ژاړه خو درځی عبدالحمیده!
دایه دا چه درموندهشی په دریاب ئه په ناله کښې
« عبدالحمید مهمند »

زه داهسې دېوا نه او مجنون چا کړم
له رواج او له رسومه بیرون چا کړم
نه پوهېږم چه داهسې چارې څوک کا
لېونی د خپل نګاه په افسون چا کړم
کومې ستر ګې کوم بانړه کومه غمزه ده
دوب شهید غوندې په خاکه اوبه خون چا کړم
نوان توفیق چه دفتنو را څخه نه ؤ
په فتنې د تورو ستر ګو مفتون چا کړم
رحمان هیڅ له خپله ځانه خبر نه یم
چه دا هسې رنګه زبون او محزون چا کړم
« عبدالرحمان مهمند»

زه دیدار په دردوغم کښې شادمان یم
لکه ګل دبر ښانۍ په وخت خندان یم
نه زما و بېکسی ته نظر مکړه
خدای ساتلی لکه ګنج په بیابان یم
لکه ونه د ځنګل په مېوه یو زه
په ویرا نه ویرانی کښې ابادان یم
یو ښتنه مې د صورت بې عشقه نه دی
څوکیدار په هر نفس دخپل کاروان یم

دو صال مارغه داو ښو دا نه راکړه ... لکه لعل ودر په غاړه د خوبان یم
د کاملې عقیدې له بره کته ... دروهی په غاړه ناست شاه جهان یم
روښنانی مې په طلب کښې شوه حاصله ... شېه اوروځ لکه آفتاب په لار روان یم
چه صفت د تو رو زلفو د اشنا کړم ... یلی ، سر په لو یه لار د هندوستان یم
بی مینه مې هیڅ حال د صورت نشته ... لکه بې مال ومتاعه تش د کان یم
دهوس بلبل ویسا را با ندې نه کا ... دافلاس په کبل بو تمی د خزان یم
دلبرانو ته خاك تر تلی لا ندې ... د دې نور جهان په سر لکه اسمان یم
چه دیار په دیدن سرو مال ښندمه ... خلقو واوری زه هغه عبدالرحمان یم

«عبدالرحمان مهمند»

زه دیار په درد و غم کښې غرقاب خوښ یم ... په داور کښې بېطاقته بېتاب خوښ یم
تر دا یوچی گفتگوی چه زه یې اورم ... په نغمه په ترانه د رباب خوښ یم
چه دیار دخط وخال ښې پکښې وی ... زوړ ند سر په مطالعه د کتاب خوښ یم
د ریا تر نا قبو له عبا د ته ... دسافی په میو مست او خراب خوښ یم
چه نه علم نه تسبیح نه تلاوت وی ... له دې هسې بیداری نه په خواب خوښ یم
دطوبی دونی سوری مې خوښ نه دی ... ستا دمخ په لمبو سوی کباب خوښ یم
خاموشی که هر څو لویه مرتبه ده ... زه دیار سره په سوال وجواب خوښ یم
دیار دهجر غمخوری یم عاجز کړی ... رحمان څکه په خوردن دشراب خوښ یم

«عبدالرحمان مهمند»

خوك چه بد راسره کا ورسره ښه یم ... هم په دا ښو دبدانو تل ز لېمه یم
له هغو مې څه اندوه چه په خوی اوردی ... په خپل خوی کښې سوړ اونرم تراوبه یم
چه وماته وزما عیب پښکښې را وړی ... ددی هسې یار له خدایه په غوښته یم
نور زما دی ، نار زما دنور و څه دی ... دیتنگو غوندې مخ خیر دځان په سوه یم
په ایرو یې مخ سپېره شی چه نفاق کا ... آینې غوندې مخ سپینه تور په زړه یم
چېرې نه وی چه به بل مخ وته گوری ... په هجران کښې خوښ دستر گو په واته یم
له نور چا گیله گله عبد القادر کړم ... زه خوار کړی خپلو ستر گو یم خپل زده یم

«عبدالقادر ختك»

مخ دې لکه نمر دې ورته څیر کتلی نه شم ... څکه یې دمدحې تر عهده وتلی نه شم
زده یې راغلبیل کړ دهجران په ناو کیو ... راز پکښې دیار د محبت ساتلی نه شم
اوس مې په معنو کښې ښه مېن دستر گو کسی ... کسی به د خلقو په ویل ایستلی نه شم

(c) ketabton.com: The Digital Library



زه یې د زنخ په څاه کښې بند لکه یوسف کړم
بند یې د حواس په پنجره زه عبدالقادر کړم

بی یی د زلفینو درسی ختای نسه شم
زده مې پرواز غوندې ولې الو تلی نه شم
«عبدالقادر ختك»

د خپل یار له مینې هسې دیوانه یم
که بی آهه یی ناڅې بې زغه سوزم
دخال خیال یی ماضعیف لره کافی دی
چه یی خیال ساتم د سرولبو په زړه کښې

چه خبر نه یم په کعبه په بتخانه یم
پر څراغ د مخ یی ډغه پروانه یم
د مېنې په دود قانع په لېږ دانه یم
دا په دا مدام د لعلو خزانه یم
« مرزا حنان »

په جنت نه یم خوښ هر گز په درد یار مې قسم
زده مې له نا وعده ه د وصل هر گز و نه لیده
پر وایه گل و په خار نکړم د جنون له فیضه
که مې سرولاړ شی ستا په مینه لاخوشحاله یم زه
تور بخت مې و نه لیده هیڅ ستا د کتا کل شب قدر
ستا د گلگون رخساراه شرقه زه حنان دا وښو

خوښ په لذت یم دخواری په اعتبار مې قسم
په ناامیدگی د توري شپې دانتظار مې قسم
په سینه صافه آئینه د نو بهار مې قسم
په تېره تېغ داستاد جور جوهردار مې قسم
په تورو مینگو ستا دزلفو په هر تار مې قسم
گلان کړم هره گړی په لاله زار مې قسم
« مرزا حنان »

زه چه مین دیار پر مخ یم نوبهار څه کوم
چه وعده و کړي دعفتی ترمیان کړي تېر گلونه
رضا دخان مې په رضا دخپل اشنا ور کړي
چه مې زده وړی په منگوله هغه یاردی زما
که د وصال په هوا راشی یکتنها دلبره

تماشه بې دیارله مخه د گلزار څه کوم
بې له وصاله نش دخوا یې خالی اقرار څه کوم
دا که مې تول دیار په لاس دی خپل اختیار څه کوم
نور حسن داره بی له ده دقندهار څه کوم
نور منتونه زه جمعه به د ربار څه کوم
« جمعه بارکزی »

سپین رخساردي وای سپین صبا شو قم
د صبا او د بیگا تر منځ حیران یم
سېر پندي غوندي قی کړی کولمې ناست یم
گنجینه شوم ستا د مینې له دو لته
چه میرا در سره نه وی قلندر ره!
قلندر په کومه بوزه لاړشی صوات له
د میرا صاحب له جوره قلندر ره!

تور کتا کلدي وای تور ه شپه دتم
نه پوهېږم چه غمز و کړم په کم
دهجران لاس مې و کاږی زړه وبم
اژ دهار را باندې گرزی دمبدم
تهچه صوات لره ورځې عذردی کم
چه میرا یی همراه نه وی هوس کم
دا یو، لاړو، السلام علیکم
« قلندر »

مغنی گوتې په ځیر ز دی په بم هم
ستا دعشق دغشی هسې ځای پرهار دی
ستا د زلفو مار چیچلی نه ر غیږی
تاچه مخ ورته ښکاره کړو لیونی شو
هغه راز د محبت چه پټ له تا دی
دخوښی پیاله په لاس کښې نن زما ده

هم ساقی شته هم بهار و صنم هم
چه ریښه پرې اېښودای نشی مرهم هم
په ستا نو په زیار تو نو په دم هم
پاتی د غرو نو په سر گرزی په سم هم
زړه خبر ور ځني نشو قلم هم
درد زحمت را ځخه و تښتېده غم هم

په لذت دي دسروشرنهو کوثر هیڅ کړ
د یوه لاس نغاره دا سی آواز کا
که ناستی دیار کوی په خاورو مو می

د شبنم دا نه که تخم شی د ګلو
چه یی نشه لکه ګل ښه رخسارونه
حال دسوی طالع څه بیان کړم چاته
معطل په عارضه د شام غریب دی
داسمان په شان یی تیز دقتنو تیغ کړ

پسرلی مې دخزان په تاتار تېر شو
اوس که ځان وهم که خاوري په سر اونم
لامي غټ ور ته په خیر کتلی نه وو
لکه نه پری پیکر هم پري رو وو
وه ورخ په دا غمز و شی عاشقانه

بی له یاره راښکاره ژوندون ذبون شو
چه دعشق په مکتب مادغه داستان اوست
دقلم په دود به چا که سینه ټی کړم
دحسرت ګوتي په غاښ کړی طبیبانو

سور پېزوان د په سروشونډو هسی زیب کا
دسرو ټیک دشهزاده په جبین پروت دی
دواړه لیچي دي وښکلي مصری نوري
ستا له غمه په ځان زده در حمان سوزی

پارسائی یی د پارسا له لاسه یووړه
چه مي کړي وه توبه له مي خواری
معجزه چه د احیاده په دوه لب یی
دلبرانو چه د عوی د دلبری کړه
را ته پاتي دا یوه مسلمانی وه
ماوې زه به دعشق راز لرم په زړه کښي
چه دزړه صبر دیار له سخه غواړم
که د نور و هوښیاری په عشق کښي پس وړی

د حیات او به لا هم د زمزم هم
دا افسر کلا به ستا نه دی دم هم
باغ بهار د سکندر دی ارم هم
« سکندر خان خټک »

زړه به سوړ به دیدن نشی د بلبلو
څوك به څه کاتوري زلفي دسنبلو
لکه نمر زما جبین دی د داغلو
که مي زړه په حلقه بندشو د کاکلو
صبح وشام ګرزی ښکاره په سر و منګلو
« کاظم خان شیدا »

مالا ګل بوی کړی نه ؤ بهار تېر شو
په هیڅ رنګ په پېر ته نه رازی وار تېر شو
لکه برق رخشنده په تلوار تېر شو
هم هغه رنګه تېز رویری وار تېر شو
چه فلانی هم لکه ګردو غبار تېر شو
« علیخان خټك »

اشتیاق مي دزړه مرګ وته افزون شو
هك حیران را ته فرهاد دویم مجنون شو
د مرجان په طور روپنی مي لړون شو
له قانون اوله شفی رنځ بېرون شو
« حمید »

لکه جیم په قلم ښکلی کاتبانو
شینکی خال دي محاصل په بند یوانو
در یوه بزم سر به بر ښکري د خوارانو
لکه شمعه په زیارت د شهیدانو
« عبدالرحمان مهمند »

دانائی ئی د دانا له لاسه یو وړه
په چشمانو یی زما له لاسه یو وړه
لاس په لاس د مسیحا له لاسه یووړه
دا دعوی یی دهرچا له لاسه یووړه
دا مي هم هغه ترسا له لاسه یووړه
دا خبره مي ژړا له لاسه یووړه
محبت مي دا دعا له لاسه یو وړه
دخوشحال یی لا به خوا له لاسه یووړه
« خوشحال خټك »

ستا د زړه سختي مې سر تر پايه وليده
سنګ به سينه دوړ کړي ستا له هسې سخته دله
نوره دنيا نشته چه څه وه را ښځه خلقه
وار په وار مې واخله په دلبرو و ښند له
يار مې هغه وخت وي چه په شيشه به سره ناست وو
شمعې به ژړا کړه صراحي به خندېد له
ګل چه شګفته شي عندليب باندې زاري کا
نشته يو ه ښکلي چه ي ي و بو لم بېدله
تل ګونه وهلي هر زمان ساده اهو نه
ما چه عاشقي کړه خود به ما به دا کېدله
سري لمبې بې بلې د خوشحال خټک په زړه کړې
سور خت يې اغوستي به دا لاري تېر بدله
«خوشحال خټک»

مست يم مې پرست يم رندي کړمه کړمه
واوره محتسبه! باده خورمه خورمه!
نور شراب مې واخله تور عالم وته بخښلي
لام و نې مې مجادلي پسې مرمه مرمه!
موړ به څښلې نه شم زه د مېو مستسقي يم
تل که هسې د کې پيالې چښمه چښمه!
لار د محبت زه تل به روغ سلامت نه وم
زه چه په دا هسې لاري تلمه تلمه!
څه وايي وماته حال د څوک په هجران کښې
نور خبر دار نه يم په زړه سومه سومه!
خلق راته وايي رنګ دې بيا زېړ شو عاشق شوې
هيڅ منکري نکړم خلقه شومه شومه!
دوړ د عاشق دادي چه په عشق کښې ملامت وي
ځکه زه خوشحال ملامت وړمه وړمه وشړمه!
«خوشحال خټک»

توره چه تېر يږي خو ګذاره اره کنه!
زلفې چه ول ول شي خو خپل ياره لره کنه!
ولې راته وايي چه په ښکلاو نظر مکړه
سترګې چه پيدا دي خو ديدار لره کنه
شيخ دې نمونځ روژه کا زه به د کې پيالې اخلم
هر سړی پيدا دی خپل خپل کار لره کنه!
تا وې چه زما د خولې بوسه الکه دا روده
غواړم دا دارو د زړه پر هار لره کنه!
وينې مې د زړه خوري مګر نور څه لره نه دي
زړه زما پيدا دی تا خونخواره لره کنه!
څه ژړا فرياد کړې د شپې د تورو زلفو
نور تلې په خپله دي ښامار لره کنه!
خو د به ستا دمخه د ګياه غونډې څر کندشي
ګل د لاله را وړه خپل رخسار لره کنه!
مې شته چنګ وني شته د خپل يار سره خوشحاله؟
خپل باغ په لاس کښې څه ګلزار لره کنه!
«خوشحال خټک»

اکه مخ زما د يار دی نمر خو هسې وی کنه!
اکه زه په عشق کښې زېړيم زېړ خو هسې وی کنه!
د عالم د بېرې خبرې اور به اور تورې لښکر يې
زړه مې نه خوځي له ځايه غر خو هسې وی کنه!
بې د عشق له شور و شره چه هر ګز زما له سره
نه ځي نور څه هر څه درومي سر خو هسې وی کنه!
چه بې ريم عمل لا کا چه بې ورک کړي ځان پيدا کا
ورځ د شپه دا هسې کر کړه کر خو هسې وی کنه!
تا وې درومه او م مې زبر کړه بل سبق له زړه اېر کړه
تل مې نه يې په خاطر کښې زبر خو هسې وی کنه!
وهغه ته مې سر کوزدي چه معلوم ورته رموز دي
په خبره نه پوهيږي خر خو هسې وي کنه!
چه آزاد مري ورد رومې خپل مراد ور څښي مومي
په هيڅ ځای دی تړلی ور خو هسې وی کنه!
په يوه زمان تر ياره ور شي راشي خو ګذاره
د خوشحال خاطر تېز پردې پر خو هسې وی کنه!
«خوشحال خټک»

د وفا خبر پیدا ران دي پل خوا دروغ
دا متاع د زمانې په دکان نشته

مګر ځان وسپاري خدای ته په امان شي
ګنې بل خوا اته د هیچا امان نشته

هغه یار به زه و ګورې خواته غواړم
چه یې هیڅ پېرې منزل او مکان نشته

دلبران که هر څو ډېر دي په جهان کښې
زما یار غوندې د نبر په جهان نشته

چه هم قد لري هم زلفې هم سرې شونډې
دغه هسې رنګ آفتاب په آسمان نشته

عشق عاشق لره یو هسې ګلستان دی
چه وباغ و ته یې لار د خزان نشته

که مجنون غوندې په عشق کښې څوک صادق شي
د لیلی په دروازه کښې دربان نشته

دا نایان به د رحمان په قال پوهېږي
داته کار د هر نا اهل و نادان نشته

«عبدالرحمان مهمند»

ستا په مخ کښې چه حساب د جمال نشته
هیڅکه ما څخه د صبر مجال نشته

ته د سرو د مال وېره په ما مکړه
وېره ما څخه د سر او د مال نشته

روښنائي مې د چشمانو ستا دیدن دی
په دا کور کښې بل چراغ او مثال نشته

په جویبار زما دستر ګو سروته یې
په دا نهر باندې بل څه نهال نشته

مخ دې بې له خط و خاله هسې زیب کا
چه یې هیڅ حاجت په خط و په خال نشته

ستا په یادو کښې رحمان هسې مشغول دی
چه په زړه کښې یې نور هیڅ غم و خیال نشته

«عبدالرحمان مهمند»

ګنج و عقل زار شه د عاشق د خاخکې او ښې
نه خروار د عقل سه د عشق یوه دانه

تیغ دیار له لاسه په مرې د عاشقانو
هسې لذت کا لکه د میو پیمانه

خدای لره به ورسم په سودا دیار له مخه
بل مقصود مې نشته په کعبه په بتخانه

څه که زاهد زهد کا د یو جنت د پاره
سر بلند لې نه شي په ور بل د جانانه

ګوره د منصور هسې په دار نه شي رحمانه
مګره دا د عشق خبرې مې ستا رندانه

«عبدالرحمن مهمند»

په ګلونو اواز ورو کړه بلبله !
پر پښا نه پېږي ستا د شور له غلغله

عقل و هوش عزیز تر هر څه ښندل نه شي
ته یو څه رنګه ډېر ګران یې د مل مله!

خدای دې وکا چېرې چوخ په دې په بېهوشي
قدم ورو ږده در ابېلو به ګل ګله !

ومطرب ته مینا وایې وایه وایه !
دا معنائې پېدا کېږي له قلقله !

صدقه یې هم تر پسل عبدالقادر شه
څه قدرت لري چه وایې اه دل دله !

«عبدالقادر خټک»

وینځه که اصیل او وي که توره وي که سپینه
کښلې شي له حور و چه پرې ور شي د زړه مینه

شهد که څه بات دي که شته شیریني نورې
مینه که ئې ګورې چه تر هر څه ده شیرینه

خیال یې د زلفینو لکه مار و رباندې پروت دی
نه پرېږدي و زړه ته بله مینه چه ور ځینه

سل زخمه که و خوري توې به یو څاڅکې پرې نو ځي
هسې رنګه وچه د صورت کا مینه وینه

خوب به یې بدل په بېداري خوښي پرې و ېرشي
هر چه یې په زړه کښې د دلبرو مینه وینه

یار په هوا دندي که د زړه مینه پیدا کړي !
مینه هسې خیز دی چه نه زدې لري کوینه

څه عبدالقادره ! په خوله مینه مینه وایې
خو دې لاو سچاره نده مینه نده مینه

«عبدالقادر خټک»

چه له خپله اشنا نه لری گرځه
له نور چا به په نور څه لری گرځه
انگوری ترخه شراب ور اره بویه
میخواران له گبینه لری گرځه
چه بی تا یې غروم د بل و مخ ته
به دا خوی له ما نېمه لری گرځه
هیڅ ایستادي بکښې ونکړتري پرېوت
له ناو که یې مي زړه لری گرځه
چه جارو مي ستا د در د خاورونکړه
ډېر زما له ما بیا نه لری گرځه
بد و بد و ته ښکاربېږی ښه و ښه ته
ښه له بد و بد له ښه لری گرځه
ښه که سرؤ تری قربان عبدالقادر کړ
بیا تري والي یار له ده لری گرځه
«عبدالقادر ختك»

ننداړو له راځی چه پسې ځو نه
په اختر به ځلمی جونه کا سیلونه
ته به وایې مخ یې گل د پغمبرشی
چه یې د ..ه پسه مخ ووهی خالونه
چه په سیل د بهار د گلو گرځی
ځلمی گل به پگړی ږدی په‌اوربل جونه
ځینی دواړه زلفې ډکی کا له گلو
څوك به غاړه د گلونو کا هارونه
زیړ او سره نمری اغوستی گلرخانو
وایی سبز و نې و نیول گلونه
چه گلو نه ټولوی سندرې وایی
شرمنده کا د بلبلو اوازونه
درست‌صحرا په‌خوشبوئی سره‌خوشبوی کا
په هغه ځمکه چه کېږدی قدمونه
چه له سیله را روانه شی و کورته
گل لمن ، بلبل یې نیسی آستینونه
چه له هسې ننداړو نه ځان وباسي
شیخه ورك دي شه پېو څه خلوتونه
له لیدل د ښایسته ؤ بکښې نه وی
چا به څه کړه اته واړه جنتونه
که اوازدی که‌لیده د روح خوراك‌دی
نفسانی دي باندي نکا غرضونه
تېر شو وار عبدالقادره ! را به نشی
که زرا کړي که فریاد کړی که آهونه
«عبدالقادر ختك»

څه افسون دي په ما وکړ پرېزاده
چه یودم نه یم خالی د تا له یاده
زړه مي ډك لکه سپند دی شعله پویه
که د زړه په فراد و کړم څوفریاده
په‌هاره ددي غرض مگر شاه کړي
ته یې لاس ورودې و زلفوته شمشاده
چه اواز دي د تېشي په کهسار نشته
د شیرینې په طلب لاړي فرهاده
په‌اسباب کښي مي زړه‌بند په‌اسباب ندی
د چمن په قید سرو ده آزاده
مهیا ورته قفس د ښاخ د گلو کړه
که څه رحم په بلبل کوي صیاده
چه په هرمنزل کښي سرخوری لکه‌شمع
د هغه لاري څه نفع ده له زاده
په سختی کله امساك د دولت کېږی
جوهر نه ځی په هیڅ وخت له فولاده
همیشه یې پیچ و تاب لکه جوهر وی
چه شیدا راغی تر دا حیرت آباده
«کاظم خان شیدا»

زه چه مست په‌لب دیاریم‌هیڅ حاجت دشراب نشته
اور دعشق‌مي زړه کباب کړو‌هیڅ‌حاجت‌د کباب‌نشته
تمام‌تن‌مي‌وچ لرگی شو، رگ‌مي‌تاردر باندي‌پرېوت
زیروبم اواز تري‌خېژی هیڅ‌حاجت درباب‌نشته
پرېرهار نمکپاشی کړی چه پرسش کړی له ما نه
حال‌مي خود ورته‌معلوم‌دی،هیڅ‌حاجت دجواب‌نشته
لکه مرغ نیم‌بسمل‌یم تپش کړم په ځمکه باندي
ځان‌مي‌ور کړ ستا په‌عشق کښي‌هیڅ‌حاجت دقصاب‌نشته
«خوشحال شهید»

(c) ketabton.com: The Digital Library



سحر دا آوازمی غوږ پوست له بلبله
ستا خندا په ژړا کښي پېتلم ګله !

ترمستي يې لا لذت د خمار ډېر دی
ستا د ستر ګو مستي بيده ده ترمله

ښا ښته د زمانې د نيا پرست وی
په کوڅه کښي يې پل مه کښېږده بې پله

په چغلی مي ستا ؛ په يارمينه زياتېږی
څو دي زړه هومره چغلي کوه چغله !

ساقي مي چه را کوی يې په قهقه خانده
زړه کړه دا د صراحی له قلقله

د ليدونکو په نظر کښي تفاوت وی
او که نه وی خبر جدا نه وی له کله

په پريشانو اندېښنو خاطر پريشان شي
جمعيت مومي خاطر له توکله !

چه ستامخ ورنه حاضر وی ګل به ګوری
دغه ستر ګی دي دخدای نکابی ګله

د مجلس روښنائی ته يې ته دی استيې
کوم نقصان دی که صبا کړه ډېوه ګله

دا دنيا په مثال پل د آخرت دی
تېرشه زر عبدالقادره له دی پله

«عبدالقادر خټک»

سرو که ليده شی د چمن تازه تازه
ستا حسن تري وينم ماه من تازه تازه

زلفي دي سنبل دی يا ښامار دی په چندنو
يا دوازده نافی دی دختن تازه تازه

ګوره ستاله مينې زړه يې ډك دی وينې وينې
رحم کړه شيرينې په کوهکن تازه تازه

سازدی ښه مجلس دی ښه ياران دی سره جمع
وايه ای فاضله ! هر سخن تازه تازه

«فاضل»

❀ ❀ ❀

زه اول هم ديوانه وم ، ديوانه يم لا تراوسه
له دلداره همخانه وم ، همخانه يم لا تراوسه

له طفلی نه عاشق و شوم ، غم طلب او بلا کش وم
ددلبر د مخ په شمع ، پروانه يم لا تراوسه

زه هلك هم افسانه وم ، له عالمه بيګانه وم
ترخلو ښتو کالو تېر شوم بېګانه يم لا تراوسه

چه عاشق په جانانه شوم ، له اغيارو کرانه شوم
تورو ښتهمي د سر سپين شو ، کرانه يم لا تراوسه

چه داخل د يار په صف شوم ، د تهمت د تير هدف شوم
عام و خاص مي وائه ولی ښانه يم لا تراوسه

تل راضی يې په قضاوم ، هم صابر يې په بلاوم
عذر نلرم له حکمه ، بې بهانه يم لا تراوسه

د شيرين دلبر له لاسه ، ماشراب د عشق بې قياسه
څوبې حده مي ډېر وڅښه ، فرزانه يم لا تراوسه

دا فقير دولت يو مست يم ، د اشنا په مينه هست يم
پسه ازل مي شراب څښلی ديوانه يم لا تراوسه

«دولت لوانی»

❀ ❀ ❀

ناست يم ستاله لاسه زړه يا ره سينه افګارره
ته له مانه څه غواړې فلکه ستمګاره

ته يو موش ګيرك بې لايق نه بې د ګلو نو
ولی بلبلان شړې کمبخته ! له ګلزاره !

يار دې له ما بېل کړ تا خو هيڅ ښادی و نکړه
وايه څه دې وګټل رقيبه دل آزاره !

يو دې د هجران په تنا ره کښي لوغړن کړم
بل دې د رقيب سينه رايخه کړه دلداره !

(c) ketabton.com: The Digital Library



هر یو گل یی خار شی په لمن زما څو څېرې
نه چېنه د وفا طمع کوي له سرو قنده
غوڅ وي قلندر په تېغ د هجر کړی نیازه!

څوك چه ستا په مینه کښې وما ته کا پندونه
زده مي که نادان په لاس کښېومات له که شیښه شو
او شپې دبا نو په سر چه راشی نه در پرېږی
نه شی څوك سا تلی سره بخری په گرېوان کښې
نه دی چا موندلی ښاپېری په دو شا لو کښې

چه صبا یی په هر گل باندې طواف کا
د پتنگ په دود د ځان په سوور ضایم
همیشه د گل په بوی زه شمس الدین ځم
میل نه کا را ته باز د یار د ستر گو

څونې له وصله نه شوم د هجران له غمه زه
خلق را ته وایی چه زحمت دې لاد وادی
سر دې په جهان کښې د همه وا ړو ښا دی و
لوس په اه دې ورو سته دخپل یار په غم اخته شم
غېم دې له از اه په نصیب د عا شقا نو
ما عبدالقادر چه دا غزل د فراق و وې

یو غوا ړم له یاره ښه دیدن تازه تازه
ځکه بلبلا ن چغار کوی په تازه گلو
یو زمان له مد حې د دلبرو مه در پرېږه
زړه چه در قیب زما په بد سره ښه کېږی
آه کوی له دله په فریاد له زیر گلمه
بل فکر مې نه کېږی بې ستا له گفتگو یه
مه کړه په جفا سره ازار د بلبلا نو
ستر گی مي خیره شوی چه ولاړ یې زه دې گورم
زړه د یونس چوی ستا د هجر له سختۍ

سېر د گلو نو چه کوم بې له خپل یاره
سروبه هیڅ لیدلی نه وی میوه داره
مه کوه میرا! نوره جفا درب دپاره!
« قلندر »

وایه بېفائدې زدی ابا سینه لره بندونه
نه شی څوك ایښو دای وشیشو ته پیوندونه
ندی چا بند کړی په گیا سره سیندونه
ومي سول پاه سره د صبر در مندونه
وا خله قلندره! په میرا پسې کندونه
« قلندر »

زه هوس د هغه باغ لرم له شوقه
ځکه مینه پر څراغ لرم له شوقه
په خپل یار پسې سراغ لرم له شوقه
تل په لاس کښې پردی زاغ لرم له شوقه
«شمس الدین کاکړ»

نه کړم په گل مینه دخزان له غمه زه
لا به چه یې خلاص شوم د درمان له غمه زه
نه دې شم بېغمه د جانا ن له غمه زه
ډېر په زړه زهیر شوم دجهان له غمه زه
ځکه ته خلا صېږم یو زمان له غمه زه
رشك به کړم په اوښو دباران له غمه زه
« عبد القادر ختك »

بل در قیبا نو ځا نکښېدن تازه تازه
نه به مدام گل وی نه چمن تازه تازه
تل دیارله وصفه کړه سخن تازه تازه
مکړه په ازار زما د ښمن تازه تازه
وا وره له بلبلانه ښه گفتن تازه تازه
شېر شکرې وایه له دهن تازه تازه
شه خوبه وفا کړه انجمن تازه تازه
وکړه به دا لوری آمدن تازه تازه
شه خوبه خپل مهر کړه غمجن تازه تازه
« یونس »

ښه مې ولیدل په سترګو واړه ښکلي — چه تر واړو لاتېری کا جمال ستادی
د دنیا په مخ به ډیر وی ښه مخونه — چه ترهر څه ډېر لذت کا وصال ستادی
د واړه زلفی د حلقه کړې لکه لومې — چه دانه دی په دالومه کښې خال ستادی
دوړه ښې ګلګونې سرې په دماغ درومې — ګوره بیا څو مره وګړی پایمال ستادی
ته کشتن د غمزې کړه مه ودرېږه — مقتولان قبول کړی وبال ستادی
که همه دخلقو ښکلي سره تول شي — خسته زړه مې په تولی کښې لیوال ستادی
چه دې څوك په کوڅه تېر شی نور مین شی — چه تمام له عشقه روغ دی دیوال ستادی
که مثال د صورت غواړې ګوره میاشت ته — چه پوره د دوه هفتو شی مثال ستادی
چه صبا بیګا یې لوند لرم په اوښو — یادګاری راڅخه پاتې رومال ستادی
څو ریار درسره نه بیایې دوړاندې — چه په چم به یې تېرېږی محال ستادی
که په قهر یې شړې په لطف یې بولې — چه یې نه پرېږدې په هیڅ کښې خوشحال ستادی

« خوشحال ختك »

مخ د یار شمس و قمر دری واړه یو دی — قدې سرو صنوبر دري واړه یو دی
حاجت نه لرم په شهد و په شکرو — لب دیار شهد و شکر دري واړه یو دی
که بی یاره په بستر د پاسه پروت یم — نارو خارو دا بستر دري واړه یو دی
چه ودر او ودیوار ته یې نظر کړم — باغ بوستان او دغه در دري واړه یو دی
چه غبار یې د کوڅې را باندې راشي — دا غبار مشك وعنبر دري واړه یو دی
خدای دیار له هجره هیڅوك خبر مکړه — تاخت وقتل و دا خبر دري واړه یو دی
هغه دم چه سړی د رومي له جهانه — توري خاوري سیم وزر دري واړه یو دی
قلندر که په رښتیا قلندری کا — خان سلطان او قلندر دري واړه یو دی
په دکان د نابیناؤ جوهریانو — خرمهري لعل و ګوهر دري واړه یو دی
دا پیران دې عار زما له عشقه نکا — پاك عاشق پیرو پدر دري واړه یو دی
په سبب د ظالمانو حاکمانو — ګور او کور و پېښور دري واړه یو دی
غزا وشوه که خان ستانی ورحمان ته — بی هنرو ګاو خر دري واړه یو دی

« عبدالرحمن مهمند »

تور ګیسو د په چنډ نباندې ښامار دی — تورې زلفې دې سنبل د نو بهار دی
توري سترګې دې هوسۍ دی خطا شوی — چه وخرو ته پرتې په سنبل زار دی
توري ورېځې دې لیندې باندې غشې — عاشقان یې زخمي شوی په ګذار دی
مصفا تندی دې ښه دی تر بلوره — بیدلان یې په سرونو خریدار دی
دغه خال چه دې دورو ځو په پیوند دی — دخطا د ملك اصلي نافې ترې جار دی
سپینه پوزه دې غوټې د زنبق ده — چه چاپېر ترې نور ګلونه د ګلزار دی
ښنا ګوښ د نسترن دی غوړېدلی — د چنبې تر ګلو به د واړه رخسار دی
سپینه خوله که دې غنچې سره نسبت کړم — د غنچې غوټې کله شکر بار دی
دواړه سرې شونډې دې ښې دی د سرو لعلو — سپین غاښو نه بی بها در شهوار دی

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښایسته زنه د سیب د سمرقند دی — چه خوا ږه یې تر ښاتو نه بسیار دی
عمر احی د سپینو رو سپینه غاړه — سیم اسا اوزي دې هم په دغه شمار دی
واړه تن دې د حلب تر ښیښې صاف دی — چه را زونه دد رون تري نمودار دی
سپینې لېچې دې و ښکلې مصري توری — چه خو نونه یې په غاړه سل هزار دی
د یاقوتو نیګینې دې سره نوکونه — ځای په ځای دې په اوزوباندې قرار دی
چه مې ستا د تیو ښه ننداره وکړه — هغه ګلك به لذت دې خوازه انار دی
د نامه غوټې دې ګنده د ګلابو — کینږ اوښی د ګلو پانې پرې انبار دی
د نامه ناښکته دم و هلي نه شم — هم هغو زده چه خبر په دا اسرار دی
د پنډو تر صفت دې نه رسېږم — ولې سپینې په سپینو الی تر چتار دی
سپینې پښې دې د زنبق د ګلو پانې — دیښو گوتې دې ګلونه دانار دی
تمام قد دې په مثال د شبرونه — در پنده یې سم په مثل د چینار دی
سر تر پا یه نندا ره بې ځان دې جوړ کړ — ترتا جار واړه رانې د هند و بار دی
ستا مثال په هند و بار کښې را ښکاره شو — د او ییا دانه یوه هتر خروار دی
نه خوړه پر مهر کوی عمر دې ډېر ښه — دخوشحال ختك دې تش لېدل په کار دی

« خوشحال ختك »

عاشقي را باندې سورې کړې مرې — هیڅ مې نه د رومې بې باره تر مرې
څه اثر به یې د عقل وي په سر کښې — د هغو په سر چه کښېني ښاپېرې
د مژګانو به پنجه مې زړه وکاږي — خدای د تر کو مستې ستر ګې کړې مرزې
علوفه به یې بې غمه نور څه نه وي — هر چه کاندې د خو بانو چاکرې
لښر د صبر سبق مالره هم را کړي — که په عشق کښې څوك دغه طاقت لرې
خدایه څه دې د کوتوال په لاس کښې ور کړم — شپه او ورځ مې غږ وي لکه تورې
په صورت مې نری تبه شوه ولاړه — تاچه دواړه سترګې تورې کړې نرې
د وصال د دلالان کوم طرف ته غواړم — چه بندي شوم د هجران په کچرې
نور د شمعې په فانوس کله پټېږي — تاچه واغوستې دخیال جامې نرې
زه رحمان په زړه نرې کړم هغه جونو — چه یې ملاوې دو پښته په دود نرې

« عبدالرحمان مهمند »

دا چه مست په میو راغی یار د چا دی — بیابه تاخت کا په کوم غولي وار دچا دی
چه زړه سوی یې د حرم په صید هم نشي — دا بید رده بیصر فې گزار دچا دی
ماخو نه دی څوك پېو جهی ازار کړی — دا چه ما ازار وی ازار د چا دی
چه یې درست جهان د مخ په رڼا ژیست کا — دا آفتاب غونندې روښان رخسار دچا دی
چه بلبل یې رسېدی تر ګلو نه شي — دا دننه په حرم ګلزار د چا دی
چه هیڅ ترس په زړه کښې نه لري رحمانه — دا ناترس اوبې پروا ګلزار دچا دی

« عبدالرحمان مهمند »

سپین رخسار او مشکین خال یې سرخم دی — یا محمود او ایاز ناست سره همدم دی
که دې مخ په زلفو پټ دی باك یې نشته — د حیات اوبه هم پټې په تور تم دی
ستا له زلفو له رخساره له سرو شونډو — پیدا شوی شام، شفق او صبحدم دی
په دهن کښې دې غاښونه تجلي کا — یا غوټۍ چه په غنچه کښې د شبنم دی

(c) ketabton.com: The Digital Library



نه چه اوس ز ما زړه غوڅ ستا په غمزو دی
چاره، غوښې له قدیم سره په غم دی

بې ژړا اچا ته نه گوري سیاچشمه
د نرگسو غوړ یده د جوی په نم دی

راحت ندی چا مو ندلی بې ز حمته
ستا جفا او وفا دواړه منقسم دی

ستا د حسن د تعریف له بر کته
د رحمان د شعر کوکې په عالم دی

«عبدالرحمان مهمند»

❀ ❀ ❀

زه که پر نگ بدیم ښکلیه! عارولی له ما کړې
چارې د قسمت دی، زه یې زشت ته یې زیبا کړې

یو ځله بیا راشه په گلونو گذر وکړه!
ای د صبا باده! چه بیا نغښتی غنچې وا کړې

گل دې په هجران کښې سل ټوټې خپله سینه کړه
سرې دې له فراقه لاله ستر گې بړندا کړې

ولی له شیدا بلبلې مخ جار باسی گله!
ته په دا خوبې هم دده نار و رسوا کړې

لاخوشبوبې ورکا چه بې واچوی واورته
زه به تنا زیاته کړم که ته زیاته جفا کړې

ته د حسن نمر یې دانو ښکلې لکه ستوری
گل به کالعدم شی که ښکاره خپله لقا کړې

«عبدالقادر خټك»

خوښ یم تر ابده د ساقی له میخانې
خورم شراب د مینې ډکې ډکې پیمانې

قدر د بلبل چه پاتې نه شو په گلزار کښې
جوړې شوې په باغ کښې د زاغانو اشیانې

سپینو ستر گو د ر راوښو واړل په خاورو
نه یې وساتلې په پښه کښې د ر دانې

هر ساعت چه ډمه کا سنگار د یارد زلفو
وخېژی تر زړه زما غا ښونه د شانې

هیڅ حاجت مې نشی په شیخانو ملایانو
ور کې شه بیخایه د پښتون د پرې ستانې

تل مې لیونی عوندی څوك نه پرېږدی وکورته
ځای رالره نشته یې د یار له امتانې

هرچه په ازل وی هغه دی زما په برخه
څه لره نور زه کړم شکایت د زمانې

مر گ د شمس الدین چه ددلبرد یاده نه ځی
شپه ورځ بې تړلی دی په گوتو نښانې

«شمس الدین کاکړ»

ما په خوب کښې ځان ملنگ لیدلی دی
د زړه رخت مې په عشق رنگ لیدلی دی

اوس له وېرې په کوڅه ورتللی نه شم
ما د مستو ستر گو جنگ لیدلی دی

غم و ښکلې توري راغی که مې پرېږدی
ما خلاصی د ستا ترڅنگ لیدلی دی

ما بېگا شپه د یار مخ لید لکه شمعه
دا خپل ځان مې پرې پتنگ لیدلی دی

دا مطیع په سحر ځکه ځکه ژاړی
چه خپل حال یې ډېر بد رنگ لیدلی دی

«مطیع الله پیرخیل»

مینه د خوبانو نام و ننگ لرې کوی
تش دیدن د ښکلیو د زړه زنگ لرې کوی

تل آرزو لرم چه به پټ حال و یارته وایم
کله سپی غماز له یاره څنگ لرې کوی

خوښ د معشوقو هغه عاشق وی چه بې ننگ دی
ځکه هر ملنگ له ځانه ننگ لرې کوی

خدای په دواړو کونو هغه ړوند په نور لیمه کړه
څوك چه ستا له شمعې ما پتنگ لرې کوی

یار مې په شړل ندی راضی زه پرې بوهېږم
سپی غماز له دره ما په جنگ لرې کوی

بس کړه ای ناصحه! تور ځیگر را باندې مه خوره
کله مست بنگی له ځانه بنگ لرې کوی

بل شغل مې نشته په زړه بې دیار له مخه
عشق بوهسې رنگ دی چه بل رنگ لرې کوی

«مطیع الله پیرخیل»

(c) ketabton.com: The Digital Library



زړه مې د دلبرو تورو زلفو ته هوس کا  گوره دا به ځان خونی تورمار له وردرومی
مرم د خدای د پاره په شتاب شتاب رادرومه  چېرې هم طبیب ورو ورو بیمار له وردرومی
ځم د یار په لوری په هواهوس خوښی کړم  ذوق کاندې بلبلې چه گلزار له وردرومی
هر څوك چه طلب کا پته نه ده دا خبره  هر کله مطلوب و طلبگار له وردرومی
«خوشحال ختك»

خوږې شونډې دې شکرې نه دی څه دی  ښکلی غاښ دې مرغلرې نه دی څه دی
چه تسخیر په تورو سترگو کا د زړونو  سیه چشمې سحر گرې نه دی څه دی
چه د زلفو په زنځیر یې زمری بند کړل  هوسی سترگې زورورې نه دی څه دی
چه د باغ سرو یې پسته تر قامت ده  ښیښتنې په قامت سترې نه دی څه دی
وایې نورې مینې لرې کړه د زړه نه  ستا د مخ په دور لرې نه دی څه دی
«خوشحال ختك»

یار په ستمونو د خپل یار نه زهیر ینږی  سترگې د ښو په درانه بارنه زهیر ښږی
څو کبر لو یې ده و خوبانو خدای ور کړی  هیڅېرې بې زړه به عاشق خوارنه زهیر ښږی
څه شو که ترې سله ځله ځار ښږی په ساعت کښې  گل د بلبلانو په چغار نه زهیر ښږی
ښه رنگ یې بدرنگ کا چه پری والوزی پوخته  زړه د خزان گوره په بهار نه زهیر ښږی
گرانې دی هر گوره نوې چارې نو آموزته  هرچه مدام می خوری په خمارنه زهیر ښږی
زردی چه خبر به شی د سترو له احواله  هرچه د ویښتلو په آزار نه زهیر ښږی
سرغواړه له خدایه خولی ډېری دی فاضله  هرچه غم د سر کا په دستارنه زهیر ښږی
«فاضل»

چه خدای په بت مین کړم که داعیب دی هم وی دی  سجود که روشن کړم که داعیب دی هم وی دی
عالم وایی عاشق شوې زه سوگند خورمه چه کله  درست خلق دروغجن کړم که داعیب دی هم وی دی
کافر یم که یې و باسم هغه ساعت له زړې  ستانوم چه ځنکندن کړم که داعیب دی هم وی دی
که ستا کوڅه جنت سره څوك سمه راته کښږدی  کوڅه به دې وطن کړم که داعیب دی هم وی دی
چه ځوان وم دایم زوړ شوم په رښتیار ښتیاخبرو  عالم د ځان دښمن کړم که داعیب دی هم وی دی
شیخان او زاهدان واړه په پسی شا ویل کا  په مخ یې مبرهن کړم که داعیب دی هم وی دی
که نور په صهبا مست دی زه خوشحال په خرابات کښې  مستی یې په دیدن کړم که داعیب دی هم وی دی
«خوشحال ختك»

په ما غم دی واړه ستا د مینې مینې  زړه مې درست پاره پاره شو وینې وینې
اندرون گوگل می درست دوینو ډك شو  ظاهری جامې اغوستې سپینې سپینې
بیا دې نوی پرها رونه په ما روغ کړه  لرغونی مې لا روغ نه دی ځینې ځینې
په ژوندون یې څه احسان را سره نکړه  څه پکار دی که یې کړی په مړینې مړینې
زه دې درست له باغه وا پستم دلبره  تورزاغان پکښې مېوې خوری خوړینې خوړینې
تورو زلفو دې خوشبو په کړه ملکو نه  د واړه گلو ښتې دی دمښکو چینې چینې
خماری سترگې دې د واړه شنه زمری دی  د خواجه محمد و مرگې ته وړینې وړینې
خواجه محمد بنگښ »

نه به شوك بی نا چاری وطن پر هنر دی ... نه به روح هرگز په خو ښه بدن پر هنر دی
که ستا مخ یوزلی وو یني په سترگو ... بت پرست به نور سجود دو شن پر هنر دی
د یوسف غونډې به خو ځنی پیرون کا ... که د زني چاته زلفې رسن پر هنر دی
که دې ولید ی سرې شونډې جوهر یا نو ... په یاقوت پسی به تله د یمن پر هنر دی
که د لبر په دا ښایست لاړ شی چمن ته ... د خو لئی دعوی به گل د چمن پر هنر دی

«کامگار»

چه یوه گړی په جمع زړه ښه مخ وته و گورې ! ... که درسته دنیا ستا شی هم څه نده دا تر پورې
داخوی زما قدیم دی څه ماوس ندی راوړی ... چه یی دزیبا مخه رانه خس دی چار ې نورې
د خلقو تهمت یوسر دجهان غم نه بل سر ... هم ته به مې له هسې رنگه سختی بلا ژغورې !
دا اور چه په ما بل دی دخپل یار له جدائی ... نه گرم نه ملامت یم که تل وینې ژاړم تورې
اشنا ته وایه نشی نا اشنا به څه خبر ېږی ... دا راز چه له ما نه دی اوریدلی خپلی مورې
ناوك یی دمژگانو دابرو په کمال جوړ کړ ... خدای زده چه به د چا ترزړگی وزی پورې وورې

ښه باز دې دخوشحال ختك خاطر په لاسو کبوت
په قدری خبر شه چېرې نه په لېږی پلورې !

«خوشحال ختك»

شنه خالونه چه د پاسه پر جبین زدې ... دا زما پر زړه دا غونه آتشین زدې
د عشق اور مې و پلوی د زړگی شمع ... بیهوده مې پر موم نقش دنگین زدې
ما دې خیال اره فرش کړی تور لیمه دی ... ته یی نیا زه قدم ولې پر زمین زدې
په شپه حال د مهجورانو په یاد راوړه ... په راحت چه سر له نازه پر بالین زدې

«پیر محمد کاکړ»

❀ ❀ ❀

## ه: موضوع گانې

### (۱) ـ مخ:

بادیی لاس په پلو کښېښږدی سره ریبز دی ... گل یی مخ وته نظر کا خوله پر یښږ دی

«خوشحال ختك»

د پریی ښکلی جوه مالیدلی دی په سترگو ... ړوند شم که به تا غوندې په حسن بله وه
زور دغاښو مکره مخ یی صاف تر آئینې دی ... زخم به پرې وشی په ورو ورویی ښکلوه
عمر به یې لنز شی که ئې تار دزلفو کم شی ... فهم کړه ای ړمی ! زمنځ ورو وروچلوه

«عبدالقادر ختك»

ای چه په مخ و ړ ې خو ئې له ور ده ... خالی یو دم نه یم د ستا له در ده
ته بی آ سیبه بهی ، سیب اوسی ... که ترنار نج مې خپر ده زر ده

«عبدالقادر ختك»

که مخ دې نمر کړم د نمر کړه وړه نشته ... که یی سنبل کړم سنبل مشکین ندی

«عبدالقادر ختك»

د پر هوس لرم دا ستا د مخ و گل ته ... زه بلبل پرې الوته کړم که بد نه وړ ي

«شمس الدین کاکړ»

(c) ketabton.com: The Digital Library



سپین رخسار دی ستا کعبه د عاشقانو

تورې زلفې غلافونه د اطلس
«میا نعیم متی زی»

دا به خوب کښېږدا ښکاره شو د دلبر مخ
چه یې ولیدو دا ستا جوهر د غاښو
له حیا دې غټ و مخ ته کتی نشم

که په ابر کښې ښکاره شو د قمر مخ
پټ له شرمه په خپل آب کښې کړ گوهر مخ
کله لید په خوږو سترگو شي د نمر مخ
« قلندر »

دا دې یار خو دی، خو له نیو لي
دا دې سرې شونډې که سپین غاښونه

که لاله گل دی پرخې وهلی
که لعل و دُر دی سره پېيلي
«خوشحال ختک»

ډېر مې ستا و مخ ته و کا ته موړ نشوم

اور به څو پردې نابوده دنیا ویا ډم
«شمس الدین کاکړ»

لکه مخ زما دیار دی ای باغوانه !

په درست باغ کښې یونسرین هسې لري !
«خوشحال ختک»

مخ وته یې گوره چه په مخ لري خاونه

څه عجب زیبا دی لکه گل د پیغمبر
«خوشحال ختک»

## (۲) شونډې او زنه:

د خولې ویل دې واړه نبات دی
څوك یې چه ښکل کا سیخ د هغو دی

خوازه دې لا د کنځلو زبات دی
شونډې دې دواړه آب حیات دی
«خوشحال ختک»

بوی به ستا د محبت څخه روان شي
په ناز کو شونډو یار د پانو مه زده

که پاره مې د نافې په دود تېتر کړي
خدای چه شونډې سرې بې پانو درته در کړي
«عبدالقادر ختک»

غنچه خوله چه یې نقطه موهومه ده

څه عجب که په خندا کښې شي دوه نیمه
«پیر محمد کاکړ»

په سرو شونډو کښې یې روز دی هم او به دی

دواړه زیست کا په یو ځای کښې بې جداله
«دالپوری حافظ»

که څوك و وینې د استاذ نخ پر آب

زړه یې و وزی د سینې لکه حباب
«عبدالله پوپلزی»

چه یې خیال د زنخدان وزړه ته تېر کړم

په کوهې کښې گذار کاندې اسکورلا
«میانعیم متی زی»

هغه شونډې چه ځائی د پانو سرې دی

هغه شونډې څه حاجت لري و پان ته
«خوشحال ختک»

چه په خیال د سرو ابو د شپې خملم

هر سحر څاڅې ځما تر بستر و یښی
«عبدالله پوپلزی»

### (۳)- بوسه:

چه بوسې د جفا جویو د خولې اخلی — ګویا اخلی د یاغیانو قلنګونه
څوک مایوس څوک په امید دیار دوصل — څوک پراته غاړه غړئ په پالنګونه
زه خوشحال د آهو چشم مینې سر ګرم — د غرڅه غوندې په هسې ګړ سګونه

«خوشحال خټک»

چه د یدن دمین وکړمه تازه شم — لکه کښت چه په باران سره اوبه شی
په ارمان د هغه وخت یم دریغه دریغه — که د زنې سیب یې بیا زما په خوله شی

«خوشحال خټک»

څوک چه زور مه ښکاره کا وزیاتیږی — که پخپله بوسه را کا زور به نشی

«خوشحال خټک»

مګر تا سره سامان د سلطنت دی — چه په هوډ مې سپینه خوله غواړې خټکه

«خوشحال خټک»

څو مې یاد دهغې خولې دمچې خوند دی — نور مې ګل له دله هېر دی تلذذ

«خوشحال خټک»

سر به درکړم مچه را کړه ښه سودا ده — که یې ته په بها پېرې زه یې پلورم

«خوشحال خټک»

په رښتیا ړما ته وو ایه طبیبه! — چه د رنځ به یې صحت وی که به نه وی
سپینه خوله که بې ریباره وز پیشکش کړم — په خوشحال به مې منت وی که به نه وی

«خوشحال خټک»

دادی هغه اوچه په هجران کښې پسې ته مرې — اوس یې په وصال کښې دواړه اوریه ښکلوه

«خوشحال خټک»

دصبا باده! ګزر په چمن بیا کړه — په چمن کښې رنګا رنګ ګلونه وا کړه
زه خوشحال کمزوری نه یم چه به ډار کړم — په شکار ناري وهم چه خوله یې را کړه

«خوشحال خټک»

زده می تخمخ کېنږی دسپین مخ وښکلول ته — لاس یې لربر کېنږی دزلفینو ونیول ته
زه چه غني سوال دبوسې وکړم راته خاندی — یا به زړه راضی ده یا پروانه کاوي ته

«مطیع الله پیرخیل»

چه یې تل دمخ ثنا وایی خوشحاله — په صله مې سپینه خوله درته بخښلې!

«خوشحال خټک»

دبوسې وعده دایم صبا برات کا — زړه به څو کاندې تازه په دا وینا کښې؟

«اشرف خان هجری»

بیا حانت په سپینه خوله شوم د خوبانو — قسمونه مې ناصح ګڼل عبث

«میا نعیم متی زی»

هغه چا چه ستا دلبو خوازه نوش مکړه — په څو زوی یې د حلوا نشته غرض

« یونس »

که هزار ځله شیخی کوی خوشحاله — که ښه ښکلی درنژدی شی نو یې ښکل کړه

«خوشحال خټک»

## ٤ ـ سترگی :

مست دهغه مخ یم چه مخموری اری سترگي
هسې پرې غوځیږم وایې توري لري سترگي

یارمې په ښایست کښې بې نظیره بې مانندی
لا په درست صورت کښې ډېر مشهوری اری سترگي

ناست دی لکه څری رقیبان وخوار عاشق ته
څکه ستاله مخه هوري دوري لري سترگي

هرچیرته چه ته یې هغه اورته مې نظر دی
هرچرته چه زانې شاهین هوري لري سترگي

« خوشحال ختك »

ما یې خیال لره ابلق د ستر گو زین کړ
قدم نن د ی په ر کاب ز ما د سترگو

« عبدالرحمن مهمند »

خار بندی مې د ښو کړه ترې چاپیر ه
گوندي خیال دیار په سترگو کښې حصار کړم

« عبدالقادر ختك »

څکه ما دعشق په تېر ځا ن شهید کړ
چه مې نه رسی د صبر په کفن لاس

مرگ دژوند زما پوښته له مړاؤ سترگو
په رسا گذار بو هیڅری د تور زن لاس

« عبدالحمید مهمند »

کتړی وروڅی کوزبانه چه دي را یاد شي
کابزه غشي مي تر زړه لوینږی آزاد

« پیر محمد کاکړ »

نیمگښو دی د غمز و توري تېري ستا
پري به غوځ شي هرچه کاندي ننداري

« میا نعیم متی زی »

باز دیار دستر گو دمژگانو په پنجو کښې
دی لکه تنزری په چنگ و دی زما روح

« میا نعیم متی زی »

د اشنا دتورو سترگو په تعریف کښې
نـه ده کمه شاعری لـه اجتهاده

« میانعیم متی زی »

خو، دیار بیماري سترگې خدای خونې کړي
گنه خون کـله کولی شي بیمار

« عبدالرحمان مهمند »

څپلو سترگو فتوی درکړه چه مې وژنې
حیرانې ده پردا لو ستو د مکتب ستا

وکوتر ته حاجت نـه لری د څپلو
چه جام نوش کا ځوك دمیو لبالب ستا

« مرزا حنان »

زړه مې رم خوری له سینې بې خبر نه یم
دا د سترگو باز مې بیا راځي وښکار ته

« مرزا حنان »

یل یې په جهان کښې مـو ندی نشی
عاشق تـله دیار په لوري په لیمه کا

« عبدالقادر ختك »

بی دیار له مړاوو سترگو چه کج گوری
گنه نکا رنځورا چا ته جواب سخت

ځوك د صبر ارام نـه غوا ړي په عشق
د ازل کاتب دی ښکلی په دی باب سخت

« عبدالحمید مهمند »

عجب نده که وحشي د کوه و دشت شي
هرچه زړه د آهو چشمو سره مل کا

« پیر محمد کاکړ »

## ۵- غابښ

په آرزو دسپینی خولی یی په بوستان کښی
نرگس پیاس پر سر نیولی ده پیاله

چه یی ولید خندا د سپینو غابښو
له شبنمه لمن ډکه کړه لاله
« شمس الدین کاکړ »

په رڼا د سپینو غابښو یی خرم وم
وا قف نشوم د هجران د شب له دا چه
« پیر محمد کاکړ »

## ٦- غوز اوپوزه :

در په غوږ کښې د مهرویو هسی زیب کا
لکه بر بیښی په سحار کښې ستار ه
« مرزا حنان »

چه الماس دلمندرو زانګی په غوږ کښې
کوا کب کا په اسمان لرزان حبیب
« میا نعیم متی زی »

چه له غوږ وتی مقصو د مو می لبښتی ده
چه له پوزې یی مراد مومی لونګ دی
« خوشحال خټک »

سپینه پوزه دی غوټیء دزنبق ده
چه چاپیر تري نور ګلونه دګلدار دی
« خوشحال خټک »

## ۷- خال :

مخ وته یې ګوره چه په مخ لری خالونه
څه عجب زیبا دی لکه ګل د پیغمبر
« خوشحال خټک »

زه حیران د استاد وریځو په نور خال یم
کافرځه رنګ سجده کاندي په محراب کښی

ګل ده بري بارېکي په شبنم خوره شي
نازک زړونه بد وي په صاف جواب کښي
« عبدالرحمان مهمند »

مشکین خال دي په سرولیو هسي زیب کا
لکه مهر یه مخ ون د در مرجا نو
« عبدالرحمان مهمند »

لکه عکس د اسمان چه او به شني کا
زړه مي شین شوستا دشنه خال له لاجورده
« شمس الدین کاکړ »

چه زخال و خط خبری یکښې نه وي
د عشاقو یکبار د اترانه نه ده
« قلندر »

شنه خالونه چه د پاسه پر جبین ز دي
دا زما په زړه دا غونه آتشین ز دي
« پیر محمد کاکړ »

شینکی خال د وروځو منځ د مهر و یانو
هم محراب دی ، هم منبر دی هم خطیب
« میا نعیم متی زی »

زړه مې ځکه په سل ژبو گفتگوی کړي — چه شانه وهي په زلفو د نگار لاس
« عبدالله پوپلزی »

په لښکر د تورو زلفو یې تالا کړم — خدای دې نه کا څوک ګمان د کفر د چا
« میا نعیم متی زی »

خیال د زلفو د رخسار زما په زړه کښې — زرعونه کړه تر سنبل او سره گلاب
« میا نعیم متی زی »

ځانګې ځکښې زړونه د عاشقو سره په ویښو — ته چه څیرې کیږدې سره ګلو ته په اور بل
« میا نعیم متی زی »

کفرستان د شاه د تورو زلفو ګوره — چه په څه ښائي تاویږي وایمان ته
« خوشحال ختک »

که څوک وایي چه مار کله په کټ خیږي — زه خوړلی یم په کټ د زلفو مار
« عبدالرحمان مهمند »

که اره لکه شانه شم پرې نه یې نږدم — که د تورو زلفو تار په لاس راکښیوت
« مرزا حنان »

تورې زلفې دې په لیچو باندې زانګي — ښا ماران دي دچندرو په ښاخونه
« خوشحال ختک »

دار بلیه هر یو تار یې زړونه بند دي — مشاطه ورباندې نور یې په تارو
« خوشحال ختک »

که دد ین حج اکبر کوې تلوار راوکه — چه پر سپین مخ باندې د زلفو تور اطلس لرم
« صدیق آخندزاده »

## ۸- زلفې:

که بل مار چیچلی په لاس یا په پښو کاندي — په زړه خوله لګوي مار د تورو زلفو
« عبدالرحمان مهمند »

رحمان ستا په مخ بې څنمو وهم مین دی — بې هو دمه د وز ته کښیښو د ام په څه
« عبدالرحمان مهمند »

دک مې د نښه لړمون په اور شیو — زړه سمندر دې پکښې یې کور شو
چه ستا د تورو زلفو په رنګ دي — له بخته خوښ یم چه بخت مې تور شو
« عبدالقادر ختک »

په لیده یې پیچ وتاب شم نه پوهیږم — څه بلاده د شوخ چشمو په کاکل کښې
تر حلقو د زلفو مخ ئې معلومیږي — که ګلاب راته ښکاره شو په سنبل کښې
« مرزا حنان »

زه مین په هغه زلفو په رخسار شوم — چه سنبل ورته خجل دي ګلاب هم لا
« پیر محمد کاکړ »

خو دیه څود یې کله زلفې په مخ زانګي — واده زهر دي چه څوزي په تور مار کښې
« پیر محمد کاکړ »

(c) ketabton.com: The Digital Library



خیال د زلفو یې دزړه نه جدا کېږي
دې کېږي پوښې پښکته شي تور حجاب
«عبدالله یوسفزی»

## ۹- خندا:

په بار بار د خندا منت را باندې
چه په مادې نظر وشو په خندا شوی
«خوشحال ختک»

کله کله په خپل قهر لګېږې مسېږې
لکه خوک چه هندو بار کېږي دینداري کا
«شمس الدین کاکړ»

تبسم یې له دښنامه سره زیب کا
قدرداني لرې ترخه چه شي شراب
«مرزا حنان»

## ۱۰- لاس:

د اعجاز د قاتل لاس دی نه یو هیڅ
که تر باغ وتلی لاس دی د سرو ګلو
«عبدالرحمان مهمند»

کوم دلبری زړه په سرو منګو لوټ ړی
چه ليړمیو ن دوینو د کې دی د حنا
«شمس الدين کاکړ»

سره نوکان دی د سرو ګلو په څېر زیب کا
د واړه لاس چه دي رنګ کړي په حنا
«پیر محمد کاکړ»

## ۱۱- حسن:

ته په دا حسن د ګل غوندی پیدا یې
پوری مور که ښا پیرنې یې راوړې
«خوشحال ختک»

زه رحمان د هغه حسن ثنا خوان یم
چه جرګه دعا شقانو وی پر پنده
«عبدالرحمان مهمند»

ستا دحسن د آفتاب له ګرمه خوپه
لکه ګل په ډمن یت تازه شبنم ودم
«شمس الدین کاکړ»

پوېکنې مخې د قند هار د کېښلو نښته
کښلې د کشمیر که دلا هو رو د کابل
زړه دشمس الدين په حساب سره دري ځای کړ
یو طرف دي تېک شو بل دی ته بل چار ګل
«شمس الدین کاکړ»

خو بړو نی بی دلبرنی څه په کارنده
لکه ونه بې میوې په بیانو پوره
«عبدالرحمان مهمند»

توری زلفې شته خالونه سره رخسار
ښفه طوطیان دي سره ګلونه تور ښامار
«یونس»

## ۱۲- جامه او ګانه:

ارغوانی جامې یې واغوستې رحمانه
بیایې جوړ کړه ستا د قتل اسبابونه
«عبدالرحمان مهمند»

دعقیق د آب په رنګ یې تن معلوم دی
هره ورځ چه جامه واغوندی ګلنار
«مرزا حنان»

د نور دشمعې په فانوس کې له پټېږی
تاچه واغوستې دخیال جامې سپری
«عبدالرحمن مهمند»

درسته‌دې له‌خیل‌غریو واېستم خوشاله — یودغادي هارمی د ګلونو مه‌شلوه
« خوشحال ختک »

## وښې

داهلال دی چه‌لیدل‌شي په‌شفق کښې — که‌پلاس د ګل‌اندامی سپین‌وښې دی
« عبدالرحمان مهمند »

## ۱۳ـ عیش، او دعشرت سامان:

دنیادار کړه چه نوی ښې دلبری — اوردې یوري ددنیا په‌ملک ومال شي
ارمان دادي چه په زړه همیشه نه‌وم — همیشه په‌سره ګلونه ګال په ګال شي
د ګلونو وخت‌تېرېږي‌ساقي! ګرم‌یې — که دجام په د کولو دي امسال شي
« خوشحال ختک »

* * *

ساقي! یورنه شه‌دمیو جام تیار کړه — عمرهیچ معطلي نه کوي‌تلوار کړه
که‌غمخوار غواړي‌په‌غم او په‌اندوه کښې — ښینه د که د شرابو اختیار کړه
هغه‌خوک دي‌چه‌تهمت پري وا په‌نه‌شي — غوږ په‌هیڅ‌ابا ندي‌مه‌ږا سه‌خیل کار کړه
« عبدالرحمن مهمند »

* * *

غنچه‌غنچه شراب‌ساقي! بیا په‌ارمان کړي — عندلیب ناري وهي چه‌بهار دروې
« عبدالقادر ختک »

* * *

ساقي وخت د نوبهار دی شراب راوړه — دشرابو سره نقل دخولې مل کړه
« خوشحال ختک »

## رباب

په‌آواز مې‌یې دزده پرهار ګالده‌شي — مېن لځکه د رباب په زیر و بم یم
« عبدالقادر ختک »
له مزینه زده مي نرم اواز خیژي — لځکه‌خوښ لګه‌رباب په‌زیروبم یم
« عبد القادر ختک »
باغ د ګلو نو ګنج د کتاب وای — رودوسرو دو نقل‌و شراب وای
ښې‌ښې معبو بې بته جه احباب وای — خو بې د عمر وخت د شباب وی
« خوشحال ختک »

## شراب

زمایار په‌خوب ویده دی چه‌ویښ نه‌شي — په‌پیاله کښې ساقي! مې‌تر یوه‌ورو
« عبد القادر ختک »
مگرستا په‌خیل‌ښایست امید مدام دی — ګله! ته چه د بلبلي مخ جار باسې
نور چه تل د ګې پیالي نښوی ښه‌دی — په‌یوه‌پیاله خوشحال ختک بدنام‌دی
« خوشحال ختک »

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا گلگون شراب د کومې میخانې دی
چه صوفی یې په جرعه سره مدهوش دی

بیا به دا گلونه نوی میخواری کړه
د بلبلو په اواز کښې دا سروش دی
« خوشحال ختك »

د رحمان شراب له عشقه
نه انگور نه له عنبه
« عبدالرحمان مهمند »

د گلو نو میو ناوې را سته نا سته
زنگاری کمیس اغوستی د مینا دی
« عبدالرحمان مهمند »

شپه او ورځ په دا زه مستغرق یم د شرابو
وینم یکښې هردم د خوبانو انعکاس
« قلندر »

په تاخیر کښې افتونه پیدا کېږی
معطل مه کوه ساقی! په داد و مل شه
« عبدالقادر ختك »

یو نفس د یاد پیاله له لاسه مه ږده
دا شراب حقیقی نه اری خمار هیڅ
« دولت لوانی »

نن هغه شراب حرام دی
چه یې کا بازی له انگوره
« شیخ دولت »

ای ساقی د جام په ورکړه سستی مکړه
کاشکې یو هم پاتې نشی هوښیار دریغه
« دولت »

## ۱۵- بیلتون :

گیځ رنا د نمر خپره شوه
زما یر کور د ویر تاره شوه

د بیلتون ورځ تور تیاره شوه
غمژ شونا ښا په چه بیلتون راغی

زړه می له دی ویرنی سین دی
په زړا ژاړم خپه ما ورین دی

زړ غون له او ښو می سا دین دی
په نول نولیږم چه تاخون راغی

❀ ❀ ❀

نه به بیا یم نه به بیا را شی
نه به تیاره شپه زما رنا شی

نه به ششی را ته پخلا شی
بیلېږي پیر یې اوس دیون راغی

❀ ❀ ❀

د ښښتن یار دی هیر مو نکړی
آغلیه مخ چه په یا نه کړي

اور بل دې پر یښو وی وا ته کړي
په ما د بل اور کړوون راغی

« دا شعر د شیخ تمین بڼ کا کړ دی چه د ۵۲۵ ه په حدودو کښې ژوندون کاوه »

❀ ❀ ❀

ویر می زده سوری سوری کړ
را ته وگوره ملو کې ! !

په بیلتون کښې دې وباسم
له خوږ مینه زړه گی کوکی

را ته وگوره ملو کې !
را ته وگوره ملو کې !

(c) ketabton.com: The Digital Library



د بلبلتون او رونه بل دی     هر گړی مې زړه کې سوځی
لیونی یمه د مینی !     سو ځم زه لکه پیلوځی

راته وگوره ملوکی !
راته وگوره ملوکی !

غوړ ولی دی اور بل دی     اور زما په زړه کې بل دی
زه بختیار خاوری ایری شوم     په اور سوی می گوگل دی

راته وگوره ملوکی !
راته وگوره ملوکی !

«قطب الدین بختیار»
«متوفی : ۶۳۳ ه»

❀ ❀ ❀

جدائی دما په زړه کا هغه چاری     لکه بازی په تارو یا په دراج کا
دوه مین چه په هواد وبلـه بیل شی     خدای یې څه شکل دتش سلام محتاج کا
زما اوښې د گوگل په جوش پیدادی     لکه اور چه له کبابه نم اخراج کا
هر ناوك چه دقضا لـه شسته خیژی     زمانه دخوشحال زړه ورته امـاج کا

«خوشحال خټك»

که داستا ستر گې راوچار باسم ځانته     لـه بنادی په یې نور شا کړم وجهان ته
یوزمان مې که داستالیدل نصیب شی     نور به ستر گې پورته نکړم گلستان ته
طبیبان دخیل دارو درسره کیږدی     تا و یشتلی مینه نه کا و درمان ته
چه په ما باندې تیر یږی ستا په عشق کښې     خدای دې هسې حال پېښ نه کا مسلمان ته
په فراق دښو یارانو چه ډیر ژاړم     دواړه ستر گې مې پیغور کا و باران ته

«خوشحال خټك»

اوس یې درد د فراقت زغملای نشم     لکه نی یم وهر چاته په فغان کړ

«پیر محمد کاکړ»

دفراق په درد کښې شوق د بوسې څه کړم     خوږ شربت په حال دمر گ د بیمار نښلی

«پیر محمد کاکړ»

مونږ لـه هواده تنها راغـلی یو     دبڼ طوطیان یو ، په دام و تلی یو
غمازه ظلـم را بـاندې مکـړه     د ښـو یارانـو فـراق نـتـلـی یـو

«پیر محمد کاکړ»

د سحر چـر گه خوږ شې په کـومی     چه تا نـارې کـړې دلبر مې دروم ی
یوم ـې دلبرځی بـل رانه زړه وړی     زړه مې پدا وړی چه دلبر نومی

«اخوند گدا»

دهجران دغم راتله په توره شپه وی     په هـر چاورمـشـه بیـوخـته میلمـا نه
د فراق اوښکو دصبر تیمم مات کړ     په دریاب کښې نشته نمونځ په تیبانه

«شمس الدین کاکړ»

وخت دنوبهار دی زه جدا لـه خپله یاره     دریغه دریغه دریغه چه بی یاره ځې بهاره!
ژاړی غاړې غرونه په احوال دعاشقانو     سیل د اورونـدی چه رادرومی له کهساره

اوردخوزو زړودی چه دغره په ونو بل شو
غوادی چه احوال دفراق چنودر معلوم شی
نوري ناري نشته خو ناري د بېلتانه دی
رنځ مې نه کمېږي په زمان زمان زیاتېږی
مرګ د رقیبا نو بل ژوندون د حبیبانو
څه شو که لاده وهی په شمار دی دژوندیو
هسې خوار وزار شوم ز خوشحال په عاشقۍ کښې

چه په وخت د تلو راتلو کاچیغار و نه

که هر څو د بېلتانه له غمه وا یم
په قد کوږ په تن ضعیف ګوښه یولی

له ښکیه وچاوده وخت د صبا شو
راشه چه ښکل دي کړم اوس به بېلېږو

مین را یاد شو دا ستا له رنګه
که اشنا نه بې داشنا مثال لري

وخت د سحر شو پر یوتې تلې
د یار د راغلو وعده شوه تېره

د منې وخت ؤ ونې لیدلې
خوارې خسته وې وې مې سزایی

ودل دهجر پر ما شرط مکړه په عشق کښې

دزړه ویښې مې په کومه درشتي خورې
بېلتانه مې هډوپوست هسې وچ کلک کړه

د هند بار را نه آ هسته و وره !
د سایې ګل ؤ په نازلوی شوی

د هجران له ډېره غمه ولې نه مرم
چه یو یار له بله یاره جدا کېږی

سری ډډوزی خېژی له نښتره له چیناره
ګوره هغه زانې چه جدائی نحی له قطاره
راشه که بی اوري در باب له هره تاره
زر راځه طبیبه! ګنه مرم د خدای د یاره
خدای زو به هنګام دوصل کېږی دادوه کاره
رنځ چه لا دوا شی طمع پرېکړه له بیماره
خیل دی که پردی دی راته نه ګوری له هاره

« خوشحال ختك »

دهوا دیاران را یاد زانې اکثر کا

« عبد القا در ختك »

خپل ژوندون مې دروغجن کاندې چه پایم
په مثال لکه ابر و د د لر بیا یم

« عبد القا در ختك »

په هر مسجد کښې اذان ادا شو
په ځان زمو نږه صبا بلا شو

« عبد القا در ختك »

که یو د رنګ کښېنې زما تر څنګه
ځار شم قربان شم تر تا ملنګه !

« عبد القا در ختك »

له کښېیه لوریه را و ختلې
په ډېر کتل مې سترګې و تلې

« عبدالقا در ختك »

یو څو بلبلې چه ژړېدلې
چه بې ګلو نو وېا ښېدلې

« عبدالقا در ختك »

ز هر چا خوړلی ندی په شرطونه

« شمس الدین کاکړ »

هغه شونډې چه په شهدوشکر خوږ شی
دیار لاس مې په وهل دخنجر خوږ شی

« شمس الدین کاکړ »

یار مسافر دی د ربسره بې ژ غوره
و تلی نه دی هرګز له کوره

« شمس الدین کاکړ »

له دې هسې رنګه ماتمه ولې نه مرم
د دې د هر له ستمه و لې نه مرم

(c) ketabton.com: The Digital Library



چه په هر سحر زما په ژړا خاندی
چه په لمزه گرمی شا کاندي و گل ته

له دي هسي صبحه مه و لي نه ...ر م
... د ي بيو فا شبنمه و لي نه مر م
« عبدالر حما ن مهمند »

زاروخوار عاشق دی چه په شپه دجدائی

در سته شپه بخو بهدا -مان ستوری شمېری
« خو شحا ل ختك »

## کاغذ

مخ يې سپين ورق خالونه توری په کاغذ
دادی تما ما د محبت کمال طور و نه
ته که نه رادرومې گاهی گاهی په خطیار کړه
مه کوه نا تر سه د جفا ستم را با ند ي
وران به هر گز نه شي کښلی توری له ازله
ستوری د طا لع هم له جبينه معلو مېږ ی
مه گوره یې خط قلندره د يا ر مخ ته

سرو مال په دا عا شقان ېلوری په کاغذ
یار له جدا ئی چه یار ژ غوری په کاغذ
نيم ملا قا ت و ينم ستا له لوری په کاغذ
کله کله یاد کړه خیل غمخوری په کاغذ
هرزمانی که ستر گي د چا اوری په کاغذ
څه گوری فالونه د بخت ستوری په کاغذ
بی تورو ند ښېږی چه څوك گوری په کاغذ
« قلند ر »

## ۱٦ — ژړا

که گریوان می دسپوږمی د نمر مشرق شی
در حمان خندا په اجر دژړا ده

زه چه یار په ستر گو نه وینم تورتم وی
تازگی د گل په قدر دشبنم وی
« عبدا لرحمان مهمند »

ناخبر به ی له حاله شفق بولی

که دوینو په ژړلو کړم اسمان دوب
«عبدالر حمان مهمند»

بی دردان ئی لاس سرخی دشفق بولی

که په وینو کړم برجونه د آسمان دوب
« شمس الدين كاكړ »

زه دشمعې په خبر ژاړم تر صباحه

ته د صبح په شان خاندي له غروره
« شمس الدين كاكړ »

له ژړامی شوه تازه دزړه داغونه
څما دیار په زړه کښ جوروستم نشته

لکه تل چه شبنم اوری پر وښو
در وی ئی سپی رقیب را ته پرېښو
« شمس الدين كاكړ »

په سحر ژړا دیمنی نشا نه ده
که فریاد په زوره نکړم زړه می چوی

بلبلانو پر ي لوولی گواهی ده
که په زوره ناري کړ مه رسوائی ده
« مطيع الله پیر خیل »

هرسحر ستر گي د گل له اوښود کی

په دا باغ کښ ئی ژړلو خندا نشته
« عبدالقادرختك »

روهی گلونه ( ٥٢٥ ) ب : سردار محمد : ح محمدعلی خان : ر عبدالغنی : ن رجب علی : ه اجرائیه پښتوټولنه تاریخ ٧ - ١١ - ٢٥ ع

## ۱۷ ـ اوښکې :

څه اثر به زما اوښې په تا کاندي

لا تازه شي اور په اوښو د کباب
« عبدالرحمان مهمند »

هومره اوښې مي بهېږي په رخسار
يه گرېوان مي تل داوښو باران وري

چه غرقاب مي هم گرېوان دی هم کنار
نه ورکېږي درحمان د زړه غبار
« عبدالرحمن مهمند »

خدای پيدا کړم لکه اوښکې په ماتم کښې

څکه برخه مې ژړا شوه له الستبه
« شمس الدين کاکړ »

يا کوم سترگی به اوښو ديار مخ ته

ناروا دی په قران وهل خيچن لاس
« مطيع الله پيرخيل »

يه ناولی مخ ديدن دښکلو نشي

چه څولاوند نشي د اوښو په باران مخ
« پير محمد کاکړ »

له حسرته خپلو اوښکو برسر پوهم

محبت په شان و شکل د حباب کړم
« عبدالله پوپلزی »

دا ورك زده غوارم په اوښويسي لحفلم

زخمي ښکار به په بسمل دوينو پيدا کېږي
« مرزا حنان »

## ۱۸ ـ غم :

غم دي هسي غلبه شو په ما باندي
له زگېروی نه مي نور خلق په عذاب شوه
زه دستا په غم کښې شمعي غوندي ژاړم
زړه مي ستا په اوری هسی او بزان دی
ماد ي ستا داند ښڼو په غم کښې سوي
داد ستور دی چه لوی غم په سري ورشي
هرچه ما يه نصيحت له تا جار باسی
سره لمبه گوره چه څه کا به وچ د کی

هسي زه يمه ديار په غم تازه
سترگی وخورم که نې وچي کړم له نمه .
زه به څه کړم دچا چاري بی دیاره
ديار نوی نوی غم زېږوی وصل
که دي زړه له غمه وچوی دلگيرمه شه
ښایسته یاران گلونه دی رحمانه !

چه مي څای شی نه دننه نه د باندي
تل دوچو له کبله سوزی تاندي
ته زما په غم کښې صبح غړندي خاندي
لکه زلفي دي په مخ دی او بزا ندي
ددنيا اند ښڼي واړه لکه سپاندي
نور غمونه ئې همه شی تر پښولاندي
بيا دي ستا په اوری درومئ له ماوړاندي
مخ ديار په رحمان هسي چاري کاندي
« عبدالرحمان مهمند »

لکه وی هره گیاه په نسم تازه
که مي شی په دا ژړا صنم تازه
هر سړی دی پخپل سا په دم تازه
رغوی سوی پر هر مر هم تازه
کا تبان کړی په چول قلم تازه
بيلتانه کړه اکثر مړا وی کسم تازه
« عبدالرحمان مهمند »

(c) ketabton.com: The Digital Library



لکه غم د بختورو له خاطره

قسمت هسې له ښا دلیو کناره کړم
« عبدالقادر ختک »

تل مطیع الله ځکه سرور په دود ئې کا

دا مشهور متل دی فریاد غم پر ښا نوی
« مطیع الله پیر خیل »

غم دیار مې په خاطر کښې محکم بیا موند

په کعبه کښې مې صیاد د حرم بیا موند
« پیر محمد کاکړ »

جای نشین وغم ته تل په انتظار کښې

رکالا پانو ی بندی یم د انګریز
« عبدالله پوپلزی »

لاله افسوس کا د زړه له داغه
کفن ئې رنګه کړ دزړه په وینو

پسر چمن ندی خاطر فراغه
په ارمان ویست خزان له باغه
« شمس الدین کاکړ »

ګوتې چه پر نبض زما ږدی هغه پری سوځی

ځکه مې حیران شوو علاج و ته طبیبت
« پیر محمد کاکړ »

## ۱۹ ـ رقیب :

سپی رقیب ئې کښېنولی دی په مخکښې

هر څوك زدی کوډی په مخکښې د بااهنر
« شمس الدین کاکړ »

عشق له عقله څخه کا خلاف کارونه
بې هنره سپی رقیب هلته څه غوښت

ګنړه زه څوك اشنائی د زور ورڅوك
که ویارته رسیدای شوی په هنرڅوك
« شمس الدین کاکړ »

د رقیب وسرته وزی تنړی ناست یم

پری برئې ننړدم که ئې پلار په لاس را کښېوت
« مرزا حنان »

مافبول د رقیب ناز کړ ستا دیاره

سوداوزیان په دا جهان کښې خوراوورور دی
« عبدالرحمان مهمند »

## ۲۰ ـ جفا :

ستا د عشق حرفونه تورنه دی ګلګون دی
تش به نه شی هغه خم د عشق له میو
د دنیا چاری همه واړه فانی دی
مقتولان ستا د غمزو دی لا له ندی
در جهان دزړه خوناب مګر قبول شو

هم په داچه نوشته په جګر خون دی
چه ئې خاوري د فرهاد و د مجنون دی
داد ستا جورو جفاو لې افزون دی
چه په سره کفن له مځکې را بېرون دی
چه مخونه د دلبرو پری ګلګون دی
« عبدالرحمان مهمند »

له خوبانو چه کوم دوفا طمعه

کتوری غواړم د زانو له قطاره
« قلندر »

نن مې پیاله تورو ستر ګو سره جنګه دی
که پر هکری سر په لاس ورلره راشم

پرلبانو ئې دزړه دوینو رنګه دی
لا په دائی باور نشی زړه ئې سنګه دی
« تیمور شاه ابدالی »

## ج : بدیعی تشبیه ګانې

خوله دې ګل غنچه ده تور ګیسو دې سنبل پاڼې
ښئ ددی دزر کې سپینه غاړه دې دزانې

شونډې دې ژوندون ښی به ستر ګو کړی خونه
ژ بـه دې شکرې ده د ننـه په زړه پاڼې

هیڅ پری نـه یو هیبزم دا دې زنـه که منـه ده
خال دې دی په زنه که دانه ده د ممانې

« خوشحال ختټک »

کـنـه ولی د دوا ړو ستر ګو ستـا په طمـعـه
و هر لور ته می نیـولی کور پـه کور دی

چه می خیال د تر کوو لیـد و پـه زړه کښ
د وا ړه کسی می و زړه و ته نسکور دی

« عبـد الرحمان مهمند »

مایه خوا ست وزاری خوله له یا ره غو ښـته
ده په نا ز لـکه غنچـه سره و نـغـښـته

څـه خو حـال زما تر غو ږه د یار ور وړه
چه مدام لـکا پرتا خواب د ناز پا لښـته

محبو با پر پا لنګ وا وښتـه په خو ب کښ
کـه هو سئی ده د بهار پر ګـلو ر غښتـه

ثمره د بـد فر زند ښکنځـل د پـلا ر دی
پـیـدا مشـه نا خـلف د چا لـه پـښـته

« شمس الدین کاکړ »

چه له څنـګه د ګلرخ مې اغیار کښېنناست
په چشمانو کښې مې ګـل عوندې خار کښېنناست

« پیر محمد کاکړ »

آهـو چشم پـر سبزه د چمـن رام شـو
یا پر تـخت د زمرد شهر یار کښېنناست

« پیر محمـد کاکړ »

کـه عشاق جنګ وجدل کابا ندې څه شوه
پـر ګـلـزار وی د بلبلـو شر و شو ر

« پیر محمد کاکړ »

کوم یو له دوه وښه دی سپین رخسار که چنبیل ګل
کوم یو له دوه وښه دی تور ګیسو که سنبل ګـل

« پیـر محمـد کاکړ »

پر سینـه د ګـلبـدن ګرېـوان پاره شو
د غنچې له چا که رنګ د ګل ښکاره شو

« پیر محمـد کاکړ »

دا تـور خط را غی پر مخ د ګلـعـذار
کـه غالب شوه په کـشمیر پا ندې کـفار

« شمس الدین کاکړ »

چـه مې ستا د مینـې داغ پـه خاطر یوړ
زر غو نه به مې لاله شی له تر بـته

« میانعیم متی زی »

میانعیم ناست دی ستا دغاړې الېلونه شماری
یکښې پراته دی هزاران زړونه پلیپلی صنم

« میانعیم متی زی »

ګو تې تورې کړې په پای کړې دا پورې
زه حیران یم ستا د سپینو ګو تو تور ته

« خوا جه محمد بنګښ »

زه دریـسې درسته شپه پټ ژاړم لـکه شمع
ته صبا خندان لـکه ګـل واز ګرېوان دچاپې

« علیخان ختټک »

یون ئې د تندرو ، دریده ئې دی د سرو    پهر کوی په پلهو کښې حمله ئې د سپاره ده
« علیخان ختك »

تماشا چه زه د خپل داغو نو تل کړم    هم گلشن هم لاله زار په لاس را کښېوت
« مرزا حنان »

د گلرخ په هوا در ستّه شپه رفتن کړم    دشبنم په څېر پښې پېلې سر سر تور تم
« شمس الدین کاکړ »

او ښې در ، رنګ گهر باز ېده لکه لعل    جنس مې دهر ولې رونق د بازارته نشته
« مرزا حنان »

د یار خیال ته مې خالی کړ د زړه غولی    مېلمانه لره تیار شی سرای د ستور دی
« مرزا حنان »

چه دي خیال په خاطر را شی مضطرب شم    لکه پېښ چه د مفلس کره مېمان شی
« مرزا حنان »

چه تاو ویښم تازه غزل انشا کړم    پرې بلبلې فریاد کاندی چه گلعذار وی
« خوشحال ختك »

پر خپل ځای باندې ولاړ یم لکه شمع    تر غزل پورې رفتار کړم لکه شمع
« شمس الدین کاکړ »

وخت دی راغی دفدا که فدا کېږی    شمعه پلږه شوه تازه پتنګه خوځه !
« جمعه بار کزی »

آفرین دې په ول ول تورو سنبلو    چه ئې ځای د پاسه وېښو په گلو
« خوشحال ختك »

## قبیح او ملیح

که یو ځله ئې په سرور باندې کښېنې    رنځ د هجر به شی دفع د بیمار
په مدار مدار به ئې کاږم چه خوزنه شی    دبانو په ستنې ستاد پو ندې خار
« شمس الدین کاکړ »

(c) ketabton.com: The Digital Library



# دویم باب ـ اخلاق او نصایح

## الف : ښه خویونه

### ۱ ـ اخلاق

که د رنګ خوبي ئې ستایې بو دېې نشته    په جهان کښ که باقي دی خو اخلاق دی
« خوشحال خټک »

په خو یونو کښ ډېر فرق دی    که سړی پرې خبردار شي
ځینې هسې خوی آغاز کا    چه خپل هم ځینې و بېزار شي
ځینې هسې خوی آغاز کا    چه پر دی ئې خدمتګار شي
که څوك خپل خصلت ښه کا    تر سرو زرو به ډېر بېدار شي
« خوشحال خټک »

ثنا د ګل شي له ښکلیه بو به    صفت د مرد شي له نېکه خویه
اصل به نه کا ستا ښه هیچیری    د ګل له رنګه د مرد له رویه
« عبدالقادر خټک »

چه ګل همت ئې خوراك لباس وي    په تحقیق هغه ارذال الناس وي
شرف په خوی دی په دیانت دی    که څوك شریف وي یا څوك کناس وي
« عبدالقادر خټک »

په ښه خوی د سړي قدر قیمت کېږي    بد خصلت سړی یا دیو دی یا پېري دی
چه ئې علم و هنر نه وي ځني تښته !    بې هنر سړی که و ګوري لاشي دی
« خوشحال خټک »

په ښه خوی باندې پردی عالم خپلېږي    په بد خوی باندې خپل واړه شي سوا
« قلندر اپریدی »

که دې رنګ، بو، لطافت واړه د ځان کړل    نور د ګل په خبري پاس په دستار ګرځه
« فاضل »

د ښه خوی ګټه ده ډېره    له ګڼلو تراند تېره
هغه څوك چه اخلاقي وي    د هغه نوم به باقي وي
که د چا اخلاق ښه نه وي    د هغه به ژوند ښه نه وي
د اسلام دین دی راغلی    پېغمبر دی پا ځېدلی
چه پوره کی ښه اخلاق    او پر ځای کي دا میثاق
په خویو انسان انسان دی    که نه وي خو تش حیوان دی
مکارم انسانیت دی    رذائل حیوانیت دی
« عبدالکریم کاکړ »

هر طرف پري سره ځمکه سره پښته شي
په نسب که خان ، نواب قاضي قضات وي

لکه کښت لره باران اوباد په کار دی

۲ ـ په ځان باور « او » همت :
چه فلك سره سر باسي
کړه ئې ندی بی حکمته

رب دي مکړه د اخلاقو په سپکه
بد اخلاق سړی نه ارزی په کنجله
« احمد گل لالمی »
د عالم تولی په خلق په احسان شی
« خوشحال خټك »

په همت کښې هغه زه یم
زه خوشحال دده په کړه یم
« خوشحال خټك »

په تېرو تورو ور دروی یکسر نگان
د کنجکو قدر یو ، د در ویل د ی
ار تگی د زړه دلیل د جنتی د ه
د باد شاه په سلطنت پوري خندا کا
نور ماهی ئې تار په تار دروی له مخې
دهاتی دپاسه سپور ورته پیکه وی

په له بو باندې ځا ن ولی پتنگان !
ننگیالو سره څه ژوی بی ننگان
د دو زخ دا ور لا یق د ی دلتنگان
په سپهر و ایرو لړ لی ملنگان !
ما تو ی لو لی بیړ ی ، نهنگان
چه د میو پیالې آخلی سر هنگان
څه د ځان صرفه اوس کار کوه خوشحاله
لکه کار کا پر ها ر ژ اړی پلنگا ن
« خوشحال خټك »

چه په غوښو ئې روز گار هغه زمری یم
که عالم راته کل تا وکاغم مې نشته
په دانش په شعور نده په همت ده
هر پښتون چه د مغولو نو کری کا
چه منصب مې د مغل خوړ یو ملك وم
د فرمان د پروانې حکم ئې نشته
نهمې کار په خاص وعام نه په دیوان دی
نه تصدیق شته نیادداشت شته نه توجیه شته
هر گیدی به چه له ما سر کوزی غوښته
پښتانه لره شړیء اندېږ مې بس دی
آزادی ده په ساده سپینه جامه کښې
د وښو جونگړې هسې راته ښې شوې
که او گره د پتو شته په شړو مېو سپینه
چه نیولی مې داهود دننگ ونام دی
په بل غشی توپك هیڅ ویشتلی نه یم
چه شهپر مې بتی خیل وو کندو کیرشول
د کریز بنړې مې توڼې لکه باز کړي
تف په زړه د همه وادو بار کو

نه چه والې ئې خوراك هغه مېږك یم
په رښتیا ویل د ډېرو پو لیو لك یم
چه دا هسې سر گردان لکه پتك یم
که د ی زر ، د هغو وادو بهترك یم
چه منصب د مغل نشته اوس ملك یم
شکر داچه په خپل حکم په خپل وك یم
نه په درو لاړ د هر یو ه مردك یم
نه په فکر د سند نه د دستك یم
د هغه د سر یا توره یا کوتك یم
نه په فکر د مسندنه د تو شك یم
خلاص دغمه د زر بفت اود میلك یم
وایی ناست په محلونو د آهك یم
د مغولو پولاو پاتې ډېر بری ډك یم
که له خپلو هوده وا ودم کنیزك یم
که ویشتلی یم خو بیا په خپل توپك یم
پر وا دار په لنډو پرونو دبارك یم
گمان مه مکړه چه بی پرو ښا پیرك یم
لا زما په زیره هم که زه بارك یم

که دواړو پښتنو را ته تسلیم دی — زه خو بیا دسباکیء انا خښتک یم
نن خو قام‌را سره ډېره جفا و کړه — کانده بیا د خدای وحکم و ته ښك یم
که څه حق یا دنیکی یا دوروری شته — و یا داش وته په طمع د هر یك یم
مهمندی زما د کډی لاس او پښې دی — راضی من دافرید یو یه کو مك یم
ډېر چینی چه تراوش و کا دریاب شی — چه ایده شم اوس خود ایم یو بولك یم
کر لانی خړ ښنی خو چه پښتانه دی — زه د ننګه په کار دواړو مشترك یم
که مې عمر په شماره تر شپېته تېر دی — لا په کار د سواریء لکه از بك یم
د افغان په ننګه مې وتړله توره — ننګیالی دزمانې خوشحال خټك یم

« خوشحال خټك »

❀ ❀ ❀

حواله مې په تیشه د فرهاد شه ده — تر هغه چه نا هموار لکه ښا را یم
تر هغه چه سرد جوشی د حنا وینم — خو ش په طور د مك بې دست وپا یم

« کاظم خان شیدا »

بار دهر خس‌وخاشاك پەخپل گردن زده — حو صله دې په مثال د لوی دریا کړه

« کاظم خان شیدا »

راته یو دی بحرو بر — که څه سمه وی که فر
په همت به ئې تسخیر کړم — په شاها نه شا ن وفر

« احمدشاه بابا »

ای مرزا په خپل اختیار له ځایه پاڅه — دون همت اندېښه مه کړه بله بله

« مرزا خان انصاری »

که فلك ئې دزمری پەخوله کښې ور کا — خدای‌دې نه کا چه‌عارف پکښې غارت‌شی

« خوشحال خټك »

ځه‌هغه شهباز شه‌چه دې‌ځای په سردرو وی — نه لکه د کلی کارغه گرزه غم دښ کړه

« خوشحال خټك »

که ئې ته په منت مومې وائې مه خله — که دچا په باغ کښې بوټی د کیمیا دی

« خوشحال خټك »

سردې درومی‌مال دې درومی پت دنه ځی — د سړ ی د چارې کل خو بی په پت ده
چه‌یې خدای ور کاو چاشکرد کاندې‌ندې — په جها ن کښې لو یه بخر ه د همت ده

« خو شحال خټك »

علم تا بیائی په پورته جهل تابیایی په ښکته — یاعیسی اره وردرو مه یاقا رون ته‌ځان‌سپاره
د نباتو حلوامه‌خوره چه‌منت‌ورسره مل‌وی — خپل کشکاب‌دخپل‌محنت خوره‌په‌سرراوده‌پشتاره

« خوشحال خټك »

❀ ❀ ❀

هغه ژ یست چه د عز ت له مخه نه وی — چه‌یې کا به هغه ژیست پورې هکه پکه یم
اوریې پوری په منصب په نو کری شه — چه تر فهم و تر نظر د مغل کښك یم

(c) ketabton.com: The Digital Library



په خپل نام و ننګ چه را شم لېونی شم
چه په طمع د اوږ و زغلی و شست ته !
تر قضا پورې د هیڅ چا ره نشته !
لکه باز په لوی اوی ښکار زما نظر دی

خبر دار کله په سود او زیان د لګې یم
ګمان مکړه چه هغه ناپوه سړی یم
او کنه تر زاړه ذئب لا زیرک یم
نه چه ګرځی ګونګټ نیسی باد خو رګې یم
« خوشحال خټک »

❀ ❀ ❀

که د جام لکه حباب وه نه نیو سینه ته
آفرین دې په همت شیدا خټکه
« کاظم خان شیدا »

❀ ❀ ❀

په څو غره په غره د باز غوندی پرواز کا

بیا به وانی د خوشحال خټک پرنشته
« خوشحال خټک »

ساقی جام د میو مه پرېږده له لاسه
د بلند همت کښې پورته پورته درومی

څو د عقل څه زده وی لا به مست کښې
ښکته ښکته ځی سړی په پست همت کښې
« خوشحال خټک »

چه همت د سړی څو قدری هومره
د و لتمن سړی هغه بلبلی بو یه

د آمیز په تله هر سړی تیار له شی
چه له سینده نی جدا د چا واله شی
« خوشحال خټک »

نوره پښتو نخواه په ځای میشته ده
که یی درست د هغو زور راته ښکاره کړه
عجب مار می چار وتلی تر دوه پښو دی
مست ها تیان خونی زمری په زنځیر کښېږی
په خپل ا ه مې باور شته اثر به وکا !
یو دوه سړی مار می پروت په دواړو پښو دی

خو یو زه دی زمانی په کښې منصور کړم
نه به بیا په قوم کښې کښېنم نه به هور کړم
مګر لوی پاڼو پیداشی چه یه دور کړم
بویه دا چه ځان فلك وته تر بور کړم
رقیبان به اور لړ و نی د تنور کړم
په دیدن یی له نشاطه نه نفور کړم
« خوشحال خټک »

کار په خپله تر دستی لکه حباب کړه

چه محتاج د خیاط نه شی پیرهن ته
« کاظم خان شیدا »

د باښی دباز نصیب شوی تازه غوښی

دوچ در بو بیخ نصیب شود سپهر کنندی
« مطیع الله »

وزی تښتی پروت په خپل پوز کی ښه ئي
د منت پو لا ودې زهر شه که ئې مومې

نه په تخت د پاسه ناست د بل کره
د محنت سوی سکړك د ساګی سره
« عبد الحمید مهمند »

که د توان رسی به لوی دریاب کښې ګرزه
عاقبت به ککری ور پاندی کښېږدی
هغه یار که په پالنګ را سره نشته
د غمزې په تیغ ئي خوږ ښه ئي خوشحاله

په بیله کښې دي زوال وینم نهنګه
تر څراغ چه کېږي وښی ګرځی پتنګه
داهم شکر چه ئي بوی ځی له پالنګه
مړ نی په روغ صورت نه ځی له جنګه
« خوشحال خټک »

که غوټۍ پسې وهې په لاس به در شي      چا وې دا چه په دریاب کښې گوهر نشته
که د جنگ په کار کښې ډېر دي حکمتونه      خو صفا به هر نشي زلمیه ظفر نشته
شه عجب باد شاهي لکه خورشید کړم      یکه تنها په جهان گرزم لشکر نشته
د منت دارو که مرم په کار مې نه دی      که علاج اوره مې را شي مسیحا هم
« خوشحال خټک »

راشه گوره نامردان بلا و هلي      د بري میدان هر یوه دی لري تې زغلي
د آسمان د پاسه گنبت ننداره نکاه      کوز د ځمکې د تلي په مینځ کښې هلي
مړ هغه چه هیڅ نوم نه یې نښان شته      تل تر تله په ژوندون پاتې ښاغلي
خوک به خپل همت کړل کاد اغزیو      چا په خپل پښې گډو نه دي کړلي
پسینه کړنه هومره فائیده نکا      چه په وخت کړ نه وکا پر آخلي
چه محنت په ځان قبول کا راحت موی      رنج و گنج سره دا دواړه دي تړلي
« خوشحال خټک »

ښتیا د د چاري په مصلحت دي      بیا د مړ د انو په ښه همت دي
چه سره یو شي دا دواړه نو که      واړه دولت دي حرمت عزت دي
« خوشحال خټک »

مردان هغه دي چه همتناك کښې وي      د ننگیالي په کار کښې چست و چالاك وي
کار چه آغاز کا انجام ئې فرض گڼي      په زړه هم پاك وي په خوله هم پاکوي
« خوشحال خټک »

چه په خپل دخپلو وینو سر خرو گرزم      ځه منت به دد و نا تو د دینار کړم
چه په وازه خوله مونده شي مه یې وینم      که صدف غوندې حاصل در شهوار کړم
« عبدالقادر »

که د ځمکې غوندې کوز به تواضع یم      په همت تر واړه پاس لکه آسمان یم
« عبدالقادر »

چه همت دې د پیوس دی ځان باز مکړه      ځان په رسم د جانباز و جان باز مکړه
« عبدالقادر »

هر سړی په موافق دخپل همت نظر ارینه      په ورو چارو هیڅ کله کاته نکاندي لوی چاری
« عبدالقادر »

مردان هغه دي چه همتناك وي      په هره چار کښې چست و چالاك وي
چه غم پسې را شي پروا دغم نه کا      خوازه له هر چا په زیست وژواك وي
« خوشحال خټک »

چه په شان د آفتاب ندی گرم رو یه      ستا به سر کی به سایه دهما خو ښي یم
« کاظم خان شیدا »

چه همت مې نه کا ډېر به هسکو او      لکه موج نکړمه یم له پسر پو تلو
سوال مې خوی له در افشانه ابر ندی      صدف ورانه خپله خوله کړه په غوښتلو
د آفتاب به کمند نه خېژم آسمان ته      به زدم بار لکه شبنم پر دوش د گلو
« کاظم خان شیدا »

(c) ketabton.com: The Digital Library



٣ـ امید :

د شپې خښتن دې سحر ته ګوري
هېڅوک دې طمع امید پرې نه کا

ګوندې پرې و خپرېږي د صبا ستوري
باران په تېز و کښتو نو اوري
« خوشحال خټک »

له مقصوده نا امید مه شه پښتخته

خدای په څمکه کامرغونه د هوا پېښي
« عبدالحمید مهمند »

دادستور دی چه شپه و لوېږي په ځمکه

په شتاب ور پسې صبحدم را ځي
« عبدالحمید مهمند »

په ژوندون به لکه شمع دلسرد نه شم

چه تر مرګه پورې زما جانګزاري ده
« کاظم خان شیدا »

هر ګره ګره کشا لري نېکبخته

نا امید له خدایه غو ته جبین مه شه
« عبدالرحمان مهمند »

٤ عزم او توکل :

د هوښيارو نادان هومره تفاوت دی
که په مابانديې خرخ خوري پروايي نکړم

خود ځمکې د آسمان په مینځ کښ وت دی
ده هر کله دانا سره په نښت دی
«خوشحال خټک

نه رسي تر پاره هر چه ډېرې اندېښنې کا

نورې کیسې پرېږده د عشق په تو کل هسې
«خوشحال خټک»

هغه باغ چه تل ما واده د بلبلو
دزړه راز و چاته ووايم حيران يم
تو کلت علی الله و پنا پسو ه ده

اوس په ده کښ د بلبلو آواز نشته
په هر لوري چه نظر کړم همراز نشته
د خوشحال دزماني سره ساز نشته
«خوشحال خټک»

په پرېشانو اندېښنو خاطر پرېشان شي

جمعیت مومی خاطر له تو کله
«عبدالقادر خټک»

٥ ـ جد وجهد :

په طلب کښ دې سستي وینم درویشه
نعمتونه رنګارنګ دی په هر لوري
څو طلب هومره موندل دي په دادور
د عسلو خوازه کله هغه مومي !

چه و تلی یې ددې خونې له ویشه
په غښتونی پا نه پې نده جفا پېښه
بلکه لا تر طلب بخره مومي پېشه
چه حذر کا د مچی له پاده نیشه
« خوشحال خټک »

غشی چه ډېر ولی نه تير انداز شي
کار د محنت دی د مشقت دی

چه مشق دخط کړي وخط ته ساز شي
ودو ورو په هر هنر ممتاز شي
«خوشحال خټک»

هر مرغه چه دبل غوښې خوري مردار دی
دذري په خير دلمر په طلب ګرځه
کار په تش لستوني نشي بې دلاسه
چه تقوی د پانت نلري رحما نه

ځان حلال کړه لکه زانه شاهین مه شه
لکه تيښه هسې پروت په زمين مه شه
لاس په توره کړه بې لاسه آستين مه شه
د دې هسې همنشینو نشين مه شه
«عبدالرحمان مهمند»

چه زمري خپلې منګولې نه کا ګېلې — هومره نه وي شربې غوښې ورته لې
مرجونړا درو مرجان هله ولجه کا — چه قبول کاندي د بحر خوني چلې
عاشقان چه ترسره تېر شي هله شکل کا — د ابرو پستې خولې لکه ځلې
بازچه والوزي له جالې هله ګوري — د کبګانو ښايسته ستر ګي کجلې
چه داور ښکري ياد سره رفيق شي — بيا هاله کا په ملکو نو لمبې بلې
چه سيلاب دغره دسره نه روان شي — بيا هاله بيايي په مخ دبري خځلې
«خوشحال خټک»

* * *

په تحصيل پسې يې ځکه کوښښ بويه — خپل هنر له لاسه پريږده خوشحاله
«خوشحال خټک»

چه توده ترخه قبول لکه درياب کا — هم هغه د قيمتي د ر و مآب شه
چه لمبه يې د آتش کړه په ځان تېره — له هغه پسه د ګلا بو ګل ګلاب شه
د کمال کسب پا يه دسعا دت ده — هغه ښه چه د کمال په اکتساب شه
ته هم زده مراد وغواړه له عمله — چه په علم يې عمل وکړ کامياب شه
«خوشحال خټک»

ښادي عم غوندې آسانه مونده نه شي — سور په خپلو وينو لعل د بدخشان دی
«عبدالرحمان مهمند»

زر ندده له څه حاصل کاندي چه ګرزي — يو زمان قراري مه کړه له طلبه
«عبدالقادر خټک»

له آزاره چا بازار مو ند لی ندی — له انګاره چا ګلزار مو ندلی ندی
تلوار مه کړه په خپل وار به برخه در شي — بې له واره چا خپل وار موندلی ندی
په قصور مطلب موند نه شي پسې پاسه — له ګفتاره چا کردار مو ندلی ندی
«مطيع الله پير خيل»

کار کوه کار په کار هم کار دی — ناوان په ځان باندې خالي ګفتار دی
عقل څه بل دی خبري نور څه دی — ګو تره ګويه طوطا طرار دی
«عبدالقادر خټک»

لکه عامل شوه د خا ورو لاندې — عمل هم ورک شو په مځکه باندې
او س په خبره بروول و بډل دی — دا بيت بازي دي عالم يې کاندي
«عبدالقادر خټک»

کله به لا درومې له ماي دسحر خوبه — خوب بيغمه نه کا چه په مخکښې منزل دی
«عبدالقادر خټک»

چه محنت په ځان قبول کا نو راحت شي — چه عارف د مصيبت شي عافيت شي
«خوشحال خټک»

٦ ــ صبر او استقلال :

غشي چه ډېر ولي ښه تير انداز شي — چه مشق د خط کړي و خط ته ساز شي
کار د محنت دي د مشقت دی — ورو ، ورو ، په هر هر هنر ممتاز شي
« خوشحال خټک »

مړ تېي د هر چا نند ی سره سمې — دخرد بار د فیل په شا باندې متقال دی
نه چه لافی د مردانو د میدان کړی — په میدان دی کوم راوړی استقلال دی
که همه خلق پسې سنز شه پخندنه — بیچاره خوشحال په خپل هنر خوشحال دی
« خوشحال خټك »

دمرد چه صبر چه استقلال نه دی — چه غم پرې راشی پکښې خو شحال نه دی
مرد ی پسې هیڅ ده و زما یه بو هه — که بی په جاه ودولت شوك سیال نه وی
« خوشحال خټك »

اضطراب به دې خلاص نه کاله غذاب — مستقل و ر نه په صبر و تحمل شه
« عبدالقادر خټك »

په تا چه راشی خدا ئه لو یه — تېښته تسلیم صبر نه بو یه
نه به پې دفع به صبرو کړی — نه به لیعکر و به زرا و زو یه
« خوشحالی خټك »

صبرو نیسه په دخکښې که مراد غواړی — هیڅ کړی دغه کار په شتاب ندی
« عبدالرحمن مهمند »

ای حنیانه صبر و کړه مراد به مومی — د فلك زر نده په وار ده پس ، پېش
« مرزا حنن »

خلاص به نه شی سرکشان له گوشمالی — چه فلك به جهان شته دی تلوار مکړه
« کاظم خان شیدا »

دا نا پی مه گڼه چه صبر نه لری — چه صبر نه لری حکمت به څه لری
سړی د صبر به کار کښی و زمیه ! — چه صبر ناك وی هر څه به شه لری
«خوشحال خټك»

صبر ناکو سره جور فلك نه کا — د فلك جور د چا چه سبکسار و
« خوشحال خټك »

ژوندی که گرځی خان پی ژدلی دی — تو ر زن د سر به وینو لړ لی دی
چه صبر نه لری ظفر به نه مومی — ظفر له صبر ه سره تړ لی دی
« خوشحال خټك »

شورش مکړه د گردون له کشمکشه — اومه کلکه کا مرغی له اضطرا به
« اشرف خان هجری »

## ۷ــ دوخت اهمیت :

دو باره دې را تله نشته په د نیا — نن دې وار دی که دروغ کړی که رښتیا
هرچار چه تر وخت تېره شي عنقاشي — عنقانه نیلی به دا م کښی د هیڅا
تر ورخ تېری او به بېرته نه جار وزی — نه جار وزی تېر ساعت به بېرته بیا
تېر ساعت په مثال مړی د لحد دی — مړی چاری ژو ندی کړی په ژړا
هره ښه چه صحیح گڼه به زړه کښی — په اغمر ور به هغه ښه کړی خطا
په عمل د نیکو بدو فهم و کړه — چه به دا کښی دې بهبو د دی که بېدا
« عبدالرحمان مهمند »
عدنه

چه بې وخته ارمان کا په وخت ویده وي
د هغه عالمو زړې د وښکو دي
« عبدالرحمان مهمند »

که د پېره سعیه کوښښ کړي څه شي
په وخت چه نه کړي بې وخته څه شي
که هر څو مټ په بېړۍ ملاح کا
په ژانګک چه کښېوزي پوري هاله شي
« عبدالقادر ختټک »

آبشاره ! ولې دا هسې ژاړې !
له چا فریاد کښې خوك بسې غوا ړی
که تل فریاد کړې په کاڼو سروهې !
بیابه را نشي او به نچه لاړي
« عبدالقادر ختټک »

کړل دي ویل دي دواړه اوان لري
چه وخت بې تېرشي افسوس ارمان لري
چه کار دنن ورځې پرېږدي صباته
هو ښیار به نه وي دا خوی نادان لري
« خوشحال ختټک »

۸ ـ زړه

شه سړی پردي په دلاسا په نیکۍ خپل کا
کوم شاغلی ده چه خوك بد کازړه دیار خپل
« خوشحال ختټک »

پوزړه دخوشحال ندی چه جهان یکښې ایده شي
دهرچا زړه مرآت دی صفائی وراره بویه
« خوشحال ختټک »

دواړه څکو نه لکه تن دی
کار د تن جوړ وی زړه
زړه بې چون او بېچگو دی
خوك دا غمو شه گڼی زړه
« خوشحال ختټک »

څودي زړه خاندی خوله دې خندا کا
چه زړه دې ژاړی سترګې ژړا کا
مدار دهرې چارې په زړه دی
زړه دې مفتی دی هره فتوې کا
« خوشحال ختټک »

د نازکدلو اطوار مشکل دی
په داپه پوه شی هر چه عاقل دی
مم بې نته ګنډل بې هم لا
که زخمی شوی د مینا دل دی
« کاظم خان شیدا »

مڼرو سوځه په اور کښې شراب وځښه
در ته وایم خو د زړونو آزار مکړه
« عبدالرحیم هوتك »

که هزار ځله تقوی پرهېزګاری کړې
شه دې نشته چه مدام دل آزاری کړې
« عبدالرحیم هوتك »

قلب د دمومن ګوره ملقب په عرش الله دی
زار ذار زار جوړو چه دزړه په بازار پلوسی
« دالپوری حافظ »

چه ذزړ ټوټو دنیا ځلو ... پروا وي
تړو که زړه د سړی پوسی څه پکار
« عبدالرحمن مهمند »

و ګوری پواړه کاروته خپل کا
مردان هغه دی چه کار د پل کا
خو کډ چه آرام ګټي د شکو نام ګټي
د خوزو زړو نو دارو په تل کا
« خوشحال ختټک »

نه سره سم دی و اده مړ و نه ؛ — نه سره سم دی دهر چا زړو نه
زړه هم هغه ګڼه چه اکه غرشی — که پاندې راشی هزار غمونه
«خوشحال ختک»

مرهم په زړه‌زده پر هارونه — دا نیا به ګل کړی نادان خارونه»
په هره سوړه لاسونه مه منډه — پکښې به خوب کا خونی مارونه
« خوشحال ختک »

زړه دی دهر چا سره صفا وی — بهچا ګرم مه‌شه که‌دې رضاوی
که‌څوک ناحقه اتا پرخاش کا — اندوه ئې مکړه ظفر به ستاوی
«خوشحال ختک»

په‌بدن کښې دزړه اهمیت .

زړه په مثل د پادشاه دی — هر اندام د ده سپا دی
تول د ده فرمان برداردی — دی پادار دوی خدمتګار دی
کل اعضا یې مسخر دی — د ده حکم ته مضطر دی
په فرمان یې خوله ویل کړی — لاس نیول ، ستر ګی کتل کړی
په بدن کښې ګوشت پاره ده — چه څوک چنو تې یې جثه ده
چه وی راست شی راست بدن شی — چه فاسد شی فاسد تن شی
پس چه شو صلاح فساد : — تمامی په زړه بنیاد
تمدام اصلاح دزړه کړه — په هیڅ وخت غفلت مکړه
زړه په مثل ګنجینه ده — د ګوهر و خزینه ده
دیر پکښې دی جواهر — قیمتی نفیس نادر
اول، عقل به ګوهر دی — د جمله نعمتو سر دی
بل ګوهر یې معرفت دی — زیات ترنورو په قیمت دی
نور علمو نه حکمتونه — واړه دی اوی نعمتونه
چه زړه هسې خزانه ده — د ګوهر و ګنجینه ده
پس لازم یې ده ساتنه — له جمله ؤ غلو رهزنه
چه دښمن یې تالا نه کا — جواهر یې یغما نه کا
«حبیب الله کاکړ»

چه‌غرقاب‌شی تورمژګان په‌نم‌دزړه — نورخراب شی خانمان په دزړه
عبث‌وای غم دزړه وبوالهوس ته — څه‌پوهېږی هلکان په غم دزړه
په بل مخ باندې سوا د یار له مخه — ما تړلی دی چشمان محکم دزړه
چه‌یې‌عرش او کرسی لاندې‌ترقدم‌دی — بالا تردی هسې شان قدم دزړه
دخلیل له کعبې ۱۰ کعبه ده اویه — که‌آباد کاڅوک ویران‌حرم دزړه
که‌نور خلق قدمونه ز دی په مځکه — مادی ایښی په آسمان قدم دزړه
دامکان‌چه‌د آسمان مځکې‌ترمیان‌دی — یو خلوت دی دامکان سلم دزړه
زه مرهم دزړه له‌چا غواړم بی‌یاره — چه کړی نشی طبیبان مرهم دزړه
صورتی همدان دېر دی په دنیا کښې — ولې نه مومی رحمان همدم دزړه
«عبدالرحمن مهمند»

همیشه په ځای د شکر شکایت کړي!    منکر پېژي په عطا د سبحان و اې!
د ربېلي خدای ده ري چه ري توان دی    په د ير توان کښې خپل ځان بولي نا توان ولي!
زړه د نفس په پیروی در ځځه لاړو    د خبیث په لاس دي ورکړو قرآن ولي!
« رحمان »

بنګ شراب سرود کوه عبدالقادره!    خو يو مکړه آ زړه د مسلمان زړه
«عبدالقادر»

مړه دل دي له تره زړه بېرون کا    يو ساعت په کور کښې نه پرېږدي خوک مړی
جمعيت چه لدنیا په نیا غوا ړی    هغه غړی په معنا د شګو پړی
«عبدالقادر»

هر څوك چه يو کار زړه خوله خپل دواړه    دو يم په نيت شي ثابت له واره
که کمي ورغی په دین د نیا کښې    تاوان يې واړه وزما په غاړه
«عبدالقادر»

هغه چه ستادی چه يي سائل نکړي    ويره مي کېږی چه يي د بل نکړي
که دادي خوی دی دادي خصلت دی    خپل په پردی کړي پردی په خپل نکړي
«عبدالقادر»

چه زړه له تا نه دچا بنه کېږی    بنه کړه د عا ګټه د عا قبلېږی
ازار د هيچا د ا خستو نه دي    ښېري د خو ز و زړو نو لګېږی
« خوشحال ختك »

لتو مه ګنج د زړه په ويرانه کښې    پر و ا نلرم د شهر په عسس
«شمس الدين کاکړ»

زړه ولاړ شو اوښي يو وار بسی ولاړ ئی    لکه چير ته ابشکر د روی د سلطان دوست
« مرزا حنان »

زړو نه مه ماتوه لعل د بد خشان دی    يا مشکل دی ر غول د شکسته و
« خوا جه محمد بنګښی »

چه بهتر تر در ګوهر دی هغه زړه دی    چه پراخ تر هر کشو ر دی هغه زړه دی
مکرم په مخلو قاتو کښې انسان دی    په انسان کښې چه بهتر دی هغه زړه دی
کم يې مه بو له بېحد ه مشرف دی    چه د خدای باندي نظر دی هغه زړه دی
دمکي حج خو موقوف په يوه وخت دی    چه مد ام حج اکبر دی هغه زړه دی
که هر څو يې صفت وکړم څه به و کړم    چه تر حد صفت بهر دی هغه زړه دی
د زړه شان خو يو بېحد ه عالی شان دی    چه تر ډېر خوبو خوبتر دی هغه زړه دی
سرچشمه د معرفت د لوی در ياب دی    چه محل د در ګو هر دی هغه زړه دی
څه سيالی به نيشکر ور سره کاندي    چه شيرين تر نيشکر دی هغه زړه دی

دا د خولي په وينا حکم دقاضي دی    چه مقبول دخدای په در دی هغه زړه دی
چه ظاهر وباطن دواړه پري رو ښان دی    چه دا هسي بلند لمر دی هغه زړه دی
هیڅ اشیا یی لـه فتره بیرون نـه دی    چه د درست جهان دفتر دی هغه زړه دی
زه نبی به یی نن کم هنر بیان کړم    چه منبع د هر هنر دی هغه زړه دی
« عبدالنبی »

دلجو نـی به دي تمام و ګړی و کړی    کـه ته هم د دلجو ئی په جستجو ی شـی
« قلندر »

داپند له مانه په زړه کښي یاد کړه    خو دي لاس رسی مروت د اد کړه
زړو نه د هر چا په احسان ښاد کړه .    آز اد بنده کړه بنده آز اد کړه
« عبدالقادر خټك »

۹ ــ ژبه

نولا دی تو ره وی که اوږه تبه !    تر دا لا بده ده بد ګو یه ژ به !
ډیر یی بلا به د ر خخه وا وړی    ژبه که بده کړي د پند طا لبه !
« خوشحال خټك »

په واك چه نه اری په کام کښي ژبه    که ګنګك شی ښه دی په لو یه تبه
په بده ژبه ځا ن ځی جهـا ن ځی    ایمـا ن لا هم ځی و ا وره طا لبه !
« خوشحال خټك »

خوږه مړی ده کـه خو ږه ژ به !    چه خولا یري خپل کړیزما صاحبه
هنر هم دادی کـه دا هنر اري    چار به دي تل وی تر سیا ل غالبه .
« خوشحال خټك »

که هر څو ښه یي تر صحبتو نه    عـلـم اد ب لر ي فصـا حتـو نـه
لا به په ژ به ډیر فهم و کړ ی    د ژ بي د پـر د ی قـبـا حتـو نـه
« خوشحال خټك »

ژبه عـا دت کـړه په ښه و يلو    چه دي عـا د ت شـی هغه تـر تلو
که یی عـادت کړي په بد ګـوئـی    مخ به دي تور کا تر یر د و خپلو
« خوشحال خټك »

به مر هم دخوشامند سره روغ مشه    هغه زړه چه پکښی تیغ دزبان کښیښی
« پیر محمد کا کړ »

په مجلس کښي دمړو یو څکه زاړی    شمعي هم څکا ره کو له بله ژ به
« عبدالله یو یلزی »

هر سړی چه شی ګویا لکه قلم    سر به یی شی له تن جـدا لکـه قلم
« عبدالله یو یلزی »

درست عالم په داخبره خبردار دی    چه بلبله خپلي ژ بي په قفس کړه
« خوشحال خټك »

سلامت کاروان به تېر کړی له رهزنه — که جرس رنګه نه کړي په غوغا ژبه

« ملاجمعه »

که تازي ژبه هر ګوره ښه ده — فارسي هم ډېره په خوند خوږه ده

چا یې پلو د جمال وانه خیست — پښتو لا هسې پکره پرته ده

«خوشحال خټک»

ژبه په تن کښې څه عجائبه ده — صحت هم ژبه ده ژبه هم تبه ده

چه ښه مې ځیر کړ ښه پرې خبر شوم — جنت هم ژبه ده دوزخ هم ژبه ده

«خوشحال خټک»

جنګ د هاتي او مزري آسان دی — د خپلې ژبې آفت لا ګران دی

چه خپله ژبه یې په خپل فرمان کړه — هم یې رستم ګڼه هم لا لقمان دی

«خوشحال خټک»

که څوک نېکان دي که څوک بدان دي — په دا دنیا کښې چه په هر شان دي

مه یې ستاینه کړه مه یې غندنه — نه به یې څه کړي چه د خپل ځان دي

« خوشحال خټک»

د هوښیارو ژبه پټه وي په زړه کښې — راز به نه وایي اشنا ونا آشنا نه

لېز او ډېر ویل به نه کاندې بې ځایه — هیڅ باطل ویل به نه وایي و چا ته

«خوشحال خټک»

ژبه عادت کړه په ښو خبرو — خبرې ښې دي ښه تر شکرو

د خوند مثال یې شکرې وایم — قدري ډېر دي تر مرغلرو

« عبدالقادر »

لکه وږدې له میدان ګوی داخه ژبه — نه یې شي ودلای په تېره کړي شمشیر ګوره

« عبدالحمید مهمند »

که دین دنیا غواړې پرده پوشي کړه — فتنې له خولې پاڅي نو خاموشي کړه

که نه خاموش یې نه پرده پوش یې — بېخوده پر یوزه باده نوشي کړه

« خوشحال خټک »

سخي یې مه ګڼه چه نن یې خوار نه وي — باتوري مه بوله چه پرې پرهار نه وي

که دانشمند وي تفسیر په یاد لولي — چه ډېر ویل کا دي به هوښیار نه وي

« خوشحال خټک »

ښې خبرې در ګوهر خاموشي مهر — دانا تل ځکه په خوله د خه خاتم ږدي

« عبدالقادر خټک »

د میرو میره د خانو خانه — د جهانیانو جان او جهانه

دا رنګ لوی به هاله روزي کړي — که وي نېکنیته او نېک زبانه

«عبدالقادر خټک»

بحر خاموش دی سیلاب غرغر لری — سیلاب تش لاس دی سینه امن یو لری
دسیلاب گیډه دکانو دکه ده — بحر یه گیډه کښی قیمتی در لری
«عبدالقادر خټک»

لهخامی جوش وخروش خېژی لهدیگه — دی له خپلی پختگی پختگان چپ
یه ابو بهدې دیوه شی دمراد بله — کهصدفغوندې پهصبر کړې دهان چپ
چه دانه پهخاورو پټه شی خوشهشی — یه گو گل دننه وساته ارمان چپ
دبلبلو ناري پې ندي پر گلو — چه پهسر ولمبو کښې سوځی پتنگان چپ
لکه کاه اوکهربا چه سره بولی — هسې پټهخوله بلل کاندې یاران چپ
«عبدالحمید مهمند»

سپین ویل دحق کوه عبدالحمیده! — کهیه زبه اویزان شي لکه صبح
«عبدالحمید مهمند»

تماشا دزمانې کوه عظیمه! — مه له خولې نهخه وباسه مهخه وایه
«عبدالعظیم رانړزی»

مسافرلان له گفتگو په خفه کېږی — شی نفس دآئینی یرمخ غبار سخت
«مرزا حنان»

١٠ اخلاص:

گوره څه بلند مقام دی د اخلاص — چه جهان واړه غلام دی داخلاص
کهله څمکې نه اسمان ته خاته گران دی — د اسفر په یوه گام دی داخلاص
چه خبر کا مخلصان له علم غیبه — داهمه واړه الهام دی د اخلاص
در واج د رسم عمر مدام نه وی — لکه عمر چه مدام دی داخلاص
بی اخلاصه حلاوت د اسلام نشته — که اسلام دی خو اسلام دی داخلاص
څهعجب دی کهمستان وی تری چاپېره — هرساقی څخه چه جام دی د اخلاص
څه عجب دی که همای به دام نیلی — هر صیاد څخه چه دام دی د اخلاص
درحمان کلام یه داسبب شیرین دی — چه پی هر کلام کلام دی د اخلاص
« عبدالرحمان مهمند »

هرباغی بوزې بنده کاندې اخلاص — هر بی شرم شرمنده کاندې اخلاص
آب وتاب بی عالمگیر لکه افتاب شی — هرجبین چه تابنده کاندې اخلاص
هیڅ پروایی دحیوان په اوبو نهشی — څه ژوی چه زنده کاندې اخلاص
هیڅ مقراض بی غوڅولی په خوله نهشی — هرپیوند چه پائنده کاندې اخلاص
څه کار چه سحر گر کاندې پهسحر — ترڅهیی خوچنده کاندې اخلاص
سحد لاسه زوړ کافر دلو کا او — واسلام ته خواهنده کاندې اخلاص
دنفاق له اهله څان ژغوره حمیده! — په لباس بدې گنده کاندې اخلاص
« عبدالحمید مهمند »

هر یاغي او هر سرشوخه هر بې شرمه — همه واړه شکسته کاندي اخلاص
په نیکۍ نوم په عالمگیر لکه افتاب شي — هغه څوك چه همیشه کاندي اخلاص
د نفاق د شپې تیاره به رڼا ورخ کا — چه سحر غوندي خنده کاندي اخلاص
که بې پښو لره راتلی ملامت یم — که انسان له درنده کاندي اخلاص

« شمس الدین کاکړ »

۱۱ ــ راز ساتل :

چه بل خبر کړي د زړه . راز یه — هوښیار په څه یې و ماته وایه !
هرچه هوښیار دی هنر یې دادی — خبره نه کا چاته بې ځایه

« خوشحال ختك »

د باد شاهانو به راز خبر مه شه — که یې خبر شې ځان ته غاوره مه شه
رازیې د زړه په صندوق کښې وساته — په ښکاره رول یې چاته لر برمه شه

« خوشحال ختك »

که چاته وکړي د زړه خبره — تاکید یې وې و کړي چه وې نغره
که دي خپل ځوی وی گمان پرې مکړه — چه به یې نه کا چاته ظاهره

« خوشحال ختك »

که پیدایه زرکې نه وښکې آواز — نه صیاد د ځنې خبر و ، نه شهباز
سکه له دې خبرې هسې معلومیږي — چه خپل صوت دی هر سري له غماز
د منصور و حال ته گوره حال ئې څه شو — خدای دې فاش د هیچا نه کاندي پټ راز
دریغه دریغه که وروستې عقل د ومې وای — د انجام خبري نه شي په آغاز
چه منکر پرې اعتراض کولی نه ئی — دا د شعر دی رحمانه ! که اعجاز

«عبدالرحمان مهمند»

ته چه مایوښتې دیار له حقیقته — څوك دیار خبري کاندي و اغیار ته

«عبدالرحمان مهمند»

خاص خلوت د ښکلیو عام په وخت د خط شي — کم فوت سړی له هرچا سره راز کا

« عبدالحمید مهمند »

ځای په ځای په ستا د مال حساب کاوه شي — خپل اسباب د کاله مه ښیه مزدور ته

«عبدالعظیم رانړیزی»

هوښیار به هر کله زمانه سازوی — په دانائی به یې د کار اغاز وی
نادان به هیچري په داخبر نه وی — په هر هر کار به یې پخایه راز وی

« خوشحال ختك »

زړه پرځایه مه را باسه و بازار ته — وایه نشي په کوڅو د خلوت راز

«عبدالله پوپلزی»

منصور راز ظاهر او سوئی ته وخوت — د خلا خبري کله په ملا شي ؟

« د الپوري حافظ »

## ۱۲ـ زر:

اوس پەدا دور ماولیدل خوازە دی
نورو چار وو تە څە گوري دا گورە
څـکەڅەچە دآسمان ښایست پەزردی
شاهزادە بی زرو گوښی تنها گرځی
زور، قوت، حرمت هوري دروهی چەزروی
هرمراد چەدسړی وی پە دنیا کښې

تر پدر تر برا در تر پسر زر
چە صاحب دمسلمان کا کافر زر
ستوری زردی آفتاب زردی قمر زر
دهندو سره روان کا لښکر زر
دپادشاه پەسرخوك کښېږدی افسر زر
دطلب پە وخت یی ور کا دربر زر
«خوشحال ختـك»

پە خالی کیسە بە نرسی تر کامە

څە حاصل کە بوعلی شی پە قصو!
«خوشحال ختـك»

کەهرڅومشکل کارونە درتەپیښ شی
ماچە وایدە خوازە دی پدنیا کښې

فـکرمکرە چەآسان بە پە زر نشی
خوسړی دې یی پە مینە کا فرنشی
«خوشحال ختك»

کەپېتوی پەاوریخ کښېهم ترمیاشتی امرتېری کا

همەعالم خبردی چەزر ښەدی لەدرمە
«خوشحال ختك»

زردیچە زېرمە دننگ وشرم کا
دېر گران کارونەپە زر آسان شی

صحبت د هرچا و بلـە گرم کا
زرپەفولاد کښېږدی فولادهم نرم کا
«خوشحال ختك»

زردي هرچاتە اعجاز معلوم کا
وبنځە میرمن کا خادممخدوم کا

معدوم موجود کا موجود معدوم کا
زرپەسندان کښېږدی سندانهمموم کا
«خوشحال ختـك»

بادشاهان ښەدی پەخوانو زر ښندی
زرسردا دواړه تو گو دېر گران دی

خوانانپرې ښە کا چەورتەسر ښندی
یویوی و ښندی نەیی هریو ښندی
«خوشحال ختـك»

زرپە بدە ورځ پە کار وی
دزر دار بلا پـە زرو
چە سیروی گذار پـە سپر شی

هوښیار ځکە ساتی زر
د نادار بـلا پـە سر
چە سپر نـە وی لاس شی سپر
«خوشحال ختـك»

چاومـاتە نصیحت کړ چە زرښە دی
چەپە کور کښې خزانې لری دزرو
هربادشاه چە خزانە ور څخه نەوی
هرسړیچە پەنام لوی پەدولت کموی
پەامثال یی دهغې مرغی مثال کړه
گورە مادهغە څرنگ ځواب ور کړ
ماوې مرد لرە خونام بوپە نادانە

ئو اول بە کا دزرو چە خبر دی
هغە کس کەیك تنهادی زورور دی
عاقبت ورڅخە تار پتار لښکردی
پەمعنا بدر نـگە ښځە سپین خادردی
چەسینە یی کشادە تن یی لاغردی
پرېپەپوەشی هرسړیچەدا نشوردی
نە دزرو تولول چە بد هنر دی

که هندوخځه انبار انبار مهران وی ... په‌مهرانو به ښه نه شی مختصر دی
که په‌خره‌باندې‌دزروصندق بار کړی ... خر به‌هیڅ پداښه نشی خر خوخر دی
چه‌هنر یی دلویی وینویه لاس کښې ... دهغه وجود پارس شو واړه زر دی
«خوشحال ختک»

ځکه‌نوم یی دزهب وربانډې کېښود ... چه‌دباد غوندې هردم کا گذرزر
«عبدالقادر»

که زړه سخی اری چه مال یی نه‌وی ... په‌ځان مې ولید څه حال‌یی نه‌وی
که باز داواړه هنر د ښکار لری ... ښکار به‌په‌څه کوی چه‌بال‌یی نه‌وی
«خوشحال ختک»

## ددولت اهمیت

ژبه هم ښه وینا کاندې چه‌یی وینه ... دخاوند په‌لاس کښې‌زراو درهمونه
ژبور ور له ورځی وینا یی اوری ... ددرهم خاوندان تل‌وی په ویاړونه
که‌درهم یی ځنی ورك شو شی نتلی ... پر ئړی یی وی به څړو پیژندونه
که‌بلای سونی(۱)وبولی خلق وایی ... داوینا ده رښتیاینه له رښتـو نه
که‌بې وزلې ووایی رښتیا خبره ... نور خووایی دخوسونی‌دی تیرونه
هو، درهم ښندی هرچاله لویه برخه ... ددرهم دخاوند هرځای پرتمونه
درهم ژبه ده که خوك ژبور کېږی
ده وسله که‌خوك به کاندې قتالونه
«ابو محمد هاشم‌ابن زید‌السروانی البستی المتوفی ۳۰۰ هـ»

چه‌نیستګاره‌شی که‌ځوی داحمدشاه‌ئی ... ترتازیات په‌دبدبه دی تا کرداس
«عبدالله یوپلزی»

❀ ❀ ❀

۱۳ ـ خپل قام :

هرسردارچه دخپل‌قوم دبدوخیال کا ... آئینه دې‌دخپل‌ځان حال‌دجمال(۲) کا
پرې کوی ترخپلوپښو لاندې‌ښاخونه ... چه‌بدی دخپل‌عزیز په‌زړه نهال کا
عاقبت هغه سردار شی مردار پاتی ... چه‌یی نفس دخپل بدوته لپوال کا
چه‌دبل‌و سرو مال وته هوس کا ... ترهغه پخوا به‌ورك خپل‌سرومال کا
هم‌هغه به‌یکښې پربوځی دامثل‌دی؛ ... چه وبل وته کوهی کښی وبال کا
دهغو په‌خونه پیښ جنګ وقتال شی ... چه‌هوس دچا دجنګ و دقتال کا
چه‌له خپلو لاس و پښو شی بې‌مجاله ... له‌غلیم‌سره به‌جنګ‌په کوم مجال کا
په‌پردو مړانه نه کېږی بی خپلو ... له‌لحده دااراز جمال‌جلال (۲) کا
چه‌تر خپله حده پښه غزوی وړاندې ... زمانه به‌یی جمال غوندې پایمال کا
پردی نجوره هیچاندده خپله کړې ... بلکه‌خپله به‌پرې بایلی چه‌داخیال کا
« عبدالحمید مهمند»

---

( ۱ ) لغات ؛ سونی : دروغ
(۲) جلال اوجمال دوه نوموته اشارت دی . «خادم»

## ۱۴ ـ وطن :

دوطن ونې چندنې اگر دی
که سرای ونورو وته سنگپر دی
خاورې یې واړه مشک و عنبر دی
کاڼی یې ماته واړه سره زره دی
« خوشحال ختك »

درزی لا گزلری مقراض سوزن لری
کوچ یې اسان دی مشکل هیڅ ندی
بوجمدر گوتې خو شحال خیرن لری
غم دیارا نو درد د وطن لری
« خو شحال ختك »

هغه ورځ دهجرغم لره سرا شوم
ماهله ماتم دځان و کړ په وینو
اوس په څه دوطن کاڼی بوټی ژاړم
بو ناوك مې په دل لك راوو له کوره
په محنت می بورباض جوړ کړ په دهر
شین فلك په خزاسورشو لههوسه
بو پاڼو په د کن نشبه چهمی دم کا
چه له یاره په ژړا ژړا جدا شوم
چه اتلك وتهمې شاشو په ژړا شوم
درخصت سلام مې کړی ترې جدا شوم
زاروجارمې دباغ ونه کړ خطا شوم
لا مې گل بوی کړی نه ځنې سوا شوم
چههوړی جبل په مخزه ورته شاشوم
گرفتار په کنج و کاو داژ دهاشوم
« اشرف خان هجری »

## د وطن په یاد

ستا دعشق له وینو ډك شو ځیگرونه
تاته را شمه زړ گی زماقارغ شی
که هرڅومې د دنیا ملکونه ډېرشی
د ډیلی تخت هېرومه چه رایاد کړم
در قیب دژوند متاع به تاربتار کړی
د «فرید» د «حمید» (۱) دور به بیاراشی
که تمامه دنیا یوخوا ته بل خوایی
ستا په لاره کښې بائلی ځلمی سرونه
بې له تا مې اندېښنې دزړه مارونه
زماهېر نشی داستا ښکلی باغو نه
زه د خپلې پښتو نخوا دغرو سرو نه
چه په نورو پښتا نه کا گذارونه
چهزه و کاندم په هرلوری تاختونه
زما خوښ دی ستاخالی تش د گرونه
(احمد شاه بابا)

خــوار غـریب او بېنـوا وای
وا تـه غـواړ مـه لـه هنـده
خـو ژونـدی یمـه تـر مـر گـه
مېشتـه خـو ښ یـم پـه وطن کښی
نـه دې هنـد شی نـه دې نوم شی
چېر ها ر کـښی کـلا شیـخ وای
خـو وطنـه ! ستـا پـه خـوا وای
چـه و طـن بـر خـه زمـا وای
هـم مـاغـه آ ب و هـوا وای
نـه چـه هنـد واړه زمـا وای
همـا غـه بیـد بیـد یـا وای
ر ز ق اﷲ ا و مشغـو لا وای
« خواجه رزق اﷲ »

بی وطنه نهاپروت یم په غربت کښی
دهواداشنا په ستر گو لیده نشی
قاصدان له روهه رانغله مدت شو
نـن لـه مـاسره همدم د صنم غم دی
که په خوب راته حاضر شی بس کرم دی
سلام بادرا رسوی منت یې تم دی
« اشرف خـان هجری »

---

( ۱ ) فرید : شیرشاه سوری ، حمید : سلطان حمید لودین

پښتنی جونه دي زلفي بادنه نیسی

چه شمال یې بوی راوړي په رنتمبور (۱) کښي
« اشرف خان هجري »

خوبه فخر د کشمیر په دوشالو کړي

خو به خیال کړي په اطلسو د فرنګ
« پیر محمد کاکړ »

نسیمه ورشه د « سرای » سواد ته
سلام م وکړه په دواړه لاسه

له هغه په سه افضل آبا د ته
د رود د پوارو ګل و شمشا د ته
« کاظم خان شیدا »

که ګذر به خیر ابادو کړي نسیمه !
په وار وار سلام زما ورته عرضه کړه
ابا سیند وته ناره وکړه په زوره
ګوندي وي چه پیامي ستاسي جام روزي شي
چه سري اوبه دغره نښته په هند کښي
خدایه زړه مي په وصال د هغه خوښ کړي
همیشه به په هند نه اوسي خوشحاله

یادي ګښت وشي د «سرای» د سیند په سیمه
ور سره زما د لوري خو تسلیمه
و لندي ته وینا و وایه حلیمه !
په ګنګا جمنا به نه وو له قدیمه
تري توبه که واړه ډک وي له نعیمه
داچه اوس ورځني لري دي دوه نیمه
عاقبت به عاصي ووزي له جحیمه
« خوشحال خټک »

نورجهان سقر شو بیا دي سرای دار القرار دی

کله به خوشحال دار القرار له ور د رومي
« خوشحال خټک »

د خوشحال د زړه خوښي نشي بې سرایه

خپل وطن یې په هر چا بانده کشمیر کړ
« خوشحال خټک »

د هواد یاران مي هر زمان یادېږی

چه ئي مخ په خوب کې ووینم ویادم
«خوشحال خټک»

ښه په هند کښي چنبا ګل دی
د سرای قدر نور چا نه زده

تردا ګل د وطن خار ښه
په خوشحال دي ترفر خار ښه
« خوشحال خټک »

د رزی لا ګزلری بیاتی سوزن لری
کوچ یې آسان دی مشکل هیڅ ندی

یو جوړ ګوتي خوشحال خبرن لری
غم دیارانو درد د وطن لری
« خوشحال خټک »

۱۵ ـ مسلماني :

په دا دوه حرفه مسلماني ده
چه یې اوس به تولولو نه مرېږي

هر چه نه پسندي په ځان په چا مه پسنده
همدا خپل دولت به وکایه تا شنده
« عبدالقادر خټک »

چه نه پسندي په خپل ځان هغه مه پسنده په بل ځان
نیکانو سره زیست روزګار په مهر و محبت کړه

همدا ده که ته یې ګوري په صحی مسلماني
بدانو سره زیست روزګار هم بویه لساني
«خوشحال خټک»

په قوت به داسلام کړي

د کفار انکار غارت
« دولت لواني »

---

( ۱ ) رنتمبور دیو ځای نوم دی چه شاعر هلته بندی و « خادم »

(c) ketabton.com: The Digital Library



دمسلم نښانه داده که یی و پښي
چه اول یه شریعت دي استوار شي
« مرزا خان انصاري »

یسه مسلمو کښي خاصه مسلم هغه دي
چه یی وشلاوه زنار ددی دنیا
« عبدالرحمان مهمند »

## ۱٦ ـ آزادی :

وهرچاوته چه وگورم فریاد کا!
یوزه نه یم د جهان دی سیني خوږي
یه جهان بهیڅوك نه وی چه آزادوی
څني عشق اندوه بنده کړه څني لوږي
عقل وهوښ یی وړی وته پیدا کړ
داچیچل داړل دیرانگ دی یادیږي
«خوشحال ختك »

چه سړي شرومی یی چښم یه وخت داوړی
بادشاهی داورنگ زیب زماه غړکه
« خوشحال ختك»

دحاتم دسخاوت خبري مکړه
لایه داکښي هم د طمع نښا نه ده
« خوشحال ختك »

که یی ته یه منت مومی وایی مخلـه
کهدچا یه باغ کښي بوټی د کیمیاوی
« خوشحال ختك »

دمغل منصب می یر ښودهسي خوښ یم
لکه خلاص داویه بنده بند یوان شي
دانا دره عقیده لکه زما ده !
لاعجب که بل پیدا هسي افغان شي
دمغل وته بههسي کار ښکاره کړم
چه راضی راڅني روح دفریدخان شي
آزادی تر باد شاهی لا تیري کا
چه بل د حکم لاندی شي زندان شي
« خوشحال ختك»

چه نوکری کاځوك ډیر گنده کا
سړی ازاد وی خپل ځان بنده کا
تر آزا دی نه بهتر هیڅ نشته
چه څوك یه کور کښي خپله دنده کا
« خوشحال ختك »

طمع بلاده اصیل بنده کا !
ښه ښه سړی وی دائی گنده کا
ماډیر لیدلی دی چه طمع نه لری
یه بادشاهانو یوري خنده کا
«خوشحال ختك»

لکه ونه مستقیم یه خپل مکان یم
کهخزان را باندي را شي که بهار
«رحمان بابا »

که دعقل څه اثر لري و سرته
لاس یه سرمشه دهر گیدی ودرته
یه نظر دهغو خاوره سره زر کیږی
هرچه نه لری نظر و سیم و زرته
بی منته جام دزهرو ښکلی ښه دی
نه هغه چه منت بارشی و کوثرته
دیوسف له حاله زده که دغه پسه
وایه حال د زماني وبرا درته
دی فلك و چاته هیڅ بخښلی نه دی
چه یی نه دی را پیرودی څني بیرته
که له خدایه دوي خلقوته مخ شي
له فردوسه بهدي مخ شي و سقرته
همیشه به در یه در گرزی ر ټلی
داستو گنهي ځای به بیانه مومی چرته
ددي سست بدن منت یه رحمان باندي
چه له خپله دره ټلی نه شی بل درته
«عبدالرحمن مهمند»

روغي گټلو به : (۵۲۵) نمبر سردار محمد ح... سید د محمد امین ل رجب علي : ۵ | اپ‌اذیه پښتو ټولنه ليلا ۱۹ - ۱ - ۲۱ ع

(c) ketabton.com: The Digital Library



زندګي که خوك پوهېږي حضور ده دی     آینده و رفته کله دچا یاد وي
« عبدالرحمان مهمند »

نه خوښي کړم داحق سره دمدحې     نه مې زړه مومي اندوه دده له ذمه
دزلفېنو تور حلقو دې عذار و ېنم     که نسرين دې دی په زلفو کښې صنمه
« عبدالقادر »

چه مې شاکړه وښا دپوو ته ښاد شوم     چه د زړه مرادمې پرېښود په مراد شوم
اوس څه غم نکړم له غمه بې غم ګرزم     راضي من چه دازل دویش په داد شوم
چه مې طمع ددنیا ور ځنې بري کړه     هغه کس که کیکاؤس زه کیقباد شوم
ځان بازبد ولې کاروند دیزېدکا     له شېخانو ځکه زه بې اعتقاد شوم
خدای مې بیا په کښې بندی مکړه تر مرګه     احتیاج عظیم زندان وه ترې آزاد شوم
هم یې ځان له غمه خلاص کړ هم نیکنام شو     دېرمین په وروستنی ضرب دفرهاد شوم
بادی بوی عبدالقادره سحر راوړ     شګفته لکه غنچه پدغه باد شوم
« عبدالقادر خټك »

چه خوښ له ګمه دلګیر له خاره دی     عشق له دو بېنه بې اعتباره دی
نه شکایت کړم اچا ، نه شکر     در دمی اهیاره در همان له یاره دی
« عبدالقادر خټك »

له پېخونده آزا دی شو به دسر وې     د ګنی پخېر پخو بنده بندي بیا
« عبدالحمید مهمند »

وزی تنږی پروت پخپل پوز کې ښه ئې .     نه په تخت دپاسه ناست دبل کره
دمنت پولاو دې زهرشه ! کې مو مې :     دمحنت سوی سکړك له ساکت سره
« عبدالحمید مهمند »

تخت وتاج ته په سر کوز د همت نه کا     چه په داد ددهر پوه آزاده مرد وی
« اشرف خان هجری »

دافقیر دولت په مرګه هسې هوس کا     لکه ستړی مسافر وخپل وطن ته
زنهار حلت په هسې ساعت ور کړه     چه دنیا وریانې نه وی و کفن ته
« دولت لوانی »

آزادی او کارو بار دی سره اېری     لاس له کار وباره وباسه که کار کړې
« عبدالرحمان مهمند »

هر ګدای چه آزا دعوی تري قربان شه     باد شاهان دشام دروم که دختن وی
ماتول دبت آسان دی مرد هغه دی     چه مشغول دخپل وجود په شکستن وی
« عبدالقادر خټك »

## ۱۷ _ انسانیت :

پوې اصل سره دوه او یامذ هبه     خدای په خه بنی آدم فریق فرینشو
« خوشحال خټك »

خلق ناديده دي په خبر و پسې تللي / چار ترعار فانو چه په حال دي پوهيدلي
دوه او يا مذهبه پكښې هومره قيل وقال / واړه سرهوا په خپل مطلب پسې دي تللي
د پردي كتابونه مشتمل په دپرش حرفونه / كل واړه كه گوري له الفه دي ځوولي
سل بېږې سل سبه چه يي مات په يوه ځاى كړي / سل به په بل نه شي سره يو دي ماليدلي
واړه نور دغه دي هم دننه هم دباندې / هر چېرته دا نور دي په هر ښهر په هر كلي
زه خوشحال ختك يم د رندانو په مذهب كښې / نور ويل مې نزده مختصر مې دي ويلي
« خوشحال ختك »

ب : بابېزه خويونه

١ ـ بدعادات :

عادت لا پرښې عادت له سړي نه / خداى دي نه كاندي په بدو چار عادت څوك
« عبدالرحمان مهمند »

هميشه وي نرم چوب غذا د كرم / شيدا مشه مرد خالي له سياسته
« كاظم خان شيدا »

څوک گي به سوزي دخس له نامردانو / كه همه لكه اېرې آتش نسب وي
« كاظم خان شيدا »

٢ ـ بې پته خويونه :

پو چه دپار خوري سوگندونه / بل چه دپار كاندي پو رو نو
آشنائي ور سره كمړه / دا بې پته دي خويونه
« خوشحال ختك »

٣ ـ كوزتيا :

تر هر څه بد كجېئي خطر دي ! / كجي به نه كا چه دانشور دي
الف چه سم شي، كجي پسې نښته / ځكه تر نورو حروفو سر دي
« عبدالقادر ختك »

٤ ـ بدنيتي :

چه د بل په نامرادي كښې مرادغواړي / دا سبب گڼه د خپلې نامرادي
« عبدالحميد مهمند »

٥ ـ بدگوئي :

چواړې د حلال خور په نامه بولي / له ښو خلقو بد گوئي نده ممكنه
ته چه بد له خلقو وائې زه وېرېږم / چېري خپله بدي نكړي معينه
له هغو نه به رومبي ستا عيب څرگند شي / چه هر چا و ته دي كړېده خندنه
« عبدالرحمان مهمند »

مه پر چا غيبت تهمت وا په مه نښلـه / مه د بد نامه په هېڅ بندي آدم زده
« دولت لواني »

٦ ـ بېکاري :

د جمله بلاؤ سرتن اسانی ده
لټ غوبی شی خرڅاوه په قصاب نو

فراغت د بېغمی په ملت کښې شته
څه امید د بېغمی کړی ظالمانو !

« عبدالحمید مهمند »

٧ ـ ډېر احتیاط :

کل وسواس له احتیاطه پیدا کېږی
زه له ډېرې هوښیاری نه لېونی شوم

« عبدالرحمان مهمند »

٨ ـ تذبذب :

کمال د کفر تر ناقص دین ښه دی
یا درست گمان ښه دی یا درست یقین ښه دی

چه کله د اشی کله هغه شی
دا نا ته کله مذبذبین ښه دی

« خوشحال خټک »

٩ ـ شخصیات :

دزړه غلا په زړه کښې غم ده
لا په تېره د سردار

هر سردار چه په زړه غل شی
ځان رسوا کا خلق خوار

« خوشحال خټک »

١٠ ـ ظلم :

باز چه وینې د ځیګر خوری مرګ یې زروی
له دې وینو ځان ساته زما ځیګره !

که تر څه دی هم شراب د قهر نغره
ظلم وجور په چا مکړه ځیګر وره

« عبدالقادر خټک »

چه بېهوشی د ډېره ګیره پسې نر بلی
ډېر په ظلم کښې څوک مه کوه ګبر ګوره

ماشی مړ کاندې هاتی چه سره تول شی
په یوه وجود به کښې مه کړه ډېر ګوره

لنزې لنزې او به تولې شی ملک وران کا
په لږ جبر چېرې نه شې دلېر ګوره

« عبدالحمید مهمند »

باز کرکس شاهین چوڼه تری به هوا شول
چه ثابت د عندلیب شو په ګلعذار حق

بلبلان طوطیان د فکر په تال ځانګی
خدای کړ پورته ا دې باغه دمثار حق

« عبدالعظیم رانیزی »

خدای دې نکا چاته وازی د آزار خولې
دغه خوله ده په آزار کښې دښا مار خولې

په ګړ کښې بخته برج هسی میدان کړی
یا تو بو بدی خولی دی یا دو یار خولې

د یوې خولې له آراره وو پېر پېږه
که پېر دې دعا کا نه دې هزار خولې

چه پېرې راشی د مظلوم د آه سېلی
کاله خاوررو ایرو ډکی د مدار خولې

چه قوصر د آه سر دور باندی لګی
ور به نشی د هغه چا د پېر هار خولې

چه اثر د مسیحا لري په دم کښې
خوز و ی دې هغه خلق په ګفتار خولې

ورځ به شی د غم شپه په هغه خلقو
چه پیاب بی بد دعا که هر سحار خولې

« عبدالحمید مهمند »

چه داغی یی سپین بشر په اور د ظلم
په لاس مه شه بـاز پرور د ظـا لمـا نو
د مومن د زړه آزار د خدای آزار دی
هم آ زا ر دی پیـغـمبـر د ظـا لمـا نو
چه نهـال د ظلم کیږدی ځـنی لاړ شی
تـریـخ تـر زهرو شی ثمر د ظـا لمـا نو
آزادی که دي پـکـار ده شمس الدینه !
لـه مـجـلـسه کـړه حذر د ظـا لمـا نو
« شمس‌الدین کاکړ »

هسی خونبی د ظـالمی په کار ولاړ دی
نه به وا یی مر ګک یی نشته تل به ژوی
« خوشحال خټك »

ر سید لی تر مـطـلـبه بـه خـود نه یـی
چـه خـوړی د د مـظـلـومـو د سر ویـنـی
« عبدالله پوپلزی »

١١ قهر :

ما نـی مه کـوه حنـا نـه صبـر بـو یـه
جوړ کـارونه خشموران کـاندي تلوارهـم
« مرزا حنـان »

همیشه غـو ټـه جبین یـی ډ ك لـه کـینـه
لـه خـپـلـوا و کورو کـلی مرور یـی !
« ملا جمعه »

د جهـان کـینـي غصي واړه تـر شا کا
که سړی په‌وخت دقهر مرګ تر زړه کا
دا پـیدا چه خو د بیني ور ځ‌غـه نـشـتـه
د جهـان نـنـداري ځـکـه دوه ایمه کا
پـه کـینه په حـسد هـیـڅ د چـا و نـشـی
هر سړی چه حـسد کـاندی ځـان او به کا
« خوشحال خټك »

١٢ ـ تعجیل :

دانـا وران کـارونه جوړ په دانائی کا
په‌تعجیل سره نادان کـاندي‌ـهم کـار کج
« عبدالقادر خټك »

پـه هـنـر هـنـر خـبـري کـړه دلـبـره
تېزی مه کوه په هیڅ کـار کښې د سره
« عبدالله پوپلزی »

١٣ ـ حرص :

په غم د نو ر و و غـم تـه سـاز مـه شـي
سـيك و عـالم ته به خیل آو از مـه شـي
سـړ ی پـه طـمـعـه د بـل بـنـد ه شـی
د عـا بـه دا کـرم اخته په آز مه شـي
« خوشحال خټك »

١٤ ـ کـبر غرور :

دغه زور به چلوي تـر کـو مه پـوري
چه پوازي دي په ځـان تمـام جهان خـوړ
تا چه تېز تېزه سـمـنـد د خـو د را یـی
مـا دا ستـا دېر پواته هلـه ارمـان خـوړ
« عبدالحمید مهمند »

چه کـمـال غواړی په کـبر احمقان دی
پـه پـلیتـو اوبـو نـه کـیـږي او د س
سبره ! هیڅ به نیتو و نو لـو پـی مـکړه
ستا به هم‌دغه قیمت کـاندي روزګار کج
« عبدالقادر خټك »

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ١٥ ـ بېوفائي :

چه یې نه وینې وفا به رنګ وبوی کښې

چه نه ننګ لري نه شرم مه یې غواړه

که یې اوې دزړه به وینو لکه ګل کړې

زر که ځکه مینه نه کا و ګلزار ته
« عبدالحمید مهمند »
ته به و کازه له یلـه د بېوفا
« مرزا حنان »
هم هغه به یې زړه در کاندې شنه تانده
« عبدالقادر خټک »

## ١٦ ـ طمع :

څوك چه طمع له چا کا به حقیقت کښې

نه دی نفس لره جلب د وز کـو لـو
نور قیدونه و ایه سهل دي حمیده !

له هغو ترخه ویل شي د حق پاتې

سړی توب به دي سپېتوب کاندې دا طمع
هسې چارې به حرص در پاندې و کا

کهدې زده وی‌چه بلای‌شي‌طمعه پرېږده !

که یاس له حقه تحقیق حرام دی
اصیل بنده کا خلاص شو ی بند کا

شرموي هر یو سړی د د نیا طمع
همت ناك سړي که خوار وي دو لتمن دی
د هغه د شرم بـو زه یـه مـخ نه و ی
لکه څوك لوبی به خپله حیا کاندي
لکه یو سپی چه‌هیچرن ختی اسل هغسې
د هغو د عزت پښه د ه بنو نږدې اسې
تل دخواست لاس به‌یی‌نیولی دی کوشه کښې
د حاتم د سخا وت خبرې مه مکړه

که بادشاه د درست جهان شي لا ګدا دی
« خوشحال خټك »
امو خته در پاندې غل او کا سېر مشه
خو به غاړه دې د طمع زنځیر مشه
« عبدالحمید مهمند »
چه یه خوله کاندې خوزه حلو اد طمع
« عبدالحمیدمهمند »
عزت و سا ته به صبر که د ا نا یـې
چه به هیڅ‌ا شو ي نه وی بیا به وا یې
« عبدالحمید مهمند »
څو دې طمعه چاته شته توا نګر نه یې
« عبدالقادر خټك »
یا س له مخلو قـه د حق ا نعا م د ی
طمعه له خلقو د خلقو د ا م د ی
« عبدالقادر خټك »
د سپی توب نامه حاصل کا به دا طمع
خاځکی ګوره نه کوی له دریا طمع
چه کوی د نس د پاره له چا طمع
هسې ما و ته ښکار پرېږدی دا ستا طمع
هسې ده د یو له بل نا صلا طمع
چه به دا زېره له چا کا ندې بیا طمع
محمدی چه څوك کا بل ته پیدا طمع
لا پیدا کښې هم د طمعې نشا نی ده
« خوشحال خټك »

## ١٧ ـ ریا :

دریا عمل مې طوق شو را تـر غاړه

لکه خپور شي به خپګر د ستار د چا
« شمس الدین کاکړ »

۱۸ — بدي:

چه په بدو په رشوت کاندي حکمونه
چه په طمع د دنیا مفتیان فتوی کا

نور مخونه د دوزخ ته قاضیان د رومی
شرمنده به د دوزخ په زندان د رومی
«مطیع الله پیرخیل»

## ج: نصایح

دا همه له نا پوهی پیدا کیږی
پیر ځو، ښه سلوك، نمانځنه، او بل عدل
کبر جن حریص بی زړه چه دروغ وایی
که وعده یی قیامت وی د غو ښتنې
که طالع یی د دولت په شربت ډك کا

خر خشې دعوې ناساري شر و شور
که دې دا خویو نه شته څه غواړې نور
د یاری لایق نه دی دا خلور
هوښیار سړی به نه وی په کار پور
بیا آخر شی د کم عقل جام نسکور
«خوشحال خټك»

چه د خلقو نیکخواهی لری په زړه کښې
که بی غوږ د دانشمند په نصیحت وی
د ناصح په نصیحت به اصلاح نشی
د مردانو په معراج به ور تللی نشی
مختورن د دوارو کونو ندی څه دی
نیکبختان به اندیښنه کاندی د نیکو
په هغه هنر کښې ټینګیږی او په خوشحاله

مبارك شه پادشاهی لری په زړه کښې
څه عجبه آګاهی لری په زړه کښې
هر سړی چه تباهی لری په زړه کښې
که دسعی کوتاهی لری په زړه کښې
چه هر چا سره سپاهی لری په زړه کښې
ګمراهان به ګمراهی لری په زړه کښې
هر هنر چه سپاهی لری په زړه کښې
«خوشحال خټك»

په دوستانو تلطف کړه خو په تاشی
د نمانځه تر قضا ګران دا قضا ده
نورانی کا هغه ځای چه سره کښېنی
چه په تشه تواضع کښې ګټه کیږی
که حاتم غواړې کرم کړی د مهرانو
خو پدانو سره بدشی هومره ښه دی
که دې سر ځی که دې مال ځی که دې نور څه
په ظاهر باطن کفران د نعمت مه کړه
که راحت غواړې په ځان محنت قبول کړه
که دارو په خواست موندل شی مه یی آخله
که آسمان دې دزمری په خوله کښې ور کا
که ژوندون دی هم هغه دی په جهان کښې

د دښمن سره هم ښه کوه خلقت
چه قضا شی د خلور و مصلحت
دیرینه خلور هو ښیار په مشورت
هو مره سود نشته دډك طباخ دست
دیوې دمړی په چا مه زده منت
ولې عفوه کرم ډیر لری لذت
استو ار اوسه په کار د رفاقت
هوا خواه اوسه دخپل ولی نعمت
بی محنته هیڅوك نه مومی را حت
که د مرګی وته نژدې کاندې زحمت
دزمری په خوله کښې مه پرېږده همت
چه یادیږی د سړی د خوی خصلت
«خوشحال خټك»

خپل استاد و ماته ووې خو پند ونه
وې چه هره بدی کړه هغه بد مه کړه
که دې زړه وی چه بدنه موې له چا نه

هر یو پندی مرغلرې دی لا لونه!
چه دلاسه دې آزار شی دچا زړونه
اول ته پرهیز ده د بدو خصلتو نه

(c) ketabton.com: The Digital Library



دشهوت په نغوته مه ځه شهوت اور دی
ته کینه، رخه، حسد له هیڅا مکړه
د هرچا سره دښو سلوك بایده دی
ددنیا په مال دنیکو نوم حاصل کړه
د هرچا سره نری ملایمت کړه!
خپل پردی ته دخپل راز خبره مکړه
خوشخوئی هم گوره ښه ده نه دا هو مره
هغه کار چه په ارمی تر سره کیږی!
و هغو وته چه قهر کړي روا دی!
دهغو په مرگك ثواب گټلی بویه
که دښمن دي ډیر زبون ته ځني دار کړه
ددښمن په تملق غلطی مکړه
عاقبت به خپل ورغوی په غابښ پریکا
چه دي لاس په دښمن برشی پرې یې مه ږده
په خپلوانو باندې هومره خشم مکړه!
دپاد شاه په مهرمینه غلط مه شه!
پاد شاهان چه په چا مخ کا دبدیء
په هغې معشوقې څه باور د کړو دی
د پیلي پانې خوره نه هغه پاسته
دبد خویه سره هیڅ بدی نه مکړه!
د کمذات په ښو خبرو غلط مه شه!
په هر کار کښې چه دز پیش شی بیره مکړه
په رښتیا که په دروغوی سوگند مه خوره
د حرص سترگې مړې په قناعت کړه
که هرڅو دي علم ډیر چه عمل نه کړي
دښه دین دپاره علم، دانش ښه دی
په جهان کښې که مردان دی هم هغه دی
چه بدانو سره ښه کړي قباحت دی
عاقبت به ملگیری در ځني بریکا
که دي ورورو وی که دي ځوی وی چه بد کار شو
چه بد فعل، او بد غرض په کوم ځای ناست وی
چه په کالو وی مشران نه یې حرمت کړه
په هغه کور کښې چه ښځه چرگه بانگك کړی
هرچه شرع فرمائی په هغه کار کړه
نیکو کار په فقراوو خیر خیرات کا
که دي زړه له وینو ډك شی و دښمن ته

پدا اور د ډیرو سوی دی کورونه
دازل په ورځ مقسوم دی قسمتونه
په بدی کښې څه فایده د کوم سودونه
ټل جهان و چاته نه پریږدی مالونه
گنډي وی چه پداخیل کړي دچاړ ډونه
دبخچی دننه ښه دی خپل ر ختونه
چه په باغ کښې دي خربزی وهی خرونه
څه حاجت چه رساوه شی تر جنگونه
چه اری دبدو فعل بد خو یو نه!
چه پی سوځی له شامته غاړی غرونه
په یوه شجري و سوځی ښا رونه
درستم غوندي هم مړه دی په مکرونه
هر چه کار کا د دښمن په ورمونه
دما رانو په غارمه منډه لاسونه
چه پردی ورځنی تښتی په ملکونه!
زورور په انز گناه و هی سرونه!
و سپیندو ته تڼل نه شی بندونه!
چه په هر لوری یاران لری زرگونه
چه بی خوري دنو کري په خوشر طونه
غلیمان ور لره بس دی خپل خو یونه
د گډ پر، وته خوازه لری گلونه
په تلوار، سره وراننږی جوړ کارونه
منافق وی چه ډیر ډیرخوری سوگندونه
چه په کور کښې دي انبارشی نعمتونه
ته حمار یې په تا اښلی کتابونه
نه پدا چه پرې لوڅې پردی کورونه
چه و سختی و ته و نیسی لاسونه
دبدانو خو هم تور ښه وی مخونه
چه په لارې تر تا تیر دروی ستاملونه
په خپږوی کاږه کړه ور مېږو نه
دهغو د ناستی تښته په کړو هونه!
بیا هغه چه دي په ځای وی لکه ترونه
دهغو خونو نه ځی بر کتونه
مه عمل کوه په رښتیا دو دونه
هرزه کار په عمارت کاندي خرڅونه!
انزو ډیر په زبان مه راووړه غمونه

(c) ketabton.com: The Digital Library



په هر کار بهتر لاس بروي په ځواني کښې
په ځواني کښې چه د کار تلاسه ووزي
همیشه او سه خو له پته لکه ناوي
تر هغه به نا معقول په جهان څوک وي
که خبره که خدا کړي جګې جګې!
که دي زړه وي چه پټ عیب دي ښکاره نه شي
که له تانه په قوت د مټو زیات وي
چه توان نه یي د هغې خبري لاف کړه
چه د دښمنو کښې د جنګو خرخشې وي
که دي واوریدل چه بیا وبله روغ شول
چه د ښځو نه بتر دي هغه څوک دي!
خدای هغه په دواړه کونه دي نما ځلی
چه دزړه په تامین دهغو نازوله
دا صیل شیوه خپل اصل نه ابا س دي

که طاعت که عبادت که نور کارونه
په پیرۍ به دي ونه رسی لا سونه
چه ضرور شی هاله و کړه دوه حرفونه
چه همیش په خنداسپین اری غاښونه
هره چار تر حساب مه کوه پیرونه
چاته مه شماره د خلقو پټ عیبونه
له هغه سره حجت مه کړه بحثونه
او که نه په دروغ مه وهه لافونه
ته بې غمه خپل هوس کړه خپل ښکارونه
نور په خپله وسله ووهه لاسونه
چه د ښځو سره کا مصلحتونه!
چه په ورځ کا عدل وداد په شپه نمځونه
تل نیاز منو سره وړی دی نیاز و نه
په زربافو کښې پالم وی پامرۍ وړنه
« خوشحال خټک »

په پیری کښې چه هوس دی د ناب کړي
داسته گناه کوي توبه و کازي
علم و کړي بیا عمل ورباندي نه کړي
په شپه پروت بی دمغان په میخانه کښې
له خالقه دي نه شرم نه حجاب وی

بیهوده گمان په صبح د مهتاب کړي
لکه بت هسي په غټو ستر گو خواب کړي
لکه طفل هسي لوبې په کتاب کړي
او د ورځې مخ په لوری د محراب کړي
له رحمان گوښه ونیسي حجاب کړی
عبدالرحمان مهمند »

کړ د گلو کړه چه سینه د گلزار شی
ته چه بل په غشو ولي هسي پوه شه
کوهی مه کنه د بل سړی په لار کښې
ته چه هر چاته په خوارو ستر گو گوري
آدم زاد په معنی واړه یوصورت دی
که نه نه کوی نظر د چا و عیب ته
دمتان کړ په لوړه محکمه باندی ه کا
دمات لوښی او از کله ثابت خېژی
واذا حکمتم بین الناس راشه واوره
مدا ماچه لکه باز غو ښې د قام خوری
جوړ وی نوی قصر ونه خبر نه ئې
فکر و کړه وخت کو تاه دی وړ لو یېږي

اغزی مه کره په پښو کښې به دی لاړ شی
چه هم دا غشی به ستا په لور گذار شی
چیری ستا به د کوهی په غاړه لار شی
لاړومبی به ستا صورت ترخاور وخوار شی
هر چه بل آزار وی هغه آزار شی
هر سړی به ستاد عیبو پرده دار شی
سر کوزی کوه چه پټ دي مرغزار شی
د هر چا عمل خرگند پخپل گفتار شی
حق باطل سره جدا کړه معنی نغاره
عاقبت به شي بندی په پښو په غاړه
تن صبا دی ابادی و پنم ویجاړه
د دنیا پر لاند ه پایږ باندي و لاړه!
« د مرزا حنان »

نن چه صبح دی روښانه لار صحیح کا     ناګهانه به دا صبح شب تار شي
لنډه ئي مه ګڼه هر څو که ګناه لنډوي     چه لنډ لنډ وسره جمع کړي بسیار شي
که بل بد کا نه دی ته ښه ورسره وکړه     هر یو نخل چه میوه لري سنګسار شي
تل و ښو و ته آزار د بدو رسي     هر چنجي و نرم چوب و ته دوچار شي
هغه زده به له طوفانه په امان شي     چه کښتی غوندې د خلقو بار بردار شي
خدای دې بدله لاسه نه کا او که وی هم     در حمان دې له کل بد و استغفار شي
« عبدالرحمن مهمند »

اې مدام د بل په کمه روا داره     نیکي نه کوې بدي لره تیار ره
قدم مه ږده په عاجز میږي په ظلم     نه چه دغه پښه دې و مبتلي له مار ره
هر چه ودې صباح بې راودې لنډ که ډېروې     دا چه نن یې پستم اخلې له خوار ره
کبر مه کوه چه کبر په خدای ښائي     چه رانده په دا شیطان شو له دربار ره
تکیه مه کوه په مال فرز ندې بسخته!     که دې مال که دې فرزند دې نا یکار ره
دا جل صبا د طلب د استاد روح کا     ته طلب د مال اسباب کړې نا قرار ره
که دا پند د حنان و نیسې په غور کښ     دی بهتر له هغه ګنجه بې شمار ره
« مرزا حنان »

ډېر به ستا په سبب خواب دراحت وکا     که دمهد په شان ورك دځان ارام کړې
« شیدا »

پند دې سو دمن واوره تور زنه     اسا نه نه ده د سر بنند نه
مصلحت مه پریږده د خپله لاسه     هم به خپل راز لرې د زړه د ننه
« خوشحال ختك »

همیشه وائي چه خدای مې پیږندلی په یکی دی     که دې خدای وی پیږندلی مینه مکړه په باطله
په خپل حسن غره مه شه که په حسن لکه ګل شې     زمانه به دې څېره په یو څو ورځې کا زائله
« خوشحال ختك »

د چا و خوان ته خالي کښل مکړه     که تل دې خوان خوری منت په بل مکړه
چه پرې باور نۍ هسې و یل مکړه     چه مال د بل شي هسې بیا تل مکړه
( خوشحال ختك )

منجم که درته نحسه ادینه کا     یا طبیب و تا ته بد ې کا شکرې
په جمعه به و نمانځه و ته ونوځي     له شکرو به هم ګرزې اري لري
په قران کښې چه شراب دې منع شوی     ته یې واې لکه یې د مور نغري!
« خوشحال ختك »

عاقبت به یې زده ترلاسه کړې حنانه!     لکه زلفې د نګار تواضع خوی کړه
« مرزا حنان »

(c) ketabton.com: The Digital Library



لکه ځان ژغوری بربنده له تېرو تورو    هسې ځېل سر له بېرو دسحر ژغوره!

«عبدالحمید مهمند»

چه ظاهر غوړوی په باطن سپوروی    په ژبه خوږوی په زړه کښې شوروی

ور سره مه کښېنه تا به تباه کا    سپین زر که سپین وی اثر یې توروی

«عبدالقادر خټک»

له همه واړه عالمه صلح کل شه    وښویږو خوشبویی ور کوه گل شه

تعلق په تېرېږ و نی هوس مه کړه    په بهار کښې په نارو لکه بلبل شه

«عبدالقادر خټک»

څوك چه نرم وبل کا عمل بی گوره    تږگان دم په خوله وبل کا نرم نرم

«خوشحال خټك»

ښتن مو مل دی    اوس مو پسر غل دی    هواد د بل دی

غازیانو گوری    ښتن مومل دی

توري تېري کړی    د ښن مو پرېکړی    منگلی سرې کړی

خله به تښتو    ښتن مومل دی

که ټېنګه کړو زړونه    پر بری یو نه    چه زمری یو نه

اسلام راځځه دی    ښتن مومل دی

غازیانو راشی    تول شاؤ خواشی    دشهاب په ملاشی

دښن موغوځ کی    ښتن مومل دی

«شیخ ملکیار غرشین ستانه داشعر په یوه غزا کښې چه دسلطان شهاب الدین غوری سره ؤ، د غازیانو د تودولو دپاره درجز په رقم ویلی دی.»

# دریم باب: پښتو او پښتنوالي

## ۱ــ میړانه او توره:

مرد به نه شي په گفتار
خو پیدا نه کړي کردار

چه دې و ښکنځي مرد نه یې
که له تا نه وي په دار

چه څه دي خو انتقام دي
د مردانو کار و بار

عفوه هور ته ځای لري نه
چه نه عیب وي نه یې عار

چه عزت و رځخه نه وي
هغه مرد نه وي پکار

هم مهره لري هم زهر
ښه مردان دي لکه مار

چه هم تندر هم باران وي
تر هغو ځوانانو جار

مرد به غم دخیل هنر کا
نه د زر نه د دینار

مرد به غم کا دخیل شرم
د عزت د اعتبار

نا مرد فخر په نسبت کا
مرد نه مور لري نه پلار

د خوشحال خبرې گوره
لعل و در پیېي په تار

«خوشحال خټک»

یا د سپینې توري مرد شه یا عاشق شه
چه یا د پښتو په بدلو په سندرو

د خوشحال خټک خوښې په هغه وخت وي
چه بر ښځا د سپینو تورو شي د زغرو

«خوشحال خټک»

د نامرد، د مرد په دا تفاوت وشو
په نامرد، شرم آسانه دی په مرد گران دی

مست هاتیان خوني زمري توري وښکلي
که د سروبره دي نه شي کار آسان دی

کاشکي ته په دا دنیا همیشه پاتې
په احتیاط احتیاط کښې دهر خلق طوفان دی

که د ځان که د ایمان بدخوامي ده ردی
ما په خدای باندې سپارلی ځان ایمان دی

ننگیالي چه د اخلاص توره په لاس کا
دهر لښکري د همت پوري کاروان دی

په ښادي سره شریک دي اولسونه
غم پوازې د خوشحال خټک په ځان دی

«خوشحال خټک»

مور دې نه شي بانـدي بوره
چه مهر و نه د کار زار دی

ځوک چه شته تر شرقه غره به
د تور زنو خند متگار دی

«خوشحال خټک»

درست پښتون تر قند هاره تر اټکه
سره یو د ننگ په کار پټ و آشکار

په داهسې وخت، چه وخت د نام و ننگ دی
دا بې ننگه پښتانه کا څه رفتار

پښتانه چه نور څه فکر کا ناپوه دي
بې د توري خلاصي نشته په بل کار

تر مغلو پښتانه په توره ښه دي
که په پوهه پښتانه وای څه هوښیار!

«خوشحال خټک»

«خوشحال خټک»

مېړنو له تېښتې شرم دی یو نسه !
د نصیب له پېښې ماړوه جلب
« یونس »

خه سړی خه یې تند بېر !
که جهان شي تېر • توره
بې تقدیر به و نه مري
بې اجله مرگی نشته
لکه کار د مړنی دی
د غازیانو شهیدانو
کل گټنه ده د توری
مړنی دی چه یاد ښځی
چه په دروغ د توری لاف کا
توره نجوره د خوشحال ده
تر او و پېړیو پوری
داد ځان ستاینه نه ده

هم هغه شی چه تقدیر
ستا به مرگ شی خلق خیر
نه په توره نه په تیر
تیغ و هنه مکره تقصیر
هسی کار نه دی د پیر
پروا نشته د شمشېر
که کابل دی که کشمیر
په سندر و هم په ویر
د هغو نه یم دلگیر
کال په کال خلق خبیر
واړه مړه به تیغ و تیر
حقیقت وایم په تحبیر
« خوشحال خټک »

چه په توره یې ځواب ورکړی مردیده
که وجود دی خوك آزار کاندی په چوب
« خوشحال خټک »

چه مین په وسله نه وی
لاس دی سره کا ستر گې توری
مرد دی نه وائی خپل ځان ته
ځان دی و جوړ وی ځوان ته
« خوشحال خټک »

باغ وی سرود وی نقل و شراب وای
مجلس د خاصو کتاب په مینځ کښې
ښې ښې دلبری ښه ښه احباب وای
نقل د تورو و خت د شباب وای
« خوشحال خټک »

د زنانو په حساب دی مردان مشه
شړی ور پښتون به سل به د که یوسی
چه له زېبه له زینته هم آغوش وی
کشمیری چه بغر گ شالونه یې په دوش وی
« خوشحال خټک »

د بلا نه د اختیار توره په لاس کښې
تند رهم زمانه ذاته نه پیدا دی
وقضا وته تسلیم په شان دمړه یم
په سپین زړه که د باران سپینی اوبه یم
« خوشحال خټک »

چه جنگیالی وی دولت هغه مومی
دا د واړه تو کسی سره تړلی دی
چه ننگیالی وی عزت هغه مومی
خوك چه محنت کا راحت هغه مومی
« خوشحال خټک »

چه ځان غواص کا گوهر هغه مومی
دا کا رمې خوځله به ځان را غلی
چه بې ننگی واخلی دلبر هغه مومی
له سر چه تېر شی ظفر هغه مومی
« خوشحال خټک »

ستا رقیب کله زما په مخ را تلای شی — دمړو و جنګ ته نه د رومی غورتې

«مرزا حنان»

چه نری شی میاشت آخره شپه را څیبږی — پتوه ځان له عالمه په افلاس کښې
ښې ورښېښې جامې خوی د ار تیښو دی — دمېړه مړانه نه ځی په کرباس کښې
له یارانو اخلاص تلسلی دی حنا نه! — ګذران د زمانې شو په لباس کښې

«میرزا حنان»

د میدان په ورځ چه تښته کا له جنګه — یا تې هیڅ نشی باقی له نام و ننګه
له میدانه تښته کاردی د زنانو — مرد به نه تښتی له غشی له تفنګه
چه د تورو په برېښنا یې وار خطا شی — مور یې مه وای په هغه غولاتی انګه
د ضرور په ورځ به تښته له ګیدړ کا — چه همیش کاندی خوښی له نای وچنګه
د عزت صدقه سر د سر د نیاده — مړ نی به شرم سرور کا بید رنګه

«یونس»

## ملی وحدت

تو له یو دی که غلجی که ابدالی دی — ښه هغه چه یې ښېښه د زړه صفا ده
چه عمل یې د نېکۍ وی مېړه هغه — که اغوستې یې ګدله د خامتا ده

«احمد شاه بابا»

### ۲ ـ ننګ او ناموس:

چه ننګ کاننګیالی دی ورته اېښی دی دوه کاره — یا کام د ننګ حاصل کا یا د دوی مینه سپېره ږدی

«خوشحال خټک»

چه د ننګ په چارو نر ندی خوشحال له! — که یې نر وینې په ستر ګو هم ماده دی

«خوشحال خټک»

کاشکې ځوان دپښتانه په ننګ کښې مړوی — نه چه ګور له روان شوم له تلتکه
چه دقام به ننګ کښې و مړ هغه ځو یه — په عالم کښې دخپل پلار غاړه کا لکه

«خوشحال خټک»

څه یو ازې ننګ په ما را غلی نه دی — پښتانه ډېر دی په غرو نه په سمو نه
چه ښور وا خوری دمغلو وادہ سپی دی — د سګانو په خو له څه اخلم نو مونه
ګور به هم په ژړا سر کړم که یې ور ودم — زه خوشحال د زړه داغو مره اموله

«خوشحال خټک»

چه د بل ننګ و ناموس سا تلی نشی — و به نه ساتی خوک خپل ننګ و ناموس

«عبدالحمید مهمند»

دخپل رنځ د درد علاج را څخه نه شی — په حکمت که ارسطو و افلاطون یم
د ګلر خو په هوس شپې رنځو مه — امو خته لکه شبنم په دا شبخون یم
تلخ ویل پر رقیب څو کوی و ما ته — آخر زه شمس الدین ننګی ارم پښتون یم

«شمس الدین کاکړ»

(c) ketabton.com: The Digital Library



خو وا نخلې له غلېمه انتقام
چه د ننګ او د ناموس اندوه یې نشته

نام و ننګ افغانې مې ولاړ بر هم شو

واړه ننګ د پښتانه دی ګدا نه ځې

په جهان د ننګیالی دی دا دوه کاره

ننګیالی د ننګ د یاره
سر په باد د سری پر ښوزه
چه په نام و ننګ اړ نه وی
د جهان بلا دې کل وی

مرد نه خوب کا نه خواړه کا نه آرام
د هغه سړی به نه وی احترام
« خوشحال خټک »

انصاف نشته د خوبانو په بازار کښې
« عبدالله یوبلزی »

حال یې ورځ پهورځ زبون دیستا په غم کښې
«خوند ګدا »

یا به و خوری ککری یا به کامران شی
« خوشحال خټک »

په هر خه لکوی اور
چه یې نه وی ژو ندون نور
که تل ژوی مخ ئې تور
خو دې نه وی ویی (۱) سپور
« خوشحال خټک »

سر په دار لاړ شوی ښه دی
نه لاړ شوی په پیغور

۳ ــ ټینګښتیا

قول و بول په ژوندون نشی بد لولی

ځان به مړ د عشق په جهل کړم ناصحه!

دد نیا ناوې به بیا په نکاح نکړم

زما خه بې اعتقاد ه عقیده د ه

د مرد چه نه وی وینا محکمه
چه یوی ز ده وی ښو ه خبره

ځکه ځان په جهل و ژنی پښتانه
«عبدالحمید مهمند»

وا به نوډم زه حمید هسې پښتون یم
« عبدالحمید مهمند »

که پښتون عبد العظیم یم په نسب
«عبدالعظیم رانیزی»

چه له عجزه پر ملا خم و چاته نشو
« شمس الدین کاکړ»

په د ه به نه شی در غلـه سمه
خلاص وی له همه خلاص وی له غمه
« خوشحال خټک»

٤ ــ ښه ځوانی :

جار شم قربان شم دېلار له ښنده
لذت دور کړې تر ساتل ډېر د ی

دلو یې به مقام به ها له کښېنې

را ته یې ووې زما فرزنده !
خوی خیر ندی ممسك له خونده
« عبدالقادر خټك»

که د ور کړې دمرانې په وزرځې
«عبدالقادر خټك»

(۱) ویی : لفظ ، کلمه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د خیل ځان دپاره یم درم اسراف دی    چه په بل خونه ښندې بې اسرافی ده

« عبدالقادر ختټک »

تو اول کښېوول دزرو ښځې کاندې    ور کول بازل یې خوی خصلت دنرو

« عبدالقادر ختټک »

چه شجاعت کا دنیا په کف لری    نوم به دښکو په هر طرف لری

هر چه حاصل کا دا د واړه خوی به    هغه میراث دشاه نجف لری

« عبدالقادر ختټک »

که څوا نمردی بل آزار مکړه په گلو    ځان دښو دبدو تیرو ته کړه هدف

« عبدالقادر ختټک »

چه کښل خوروول بخښل کا ځوان هغه    چه تو ره لری د توري خان هغه

کان دلعل ودیا قوت و گوهر څه دی    چه احسان ترې پیدا کیږی کان هغه

چه نی ته په گړه وخورې حیطه شی    د مجلس سره چه خوړ شی خوان هغه

که دمال دی که دملك دی که د لیچو    چه نې توان دچا یکار شی توان هغه

په تما مه شپه په ورځی مباشتی کال کښی    چه د خدای په یادو در ومی آن هغه

چه دخوك دوړ اندی روستو ځی داخه شی    په تنها وجود چه شان شی شان هغه

و نور چاوته وران مه وایه خو شحاله !    چه قول عهد وران شو وران هغه

« خوشحال خان ختټك »

که پښتو ن شی گدا گر د کل جها ن    غگ نې تللی دی وډی دی تریو نان

هسی شه مهما ن نوا زه خلك نشته    لکه خدای چه پیدا کړ یدی افغان

که بهردرته مرزی شی خوپه کور کښې    له ادبه ځان میر نې کړی تا به خا ن

دهر چا ځای لهچه ور شې بې تکلیفه    کټ پو زی در ته تیار وی آش و نان

« میر احمد شاه رضوانی »

٥ ـ د پښتو نولی غرور :

زه له ځایه د ماغی په جهان را غلم    ماد هسې د ماغ سر ندی زا وړی

له اصلی فو لا ده هله تیغ ر غیږ ی    په وار وارچه ځنې لاړ شی و سنپخری

« خوشحال ختټك »

که زه گوری درد آشامو سره شماریم    خوار هغه چه نې لهما سره آهنگ دی

هر ملځی دسر بازی هنر څه زده    چه په دا هنر کښې سر ښندی پتنگ دی

لا تر او سه نی ماغزه په قرار ندی    چا چه ما سره و هلی سر به سنگ دی

د گیندیو په ځیگر کښې نې گولی دی    که لیدلی چا دما د ښکار تفنگ دی

لا په خوب کښې په لرزه پر یوزی له کټه    چه دچا ترغوز زما د توری شرنگ دی

که په دا د رومی گو رې هغه زه یم    چه مې داغ په خاطر ایښی داورنگ دی

در ست جهان مې ومغل و ته خبر کړ    ځای په ځای نې پښتانه وته فلنگ دی

ځنی څه اوپه دعوی لرم په زړه کښې    ولې څه کړم چه پښتون وارده بې ننگ دی

خو طالع را سره هسې مدد نه کا
دخو شحال دزړه دحال ننداره وکړه

چه زما د در وېزې په کچکول څیر شي

هسې رنګه له دې عالمه تنها خوښ یم
تر هغه چه خشک طینت د صحرا و یم
چه شاهد وي له اقبې و زي مګس شي
چه په شان د آفتاب نه ګرم روي
چه په قید یې د قفس کړم لکه زر که
که پیدا ر لکه تصویر له خوا به نه شو

جهان شرم نام و ننګ دی
چه وفاو رخه نښتنه
چه یې عشق تر سره کړې
په شاقلبو جهان ارت دی
چه خو شحال باندې نا ستی کا

اکوړی، یحیی، شهباز واړه سره زر وو
اکوړی، یحیی، شهباز واړه زمری وو

د ځا تم غوندې مې خیل و حشم نښته
سخاوت مې په تقلید په رسم ندی
په وګړی مې خبری د مړ دې شته

هر چه کاندې نوکري د باد شاهانو

مطیع الله له موره یلا ره هم سوال مکړه

در و یزه له در و یزه ګرو نا کسی ده
چه رښتیني سیده صاف نه وی حمید ه !

هسی فخر شمس الدین کاندې په عشق کښې

دروغ و یل هغه کا چه یې ویره وی یا طمع

ګڼه تېر تر فر یدونه مې فرهنګ دی
که په تخت دیاڅه کښېنې هم ملنګ دی
« خوشحال خټک »

دحاتم په ډزده به سهم د سوال پرې بووت
« عبد الحمید مهمند »

چه مدام لکه وحشي په صحرا خوښ یم
لکه موج او اره په دریا خوښ یم
کله زه د هغه خو ان په صلا خوښ یم
ستا په سر که په سایه د هما خوښ یم
تر دا هسي خنده از ه په ژړا خوښ یم
په دا حال له خپله بخته شیدا ! خوښ یم
« شیدا خټک »

که دا نه وی جهان رنګ دی
ګل به څه کړي چه خوشرنګ دی
نور خوک نښته خو پتنګ دی
په غو و لیو باندې تنګ دی
دا بو زي ندې اورنګ دی
« خوشحال خټک »

په خیل دور واړه و به تېر کړ خپل وار
زه هم نه یم د ګیدړ و په قطار
« خوشحال خټک »

په عطا کښې له حاتمه برابر یم
زه له حاتمه د سخی یا یا پسر یم
په همت کښې په هر لوری نامور یم
« خوشحال خټک »

خاصخا به د در بانو منت بار وړي
« عبد الرحمان مهمند »

سل بلا شر منده ګی دی په سوال کښې
« مطیع الله بیر خیل »

د فلک کچکول ته مه ښه کچکول
بو لی بو لی عالان دا هسی بول
« عبدالحمید مهمند »

لکه فخر کړی پښتنون په خپل نسب
« شمس الدین کاکړ »

خوشحال به دا اوندی حق به وا یې خوبې سر شته
« خوشحال خټک »

رومی ګڼلونه (۵۲۰) پ: سردار محمد : ح : سراج الدین : ر : محمد امین ن : رجب‌علی : ه : اجرائیه پښتو ټولنه ۲۷-۲-۲۶

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**